# خاطري:

## د يــوې دورې لنــډ تاريخ
## (1881_1869)

ليکوال
محمود طرزي

پښتو ژباړن
پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





## د کتاب ځانګړنې


د کتاب نوم :: خاطرې: د يوې دورې لنډ تاريخ) 1869_1881 (

ليکوال :: محمود طرزي

پښتو ژباړن :: پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ

خپرندوی :: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه _ جرمني

چاپ کال :: 1386ل ) 2007ع (

چاپ شمير :: 1000 ټوکه

د خپرونو لړ :: ) 99 (

کمپوز :: ذبيح شفق

**چاپ او کمپيوتر حی**

**د دانش خپرندويي ټولني تخنيکي خانګه _ پيښور**

***Tel:+92-91-2564513/Email:danish2k2000@yahoo.com***

(c) ketabton.com: The Digital Library



*د خپرندويې ټولنې يادښت :*

# د محمود طرزي د خاطراتو يوه
# په زړه پورې ټنډه

*د افغانستان په معاصر تاريخ کې د محمود طرزي د کارنامو او تاريخي نقش په اړه بيلابيلې ليکنې او څېړنې شوې دي . هغه د نوي افغانستان د تاريخ په مهم پړاو کې نه يوازې يو نوميالى ژورناليست ، ليکوال او شاعر و ، يو هيوادپال مبارز هم و .*

*دغه اثر چې اوس يې تاسو لولئ ، د محمود طرزي د ژوند د لومړي پړاو ځينې په زړه پورې پېښې په خپله څولى کې رانغاړي او ليکوال د خپل ژوند په اواخرو کې په ترکيه کې پيل کړى او څرنګه چې په همدغه وخت کې ناروغه شوى او بيا وفات شوى دى ، د ژوند خاطرې يې نيمګړې پاتې شوې دي . څه وخت مخکې دغه کتاب له دري ژبې ښاغلي حميد طرزي انګريزي کړى اوخپور کړى دى . سره له دې چې د دري متن د خپرېدو ژمنه يې هم شوې ده ، خو موږ ته يې لا د هغه متن د خپرېدو معلومات نشته .*

*نوميالي افغان مورخ پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ دغه اثر له انګليسي ژبې څخه پښتو کړى او دا دى د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا خپرېږي.*

*موږ خوشحاله يو چې دغه اثر د نوي افغانستان د جوړېدو د ۲٦۰ کليزې د نړيوال جشن په وياړ خپروو او د افغانستان د تاريخ مينه والو ته يې وړاندې کوو .*

په درنښت
د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د مشرتابه جرګه
د ۲۰۰۷ ع . د سپټمبر ځلورمه
د ۱۳۸٦ ل . د وږي ۱۳
جرمني ، د کولن ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو ژباړن سريزه

محمود طرزي (**1864_1934**) د فکر، ادب او شعر په ډګر کې د معاصر افغانستان يو ځلانده ستوری دی. دده د ژوند کيسه افغانانو ته الهام ښونکي او سرمشق کيدلی شي، خو دغه خاطرې د هغه د ټول ژوند پيښو په اړه نه دي.

دا د طرزي د لومړنۍ ځوانۍ خاطرې دي، چې له **1869** نه پيل کيږي او په **1881** کې پای ته رسيږي، ياني په هغه کال کې چې امير عبدالرحمن دی له خپلې ټولي کورنۍ سره له وطن نه بيرون کوي او په پای کې دوی ټول په عثماني سوريې کې هستوګن کيږي. طرزي بيا د شلمې پيړۍ په سر کې چې امير حبيب الله په بهر کې افغان مهاجران بيرته وطن ته بولي، خپل هيواد ته ستنيږي. په دغه وخت کې **47** کلن طرزي د امير حبيب الله په اجازه په کال **1911** کې د سراج الاخبار په چلولو پيل کوي.

طرزي د سراج الاخبار له لاري کوم هغه عصري فکرونه، چې په جلاوطنۍ کې يې له اسلامي او اروپايي سوچ والانو نه خپل کړي، خپروي. په تيره چې د ازادۍ او وطنپالني په پلوي او د امپرياليزم په مخالفت دي. د طرزي ليکني په تحول منونکو افغانانو باندي په خاص ډول اثر کوي. طرزي وروسته د پاچا امان الله په واکمنۍ کې لوړو دولتي مقامونو ته رسيږي او په دغه ډول د پاچا امان الله د سمون غوښتونکي او ژوند ښه کوونکي حکومت په چلولو کې هم برخه اخلي، ترڅو چې د **1930** کال په سر کې د ملايانو او پيرانو په لمسونو د ستنپالو افغانانو په فشار له پاچا امان الله سره يوځای د دويم ځل لپاره له خپل هيواد نه ايستل کيږي. په دغې تراجيکي پيښې سره د افغان لومړنی اوشتون پال، ژوند پال او خپلواکي پال غورځنګ ځپل کيږي او د حکومت واکې د يوې لنډې مودې لپاره د په شا تلونکيو او تر زياتې اندازې د نالوستو په لاس ورځي، افغانستان د عصريت او تمدن له کاروان نه کلونه کلونه بيرته غورزول کيږي او په دې ډول د وطن، ازادۍ او پرمختګ لپاره د پاچا امان الله او محمود طرزي ارمانونه وچ کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چې دمخه ويل شوي دغه خاطرې د محمود طرزي له لومړي مهاجرت او د پاچا امان الله په واکمنۀ کې د هغه له وندې او د دويم مهاجرت دورې نه، نه غږيږي که څه هم له ملي، مدني او سياسي نظر نه دا د هغه د ژوند ډير مهم وختونه دي.

حميد طرزی په خپلي سريزې کې وايي، چې ارواښاد عبدالوهاب طرزي تر 1911پوري د خپل پلار ژوند پيښي خيرلي او د قلم کوتو ته سپارلي. دغه برخه به له دې لامله مهمه وي، چې طرزي څنګه د مهاجرت په دوره کې له اسلامي او اروپايي متفکرانو نه متاثر شوی او کوښښ يې کړی، چې د وطنپالني، ملت پالني او ازادۀ په اړه د هغو او خپل فکرونه خپلو تحول منونکو وطنوالو ته ورسوي او په ژوندانه کې يې پلي کړي.

د طرزي له دغې خاطرې نه دغه هيله کيدلی نه شي. دا د هغه د اولي ځوانۀ خاطرې دي، په دغه وخت کې پيښو په ده اثر کړی، نه ده پر پيښو. په هغه سربيره د خاطرو يوه برخه يې د نورو په تيره د خپل پلار غلام محمد طرزي روايتونه دي. البته غته برخه يې د هغه د خپلو ليدنو کتنو محصول دی. بله دا چې ده دغه ټوله ليکنه د ژوند په ورستي کال )1933( کې له خپلي حافظي نه کړي، نه د ليکل شويو يادښتونو له مخې. په هغه وخت کې دی ناروغ هم و او دغه ناروغي بيا دومره سخته شوه، چې له ليکلو نه يې وغورزاوه او ژوند يې ورختم کړ. دده د زوی په روايت ده غوښتل، چې دغه خاطرې دده د ټول ژوند په اړه وي[1]. هغه دغه خاطرې هم په پنسل ليکې وي، چې ښاغلی حميد طرزي هغه بيا تنظيم او ايډيت کړي دي. په دغه حال کې لکه چې حميد طرزی هم وايي، د متن په رقمونو کې شايد مبالغه هم وي. له هغه نه پرته ددغې خاطرې د متن ځيني برخې د وخت له پيښو سره سر نه خوري. له دې لامله ما په لمن ليك کې دغه تيروتني لږ. څه په اوږده ډول سمې کړي او ځای ځای مې تبصري هم پري کړي دي، خو په دې کې شك نه شته، چې محمود طرزي ددغو خاطرو په ليکلو کې له رښتين توب نه کار اخيستی دی. څنګه چې محمود طرزي يو ماهر او پوخ ليکوال و، دده دغه خاطرې په زړه پوري او تبصري او نظرونه يې روزونکي دي. "د طرزي د رښتين توب څرګند ثبوت د هغه دغه وينا ده: له وطن نه ووتلو "...په دغه کاروان کې هيڅ يوه زما په ګډون د هيواد لپاره احساسونه، نه لرل."

طرزی دا هم وايي، چې "د برتانيي د نفوذ او قدرت په هسکيدو او په افغانستان کې د هغو په خوريدلو سره د هيواد پالني، ازادۀ او خپلواکۀ ايډيالونه د خلکو له ذهنونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــــه ورو ورو وتلــــي وو. دا ډيـــر وروســـته و، چـــي هغـــه بيرتـــه ژوندي شول."

پــــه دي كــــي شـــك نــــه شـــته، چـــي د هيـــواد پـــالني، ازادۀ او خپلواكـــۀ د ايـــډيالونو پــــه بيرتـــه ژونـــدي كولـــو كـــي د محمـــود طـــرزي ونـــډه دومـــره غتـــه وه، چـــي ســـارى يـــي نـــه ليـــدل كيـــږي. پـــه مجمـــوع كـــي محمـــود طـــرزي د خپلواكـــۀ، ازادۀ، عصـــريت او پرمختـــك پــــه اړه پـــه عمـــومي ډول د بـــدلون پـــالو او پـــه خـــاص ډول د مشـــروطه غوښـــتونكيو افغانـــانو پـــه رونولـــو او عمـــل تـــه د هغـــوى پـــه هڅولـــو كـــي غـــټ رول لوبـــولى دى. لـــه بـــده مرغـــه پـــه حاضـــر مهـــال كـــي دغـــه روحيـــه يـــو ځـــل بيـــا خفيفـــه شـــوي، اوس يـــوه بـــل محمـــود طـــرزي تـــه ضـــرورت دى، چـــي د هغـــي د بيرتـــه ژونـــدي كولـــو او پيـــاوړي كولـــو لپـــاره يـــو نـــوى پيـــاوړى غورځنك په پښو ودروي.

پـــه پـــاى كـــي لـــه محتـــرم پوهانـــد ډاكتـــر ابـــراهيم مجيـــد ســـراج نـــه مننـــه كـــوم، چـــي ددغـــي رســـالي انګريـــزي مـــتن يـــي ماتـــه ښښـــلى او خـــوښ يـــم پـــه دي، چـــي هغـــه مـــا د لوســـتونكيو لپـــاره پـــه پښـــتو اړولـــي او د ليكـــوال زريـــن انځـــور پـــه مشـــرۀ د كلتـــوري ودي ټولني خپره كړي ده.

په درناوي

پوهاند محمد حسن كاكړ

اكست **2007**_ كليفورنيا

يادښت:

**1**_ ښـــــاغلى عبـــــدالغفور روان فرهـــــادي، شخصـــــي مفاهمـــــه، اســـــتانبول، جولاى **2007**.

✲ ✲ ✲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انګريزي ژباړن سريزه

د محمود طرزي په هکله ډير څه ليکل شوي، په تيره د شلمي پيړۍ په لومړيو لسيزو کې د افغان ملت پالني، خپلواکۍ او عصري کيدو په موضوع ګانو باندې د هغه د ليکنو په اړه. ددغو په پرتله، د هغه د وروستيو څلورو کلونو په اړه لږ څه معلوم دي، چې په دوم مهاجرت کې يې تير شوي دي. دغه دوره د سمون پال پاچا امان الله له لويدلو نه وروسته وه، چې حبيب الله چې خلکو د "سقاو زوی" په نامه يادوه، ورته د پای تکی کيښود. دغې پيښې د طرزي هغه ارمان په سين کې لاهو کړ، چې د خپل هيواد د ځلاندې راتلونکي لپاره يې لاره.

سره له دې هم دغو کلونو ورته موقع ورکړه، چې خپلې لومړنۍ مينې )شعر( ته ځير شي. دی چې د خپل محبوب استانبول په ښکلا او کلتور هڅول شوی و، د شعرونو دوه ټولګې يې د "غم لړلي" او "مړاوي" په نومونو وليکلې، چې په کال **1934** کې خپرې شوي. په هغو کې د ورځې د مهمو ټولنيزو، سياسي او فلسفي مسئلو په اړه د هغه اندونه او احساسونه ځای شوي دي. لومړنۍ ټولګه د ليکونکي هغه کړاو او اغفال نه تښتيدلو ته په تينګه متوجه ده، چې د هغه د سمون او پرمختګ ارمان د ناپوهۍ او تعصب په شا تلونکيو قوتونو په خپګۍ بدل کړی و. دی چې په قومي او فيوډالي ټولني باندې په تينګه انتقادي و، ملايان يې په خاص ډول د بيرته پاتې توب د حال مسؤل ګڼل.

ددغو کلونو په بهير کې د هغه مشر زوی عبدالوهاب طرزي په پرله پسې، څو په نابريالي ډول ورنه هيله کوله، چې خپلې خاطرې د قلم کوټو ته وسپاري. بيا نو په پای کې په کال **1933** کې يوه ورځ هغه د خپلو خاطرو په ليکلو پيل وکړ. له بده مرغه د همدغه کال په نومبر کې په **68** کلنۍ کې مرګ ددې خنډ شو، چې هغه د خپل ژوندانه له لومړۍ برخې څخه چې **1869** نه تر **1881** پورې رسيږي، زيات څه وليکي. )د هغه د ژوند کيسه تر **1911** پورې چې په هغه کال کې د سراج الاخبار دوه اونيز اخبار چلول پيل کړل، د عبدالوهاب طرزي له خوا څيړله شوي او ليکلي شوي ده، چې زر به خپره شي.(

د طرزي د اولو وختو يادونه، چې د امير شير علي، امير محمد يعقوب او امير عبدالرحمن له واکمنيو سره سر خوري، تر **16** کلنۍ پورې وده کوي. دی د خپلې شې حافظي په ډاډينې د خپل ژوند هغه پيښې په زړه کوي، چې د هيواد له تاريخ سره اوبدلي شوي دي.

د محمود طرزي لومړنۍ ځواني په ډيره اندازه د هغه د پلار غلام محمد طرزي په عقلانې او هنري غونډو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغيزمنه شوي ده. پلار يې له تينګو دموكراتيكو فكرونو سره يو وتلى شاعر، اديب او ارستوكرات و. په وروستيو كلونو كې د عثماني فيلسوف او مولف احمد مدهت، څخه په ژور ډول اغيزمن شوى، بې له دې چې يې ورسره ليدلي وي. ده دغه وتلى ښوونكى يواځې د هغه له ليكنو نه پيژنده. دى چې څومره ډير وګرځيد او لوستل يې وكړل او له ځوانو تركانو، عقليانو او سياست كوونكيو سره يې د حكومت، ساينس او كلتور په موضوع كانو بحثونه وكړل، په همدغه اندازه د خپل هيواد، خپلواكۍ او پرمختګ ته ليوال شو. پوهني او سمون ته د هغه تينګې عقيدې دى په پاى كې وهڅاوه، چې خپل هيواد ته ستون شي او د خپلو وطنوالو د مانوي او اخلاقي لوړتيا لپاره كوښښ وكړي.

محمود طرزي نه درباري او نه سياس و، قدرت يې هيڅكله ونه غوښته، د استبداد او امپرياليزم مخالف و، په دغسې روښانه شوي اسلام معتقد و، چې سمون او ډيموكراسۍ ته اوړي او په دغه فكر و چې ختيځ له لويديځ نه ډير څه زده كولى شي، په تيره په ساينس او تكنالوجۀ كې.

ما دغه خاطري[1] ژباړلي او ايډيت كړي دي، نه يواځې ددې لپاره چې دا د ليكونكي او د هغه د زوى هيله وه، چې د يوه بيوګرافيك او تاريخي اثر په شان چاپ شي، بلكې ددې لپاره هم چې هغه له اوسني په غم لړلي بحران سره په څرګند ډول نسبت لري، چې افغانان ورسره مخامخ دي. زه هم په دغه فكر كې ځان شريك ګڼم، چې كه يو ملت په خپلې تيري ستركي پټې كړي او په خپل تاريخ كې د حقيقت په څيړلو كې پاتي راشي، له راتلونكي سره په باوري ډول مخامخ كيدلى نه شي.

د زړه له كومي نه هيله كوم، چې دغه ليكنه ددغه اريانونكي او په ظاهر كې نه پاى ته رسيدونكي بدمرغۀ ته د شي پوهاوي لپاره مرسته وكړي.

وحيد طرزى
جينوا، **1997**

يادښت:

*1_ ايډيت كول ددې لپاره ضروري وو، چې يواځې د متن له سره متوافق توب ښه كړي. په ياد دې وي، چې ليكونكى څه وخت چې دغه خاطرې كښلې، په ځان روغ نه و. دا هم بايد وويل شي، چې ځينې رقمونه چې يواځې د ياد له مخې ليكل شوي، ممكن د مبالغې په خوا روان وي. غواړم خپل وطنوال خبر كړم، چې هغوى چې انګريزي لوستلى نه شي، ددغه متن فارسي نسخه د چاپيدو لپاره د تيارې په حال كې ده.* ❋ ❋ ❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپرندويې ټولنې يادښت :

## د محمود طرزي د خاطراتو يوه په زړه پورې ځنډه

د افغانستان په معاصر تاريخ کې د محمود طرزي د کارنامو او تاريخي نقش په اړه بيلابيلې ليکنې او څېړنې شوې دي . هغه د نوي افغانستان د تاريخ په مهم پړاو کې نه يوازې يو نوميالی ژورناليست ، ليکوال او شاعر و ، يو هيوادپال مبارز هم و .
دغه اثر چې اوس يې تاسو لولئ ، د محمود طرزي د ژوند د لومړي پړاو ځينې په زړه پورې پېښې په خپله ځولۍ کې رانغاړي او ليکوال د خپل ژوند په اواخرو کې په ترکيه کې پيل کړی او څرنګه چې په همدغه وخت کې ناروغه شوی او بيا وفات شوی دی ، د ژوند خاطرې يې نيمګړې پاتې شوې دي . څه وخت مخکې دغه کتاب له دري ژبې ښاغلي حميد طرزي انګريزي کړی اوخپور کړی دی . سره له دې چې د دري متن د خپريدو ژمنه يې هم شوې ده ، خو موږ ته يې لا د هغه متن د خپريدو معلومات نشته .
نوميالي افغان مؤرخ پوهاند ډاکټر محمد حسن کاکړ دغه اثر له انګليسي ژبې څخه پښتو کړی او دا دی د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا خپريږي .
موږ خوشاله يو چې دغه اثر د نوي افغانستان د جوړيدو د ۲٦۰ کليزې د نړيوال جشن په وياړ خپروو او د افغانستان د تاريخ مينه والو ته يې وړاندې کوو .
په درنښت

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د مشرتابه جرګه
د ۲۰۰۷ ع . د سيپتمبر څلورمه
د ۱۳۸٦ ل . د وږي ۱۳
جرمني ، د کولن ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لوی او ښښونکي خدای په نامه

# پيلامه

ددې لپاره چې په هغې کيسې ښه پوه شئ، چې زه يې دلته کوم يوه لنډه ليکنه به د خپل محمدزيي قوم په اړه وړاندې کړم، چې له **1826** نه يې تر **1979** پورې پر افغانستان حکومت کړی دی(1). دغه ليکنه چې له تاريخ او ژوند ليك څخه غړيېږي په زياته اندازه زما له خپلو يادونو او د هغو روايتونو له مخې برابره شوې، چې له خپل پلار نه مې اوريدلي دي.

## د محمدزي قوم لنډ تاريخ او غوره شوی ژوندليك

سردار پاينده محمد هغه نيکه دی، چې زامنو يې پر افغانستان حکومت کړی دی. له بيلو بيلو ښځونه د هغه له يوويشت زامنو نه يو څو زما په ياد پاتې دي.

وزير فتح د شاه محمود د وزير په توګه په ټه کوښښ کاوه، چې واك خپل قوم ته وليږدوي. له خپل مقام نه په استفادې سره يې خپل ځينې ورونه په ټولې امپراتورۍ کې واليان وګومارل. سردار محمد عظيم د کشمير والي و.

امير دوست محمد وروسته له هغه چې د سدوزي امير واکمنې پای ته رسيدلي او کابل او جلال اباد د انګريزانو له خوا نيول شوي وو، د هغو له خوا په لوديانه کې بندي شو، خو د انګريزانو پوځ په کابل کې د وزير محمد اکبر، د نورو سردارانو او قومي مشرانو په کوښښ سره پوپناه شو او يو شمير نظامي افسران او ښځې يې يرغملي شوي(2). انګريزانو موافقه وکړه، چې امير دوست محمد به د افغانستان د امير په توګه د يرغملو د ازادولو په بدل کې خوشې کړي.

هغه پينځه کندهاري سرداران، چې يو په بل پسې په کندهار کې په واك شول دا دي:

سردار پردل تر ټولو مشر و.

سردار شهر دل په ځوانۍ کې مړ شو.

سردار کهندل په کندهار کې کلونه کلونه واکمني وکړه.

سردار رحمدل يو نوميالی شاعر و.

له ادبياتو، په خاص ډول له شعر سره زما د پلار لومړنۍ پيژندګلوي د هغه د غونډو له برکته و. سردار رحمدل يوازې د شيرو مياشتو لپاره واکمني وکړه. د هغه او د هغه د وريرو ترمينځ )د کهندل زامن( پرله پسې شخړو ديته اړ کړ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور امیر دوست محمد د مینځکړي په توګه راوبولي. امیر کندهار ته په چټکۀ سره روان شو او پیاوړي زامن یې ورسره ملګري شول، خو هغه ددې پرځای چې د تره او وریرو ترمینځ روغه وکړي، کندهار یې په کابل پورې وتاړه. رحمدل فارس ته وتښتید او وروسته په تهران کې مړ شو. د هغه زوی، زما پلار غلام محمد طرزي له امیر سره کابل ته لاړ، هلته یې په درنښت او شتمنۀ سره ژوند وکړ، تر هغو چې امیر په هرات کې مړ شو او زوی یې شیر علي چې د پلار پرځای امیر شو، دی بندي کړ)[3](.

سردار سلطان محمد او سردار یار محمد )د پېښوري سردارانو دوه تنه(

لومړنی په "طلايي سردار" یادیده له دې امله چې هم ښکلی و او هم یې په سرو زرو ښکلي شوي جامي په تن کولي. د اټکل له مخې سل ښځې او تر خپل پلار او امیر ورور څخه ډیر زامن او لوني لري.

## د هرات محاصره او د لوی امیر مړینه

امیر دوست محمد چې د "لوی امیر" په لقب یادیده، له هرات پرته چې له کابل نه خپلواک و، ټول ولایتونه ترلاسه کړل او خپل زامن یې والیان وټاکل)[4](. د بیلګې په ډول ترکستان یې یوه زوی سردار محمد افضل او کندهار یې بل زوی سردار محمد امین ته په لاس ورغی.

د هغه د واکمنۀ په وروستیو کلونو کې په هرات کې د کورنیو شخړو له امله د هغه وراره او زوم سردار سلطان احمد د فارس په ملاتړ هرات ونیوه. دغه نه فکر کیدونکي انکشاف امیر ته سخت ټکان ورکړ او خپه یې کړ. سمدلاسه یې په پوځي کړو لاس پوري کړ او هري خوا ته یې فرمانونه واستول. د خپلو زامنو، د شیر علي او وریرو په ګډون )چې زه غلام محمد هم پکې وم( د یوه لوی پوځ په قوماندانۀ د هرات په لور په چټکۀ سره روان شوو. پر هغه سربیره د هغه زامن، والیان له خپلو ایالتي پوځونو سره هم ورسره ملګري شول.

دا چې دغه تیری د فارس له خوا شوی و او حکومت یې ملاتړ کړی و، دغې سیاسي مانا ورکوله چې امیر یې د ځپلو په هوډ کې ښه تینګ کړ. برتانویانو هم دغه انکشاف د خپلو ګټو پرخلاف ګڼه.

هرات نهه میاشتي کلابند و او نشتي به هره ورځ وي بیا د سلطان احمد ماینه مړه شوه، ورپسي یې میړه هم مړ شو. زامن یې تسلیم شول او هرات ونیول شو. له بده مرغه لږ وروسته امیر هم مړ شو. امیر د مړیني په ورځ )**1863**( چې سرداران او لویان هم ورسره وو، په شیر علي باندي غږ کړ چې خواته یې ورشي. په لړزیدونکو لاسونو یې خپله توره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شير علي تر ملا وتړله او په خپل نري اواز يې پاچا اعلام کړ، ښه يې ونازاوه او د برياليتوب لپاره يې ورته دعاګاني وکړي، خو همدا چې د جنازي او فاتحي مراسم پای ته ورسيدل، هر زوی يې له خپل پوځ سره د خپل ولايت په لور روان شو او د حيرانۀ ځای دی، چي هر يوه يي ځان امير وباله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امير شير علي خان دوهمه دوره
# (1879_1868)

ددغې لسيزې لومړنى ياد مې له هغې پېښې نه پيل كيږي، چې زه نږدې پينځه كلن وم او امير امبالي ته د هند په لور روان و. لږ مې ياديږي، چې يوه ورځ نابېره يو درجن شډل او ږيره ور سرتيري او افسران زموږ په كور ننوتل او د بامونو او ورونو لارې يې ونيولې. زما خويندې، وينزې او د كور ښځې له يوې كوټې نه بلې ته استولې كيدلې، ددې لپاره چې د ټول كور چور كيدل اسان شي. زه د خپلې دايې په غيږ كې وم او په پرله پسې ډول مې پوښتله، چې "سردار پلار مې چيرې دى؟" او "دوى ولې زموږ څيزونه ټولوي؟". هغې ويل چې پلار دې د امير دليدلو لپاره تللى او دوى دغه څيزونه زموږ نوي كور ته وړي. هغې يواځې كوښښ كاوه، چې ارام مې كړي.

په واقع كې دا د امير په امر و، چې پلار مې بندي شوى او زموږ كور او اتكل سل اسونه ضبط شوي وو. له وړوكتوب نه ما له خپل پلار سره ژوره مينه پيدا كړې وه، په واقع كې زه د خپلې مور تر غيږې نه د خپل پلار په غيږ كې ډير لوى شوى يم. لكه هسې چې هيله كيده مور مې په سبا د خپل لالا په غيږ كې د پلار د ليدلو لپاره بندي خاني ته واستولم. اقچان يو اوږد، نرى او تور ږيرى كندهارى و، چې كلونه له موږ سره و، نو ددې پرځاى چې زه پر خپل ښكلي، ځليدونكي، برك تبتي اس سپور اوسم د خپل لالا اقچان په اوږو باندې د بالاحصار بندي خاني ته د امير هستوگنځي او د حكومت مركز ته يووړل شوم. هلته مې خپل پلار وليد او ډاډه شوم.

دغه ورځنۍ ليدنې له سهار نه تر ماښامه پورې درې مياشتې روانې وې. دغه بندي خانه مې ښه ياديږي چې د امير هستوگنځي ته نږدې يوه پراخه كوټه وه، ځينې نور لويان هم په دغې كوټې كې د پلار ملگرى وو. دوى خپل وخت د كتابونو او شعرونو په لوستلو او ويلو تيراوه. د ملگرو او خپلوانو د سخي توب له بركته په كوټه كې پلاوونه او شير چاى پريمانه وو. د هغو چرگ پلوونو مزه به مې هيڅكله هيره نه شي، چې پلار به مې له مخكې شپې نه ماته ساتل او زما په راتګ سره به يې د منقل دپاسه تودول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امير شير علي له امبالي نه له بيرته راتك نه وروسته زما پلار ازاد كړ او د مياشتي يو نيم زر روپۍ يې ورته معاش وټاكه. يوه شييه وروسته به د هغه د بندي كيدلو دليل ووايم، اوس به د امير د ورونو د سرايله توب په اړه خه ووايم.

امير شير علي وروسته له هغه، چې په هرات كې نظم خوندي كړ، زما له پلار سره كابل ته ستون شو. په دي ډول د امير دوست محمد د زامنو او لمسيانو ترمينځ د شخړو او نشتو اور بل شو. د امير شير علي او د هغه د ورونو محمد افضل، محمد اعظم او محمد امين او د هغه د وراره سردار عبدالرحمن )د محمد افضل زوى( ترمينځ په پرله پسې ډول كلونه جنګونه وشول. كله سوبمن او كله مغلوب، امير په پاى كې په ټولو غالب شو، ولايتونه يې په كابل پوري وتړل او د هيواد د اداره كولو چاري يې په لاس كې ونيولي. دددغو خونړيو كورنيو او تر هغو دمخه جنګونو كې چې له سدوزيانو سره وشول، په زرګونو خلك ووژل شول او هيواد وران شو. په هغه سربيره په خلكو كې دښمني او ژوره بدبيني پيدا شوه. د بې اتفاقۀ دغې بدمرغۀ تر نن ورځې پوري دوام وكړ او زما د پلار بندي توب د همدغه حال نتيجه وه. په لا مشخص ډول په **1866** كې چې امير شير علي په هرات كې و او سردار محمد افضل او زوى يې عبدالرحمن كابل نيولى وو، طبيعي وه چې زما پلار د هغوى د دوستي ليكونو ته ځواب وركړى و. څو كاله وروسته )په **1868** كې( چې شير علي كابل بيرته ونيوه، ځينو خبرلوخو دغه ليكونه هغه ته وركړل او نتيجه يې هغه شوه، چې دمخه بيان شوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امير شير علي په دوره کي "وړوکتوب او ځواني"

ددغو يوولسو کلونو په بهير کي چي زما پلار د دربارد درانده مسوؤليت له بار نه ازاد و، خپل وخت د چاردهي په بڼو او د کابل په کورونو کي له شاعرانو او پوهانو سره تير کړ او د ښکلو صنايعو په نړۀ کي مجذوب و. ما او زما ورونو د اخوند محمد اکرم په نامه يو کورنی ښوونکی لاره، چي ښه متقي او د پوهي او مروجه علومو خاوند و، خو زما د پوهني رښتيني سرچينه زما د نوميالي پلار غوندي وي، چي زه به تل پکي وم او په ځير به مي غوږ نيوه.

پلار مي دغسي يو ښه شتمن کتابتون لاره، چي په هغه کي داسي اثرونه وو، چي ځيني يي په سرو زرو ښکلي شوي وو، ځيني يي زاړه او ځيني يي نوي وو. پلار به وړ کاتبان استخدامول او څارل، چي اوله درجه پخواني کتابونه نقل کړي. ماته اجازه وه، چي دغه کتابونه واړوم راواړوم او پخوانيو اوله درجه اثرونو ته لکه د عبدالرحمن جامي، يوسف زليخا او د فردوسي شاهنامه يا پاچا ليك ته ښه ځير شم.

## د کجباز يا د غلزي کلات جنګ

دغه جنګ هم زه د خپل پلار له قول نه بيانوم. د **1863** کال په پای کي امير شير علي له کابل نه د کلات په نيت له نږدي ديرش زريز پوځ سره روان شو، چي خپل کشر ورور سردار محمد امين ته جزا ورکړي، چي غوښتل يي د کندهار د والي په ځير کندهار له کابل نه په خپلواك ډول اداره کړي)4الف(. د پوځ قوماندانی د امير د زوی محمد علي، چي يو ښکلی ځوان و، په غاړه وه.

د جنګ ميدان د دوو غونډيو ترمينځ و، د توپخاني ځيني واحدونه د يوه بي تجربه افسر له خوا په ډډه کي په ناسم او خطرناك ډول ځای پرځای شوي وو. محمد امين د امير په ځايونو ناڅاپه حمله وکړه، د امير زوی په متقابلي حملي لاس پوري کړ، خو په بي پروايي او زړه نازړه توب سره د هغه بدقسمته اس د دوو غونډيو ترمينځ په منډو شو. متقابل پوځونه لا پوره سره نشتي نه وو، چي د دري په دواړو غاړو کي له ځای پرځای شويو توپونو نه ډزي وشوي. په دغه حال کي طبيعي وه، چي محمد امين او محمد علي دواړه له ډيرو افسرانو سره مړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنــدهار ونيــول شــو، خــو اميــر تــه پــه ډيــر تــاوان ســره. د زوی او ورور مــرك ورتــه دغــومره دردنــاك شــو چــي د څــه وخــت لپــاره يــي فکــر لــه لاســه ورکــړ. دري مياشــتي پــه کنــدهار کــي تــم شــو، بــي لــه دي چــي حکــومتي چــارو تــه توجــه وکــړي. د شــپي بــه پــه لوڅــو پښــو د حويلــۀ پــه ويــالو کــي روان شــو، ژړل بــه يــي چــي "محمــد علي څه شو؟" ده د ليونتوب نوري نشي هم شوولي.

## د وليعهدۀ جشن

اميــر ټــول ملــت تــه د نهــه کلــن پاچــا زوی عبــدالله جــان دوليعهــدتوب د مراســمو پرځــای کــول اعــلام کــړل. دا يــوه ډيــره غټه پيښه وه، چي په ذهن کي مي پاتي ده.

د مرنجــان غونــډۀ او تــر هغــي نــه اخــوا ډګــر چــي د بالاحصــار لانــدي ده، ددغــه جشــن لپــاره غــوره شــوي وه. پــه ســباوون کــي د ســرنيو، ډهلونــو او شــپيليو اوازونــه ســره پــه ســيالۀ شــول او جشــن پيــل شــو. قــومي خلکــو د غونــډۀ ســر او ډډي نيــولي وي او دوی پــه ښــکلونو او ژبــو کــي ســره متفــاوت وو. د عســکرو کنډکونــه پــه رنګــه يونيفورمونــو کــي پــه ټــول حضــوري چمــن کــي تــر بــازارونو او ســړکونو پــوري خــواره وو. ســرداران او ميرمنــي يــي او نــور مشــران پــه پاچــايي لــويي خيمــي يــا څرګــاه کــي پــه ضــيق ډول ټــول شــوي وو. پــه يــوه ټــاکلي وخــت کــي د عســکري موســيقۀ د ســلامونو او د ټوپونــو لــه ډزو او د ننــدارچيانو لــه حرکتونــو نــه ښــکاره وه، چــي د اميــر د راتللــو وخــت دی. اميــر چــي وليعهــد ورســره ملګــری و، د ګڼــو خلکــو د خوښــۀ پــه ميــنځ کــي پــه عــالي شــان ډول ښــکاره شــو. ســيخ خپــل تخــت تــه لاړ او زوی يــي ترڅنګــه ودريــد. بيــا نــو ټــول خلــك يــا لــه احتــرام نــه او يــا ددي لپــاره چــي ښــه وليــدلی شــي، جــك شــول او هماغســي ولاړ پــاتي شــول، کــه څــه هــم اميــر غوښــتل چــي خپلــه وينــا واوروي. خلکــو تــه يــي ويــل، چــي کينــي او د دربــار مــامورانو کوښــښ کــاوه، چــي خلــك د اميــر حکــم پرځــای کــړي. ســره لــه دي هــم دی اړ شــو چــي اټکــل د پينځلســو دقيقــو دپــاره ولاړ پــاتي شــي. وروســتی کــس چــي کيناســت، هغــه زمــا پــلار و او د هغــه خبــره مــي پــوره يــه يــاد ده، چــي ويــل يــي:"پــه دي کــي شــك نــه شــته، چــي تــر ولاړي نــه پــه ناســته کــي ارامــي ډيــره ده، خــو ســره لــه دي هــم د لــوړ حضــرت امــر پــه دغســي مشــکل ســره ومنــل شــو، چــي شــك پيــدا کــوي چــي دغه وليعهدتوب به په اسانۀ سره ومنل شي."

اميــر پــه فصــاحت ســره وينــا وکــړه او خپــل نهــه کلــن زوی ســردار عبــدالله جــان يــي خلکــو تــه وپيژنــده. د مبارکــۀ او خوښــۀ اوازونــو هــوا ډکــه کــړه، عســکري موســيقي پــه خــاص ډول امير او د هغــه وليعهــد تــه ســلامونه اســتول او مراســم د ټوپونــو پــه ډزو سره پای ته ورسيدل.

پــه پاچــايي فرمــان ســره دري ورځــي د ټولــو لپــاره د جشــن ســات تيــري، تنــګ تکــور او څراغــي روښــانتيا نــه يــواځي پــه کابــل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې په ټولو ولايتونو کې اعلام شوی و، خو په هرات کې چې د امير مشر زوی سردار محمد يعقوب چې د هغه ولايت والي و، د خپل پلار په مقابل کې د جنګ اعلام وکړ. امير په چل او غولوونکو وعدو او د قران مجيد په لوړې کولو سره خپل زوی قانع کړ، چې کابل ته راشي. هغه همدا چې کابل ته ورسيد، په بندي خانه کې واچول شو. په هر حال، قسمت داسې و چې هغه به تر ډيرې مودې ژوندی وي. امير يو څو کاله وروسته مړ شو.

## د ډيرو ماينو د لرلو مصيبت

دلته زه له دينه ډډه کولی نه شم چې د افغان د اميرانو او پاچايانو په منځ کې د خو ښځو لرلو پر موضوع باندې بحث ونه کړم، چې د هيواد د بربادۀ لوی علت شوی دی. که دا د شريعت او رواج له مخې د څلوروښځوموضوع وای مهم به نه وای. له بده مرغه دوی له شلو نه تر سلو پورې ښځې کړې او کنيزې لرلې دي او دوی ټولو بې شميره زامن او لوڼې لرلې دي. هر نوې زوکړې زوی ته سردار ويل کيده، چې وينځې، مريان، ناظران او حتی شخصي ساتونکي يې په خدمت کې وو. په دې ډول هغه د نالوستو او ناپوهو نوکرانو تر اثر لاندې لوييده.

څرګنده ده، چې په دغسې چاپيريال کې ماينو به تل د يوې او بلې په برابر کې کينه، رخه او بدګوماني شووله. سيالي ګاني او کرکې په عادي ډول له مريو او ناظرانو نه پيل کيدلې او په بې بې يانو به ختميدلې او بيا به يې سردارانو او وړو اشرافو ته سرايت وکړ، چې نتيجه به يې د قدرت او ميراث په سر زياتيدونکې بدې او دښمنۀ شوې. تاريخ په دې اړه د تيمور شاه سدوزي او محمدزي اولادونو ترمينځ د شخړو ډير شواهد په ګوته کوي، چې دوی په پرله پسې ډول يو بل ړانده کړي او وژلي دي.

## د روسي استازي د رارسيدلو مراسم

**1878** کې د روسي استازي جنرال ستاليتوف رارسيدل زما د ځوانۀ بله غته پيښه وه. په دغه مناسبت عسکرو ته نوې دريشې ګانې ورکړل شوې او سړکونه ترميم او هوار شوي وو.

يوه غرمه زه له خپل پلار او د هغه له دوستانو سره ملګرى شوم، دوی روان وو چې دغه مراسم ووينې او هم د اسه مايي غره په ډډه کې په باغونو کې توت وخوري. نوکر او د چايو ناظر د توت د يوې ونې او سپيدار لاندې يو ډير ښه ځای غوره کړی و، له هغه ځای نه هغه سړک په ښه ډول ليده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيده، چې دغه استازی به پري روان وي. په چاينکو کې شيرچای او په پتنوسونو کې بې دانه او ابراهيم خاني توت د خوړلو لپاره تيار وو. خلك له هري خوا نه راتلل او په باغونو، د اسه مايي په ډډو او د سړکونو په خواوو کې يې ځايونه نيول. دوی د توتانو له خوړلو او د رباب او سندرو له اوريدلو نه خوند اخيسته. د خوړو، کباب، ماهي او وچو ميوو د غرفو د کټي او سوداګرۍ توده ورځ وه، ځينو ډلو د شو خوړو، نڅاګرو هلکانو او نجونو او د يو خه ښلو باتي وهلي[5].

خاشت و، چې د ترم اواز جګ شو او عسکرو او خلکو د مخي ليکونو ته د رسيدلو کوښښونه پيل کړل. د ډهلونو اواز او د دوی د خاصو لنډو ترمونو ښه ايسيدونکو اوازونو د سورو د رسيدلو نښي وي. د هر واحد ځانګړي جامي او وسلي د هغه د قوم يا سمت نښه وه. يوه شيبه وروسته استازی ښکاره شو، چې په يوه لوی پيل سپور و او هره خوا يې په ښه يونيفورم کې د پليو عسکرو يو ټولی روان وو. دی په يوه لوی نقره يي رنګه کجاوه کې د امير د يوه ورور ترڅنګه ناست و. د دواړو يونيفورمونه ډير ښکلي وو. نورو سردارانو او په پيلانو سورو قومندانانو او سورو مشرانو[6] دغه ننداره پای ته ورسوله.

په هغه وخت کې زه ددغه سفر په سياسي اهميت نه پوهيدلم، سره له دي هم له هغو بحثونو نه چې زما د پلار او د هغه د ملګرو ترمينځ وشول او اوس چې زه هغه له خپلي اوسنۍ پوهاوي سره پرتله کوم، زه يوي موقتي نتيجي ته رسيدلی وم.

ما زده کړه چې لوی پيتر خپلو ځای ناستو ته وصيت کړی و، چې د روس حکومت چې څومره کولی شي بايد هند ته ځان ورسوي، چې د نړۍ خزانه ګڼله کيږي، چې بيا په مناسب وخت کې د هند ټوله نيمه وچه ونيوله شي او په دي ډول د نړۍ د لاندي کولو لپاره بيرغ جك کړي. له دغه وصيت نه وروسته روسانو له پيترزبرګ او مسکو نه ورو ورو ځانونه د امو سين غاړي ته رسولي دي[7]. له بلي خوا برتانويانو حتی تر روسانو نه دمخه چې د پيتر وصيت عملي کړي ټول هند نيولی او د نورو ملکونو په لاندي کولو پسي وو. په هغه سربيره دوی له شاه شجاع او امير دوست محمد سره د تړونونو په کولو سره افغانستان په تيره په باندنيو اړيکو کې تر خپل نفوذ لاندي راوستي و. افغانستان له نورو ملکونو په تيره له روسيي، فارس او عثماني ترکيي سره په نيغه اړيکي لرلی نه شول، نو هغه نيمه خپلواك دولت و، داخلي خپلواکي يي لرله خو په باندنيو اړيکو کي د برتانيي تر حفاظت لاندي و[8].

داسي ښکاري، چې زموږ امير د وضعي په درك سره د کوتي، بلوچستان، خيبر او چترال په لور د انګريزانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمختکونـــو نـــه پـــه ويـــره کـــې وو[9]. دی لـــه روســـانو ســـره شـــايد کـــومې پوهـــاوې تـــه رســـيدلی و. دا چـــې اميـــر پـــه جـــديت او چټـــک تـــوب ســـره دايمـــي پـــوځ تنظـــيم کـــړ، شـــايد د جنـــګ د حتمـــي تـــوب مانا ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له انګريزانو سره جنګ
# (نومبر 1878)

کابل له اوازو او پرقهاري نه په جوش کې و، خلك وارخطا او انديښمن شوي وو، هري خوا ته روان وو، سرتيري د ميړيانو په شان کرځيدل، د توپ کارخانه شپه او ورځ چالانه وه او د عسکرو ټولي ټولي د سرحد په لور په حرکت وو. برتانويانو جنګ اعلان کړی او په څو جبهو کې رادمخه کيدل. په ټول ملك کې خلك ددغه سپيڅلي جنګ پايلي ته سترګي په لار وو. بيا نو يوه ورځ ښار په واويلا او ژړا کې ډوب شو. د جنګ له جبهو نه ناوړي خبرونه راتلل، د امير پوځونه يو په بل پسي مات شوي وو. ځيني يي لا دمخه کابل ته بيرته راتلل، هيبتناك خبرونه د انضباط په نه شته والي سره پوځونه له کنترول نه ووتل، خلك ووهل شول او دکانونه چور شول. په ټول ښار کې قحطي پيدا شوه، د نرخونو له لوړيدلو او د مالي بحران له بديو سره د څلورو روپيو ماليي له امله )د شيرپور په ودانيدلو سره د ډيريدونکي پوځ او دولتي ادارو لپاره( چي دوه کاله دمخه حواله شوي وه، خلکو کيلي او ماني کولي او سختي پري راغلي وه. اوس چي له لوتيدلو نه ويريدل خپلي شتمنۍ او کالي يي په انګړونو کې خښول.

خلك هره ورځ د امير قصر په مخ کې غونډيدل او چيغي يي وهلي، چي "زمری ځوان خوشي کړه." د دوی مطلب سردار محمد يعقوب و، چي په بالاحصار کي بندي و.

برتانويان وار په وار رادمخه کيدلو جلال اباد يي ونيوه او ګندمك ته ورسيدل. بيا د کندهار د سقوط خبر ورسيد. امير نه پوهيده چي د حل لار به کومه وي؟ ده نور وسايل نه لرل، چي مقاومت وکړي. عسکر وارخطا او سرايله وو، خلك اريان دريان وو، اعتراضونه يي کول او خزانه هم خالي وه. هغه بله لاره نه درلوده، خو دا چي ترکستان ته لاړ شي. لومړی يي کورنۍ، سامانونه او ډير عسکر هغي خوا ته واستول، بيا يي يو سبا لوی دربار جوړ کړ او يعقوب يي د وليعهد په توکه په پاچايي جامه کې ورانډي کړ. يوه اوږده وينا يي واوروله، چي د هغي يو تکی مي هم په ياد کې نه دی پاتي. بيا په دغسي کجاوه کې ننوت، چي څلورو کسانو کشوله او په ډير غضب سره روان شو.

کابل ښار ته په لار کې دلته او هلته خلکو ته، چي د لارو په غاړو کې د خدا په امانۍ لپاره ولاړ وو، وويل چي "تاسي زمری ځوان غواړئ، ښه ده هغه لرلی شئ خو په دي کې زما شك دی چي تاسي به هغه په هغه ډول وپيژنئ، چي زه يي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيـــژنم." هغـــه دا هـــم وويـــل چـــي "انګريزانـــو زمـــوږ د ازادۍ او خپلواکـــۍ حـــق نـــه دی منلـــی او پـــه مريـــي تـــوب کـــي مـــو غـــواړي. زه هـــم ددي لپـــاره چـــي لـــه روســـانو ســـره يـــو شـــم چـــي مـــالي او نظـــامي مرسته ترلاسه کړم، چي بيا راوکرځم او خپل انتقام واخلم."

کلـــه بـــه يـــي ژبـــه دغـــومره زيـــږه شـــوه، چـــي ويـــل بـــه يـــي "مـــا د تاســـي ځلـــور بولـــو ځنـــاورو د ازادۍ لپـــاره لـــه دښـــمن ســـره جنـــګ کـــړی، چـــي تاســـي، دغـــه او هغـــه د خپـــل وطـــن لايـــق نـــه يـــي او د عـــزت پـــه مانـــا نـــه پـــوهيږئ؟ لـــه مـــا ســـره مـــو پـــه خپلـــي شـــتمنۍ او ژوند سره له همکارۍ نه ډډه کړي ده."

پـــه هـــر حـــال، اميـــر شـــير علـــي، د هغـــه ملکـــه (د اروابښـــاد وليعهـــد عبـــدالله جـــان مـــور) او د ســـفر نـــور ملګـــري مـــزار شـــريف تـــه پـــه ترکســـتان کـــي ورســـيدل. څـــه وخـــت وروســـته د هغـــه اوږدي ناروغـــۍ کـــاني توبرکلـــوز او نقـــرس چـــي کلونـــه يـــي اړ کـــړی و، پـــه کجـــاوه کـــي د کـــرزي سمدلاســـه پـــه دغســـي زور ســـره فعـــال شـــول، چـــي پـــه څـــو ورځـــو کـــي يـــي لـــه ژونـــد نـــه بـــي برخـــي کـــړ. (فبـــروري ، 21، 1879)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امير شير علي واکمنۀ ته يو نظر

اوريـدلي مـې دي چې امير يو مدبر واکمن او د پرمختـګ او تمـدن پـه لـور متمايـل و. د خپلـې واکمنـۀ پـه يوولسـو کلونـو کـې يـې مهـم کارونـه ترسـره کـړل. د بيلګـې پـه ډول پـه بالاحصـار کـې يـې د پاچـازيو او د هغـو تربورانـو لپـاره د عصـري هنـر ښـوونځي پرانيسـتلي وو. داسـې يـې هـم د لويـانو يـوه شـورا جوړه کړه چې په حکومتي چارو کې ورته مشوره ورکړي.

د منشـي عبـدالکريم پـه مشـري يـې د وسـلو ماشـين خانـه جـوړه کـړه، چـې پکـې توپونـه، ټـوپکونـه، نيـزې، تـورې، جنګـې يـا فلـزي خولـۍ او لاسـي بمونـه (Grenades) جوړيـدل. پـه زيـاترو خلکـو کـې يـې د عسـکري جلـب طـرز رواج کـړ او د پـوځ اتيـا کنډکونـه يـې تيـار کـړل. هـر کنـډك لـه اتـه سـوه عسـکرو نـه جـوړ وو. د هغـو يونيفـورم د اروپـا د ځينـو هيوادونـو د يونيفـورم پـه تقليـد و. څنګـه چـې د افغانسـتان د نظـامي مهـارتونو لومړنـۀ سـرچينه د هغـه ختـيځ ګاونـډي (هنـد) و، نظـامي روزنـه د برتـانيي د نويـو معيـارونو لـه مخـې وه. افغـان عسـکر پـه هغـه سـويه نـه وو، چـې برتـانوي عسـکر وو او نـه يـې هـم د هغـو پـه شـان وسـلې لرلـې. د هغـه روزنـې عملـي ماهيـت درلـوده او لـه نظـامي سـاينس نـه خبـر نـه وو. لـه بـده مرغـه د پـوځ اداره او سـاتنه د سـورو د امـر احمـد پـه لاس وه، چـې يـو بدمزاجـه سـړی و او پـه اداري چـارو نـه پوهيـده. د اميـر سياسـت دا و، چـې د ملکـي او نظـامي مـامورانو زيـاتره يـې د غلزيـو لـه خيلونـو څخـه وي. لـه محمـدزيو سـره يـې چنـدان جـوړه نـه وه. کابـل پـه دغـو ورځـو کـې يـو نظـامي ښـار و، هـر چيـرې اوازونـه، مارشـونه او ترمونه اوريدل کيدل.

اميـر کـه څـه هـم پـوره ليـوال او د ننـګ خاونـد و، بدمزاجـه هـم و، سـپکي سـپورې يـې ويلـې او ملنـډې يـې وهلـې. لـه اسـونو سـره يـې ډيـر شـوق لاره. پـه دې اړه بـه خلکـو پـس پسـکي کـولي چـې "هغـه نـه يـوازې بدمزاجـه دی، خوشـايي سـړی هـم دی. کـه داسـې نـه وی ولـې پـه غوجـل کـې ژونـد کـوي؟" پـه واقـع کـې امير شـير علـې د يـوه پـراخ ډګـر پـه مينـځ کـې چـې شـاوخوا يـې د لـوړ نسـبه اسـونو لپـاره غـوجلي وي، يـوه وړه څپـرۀ درولـې وه، چـې مخـې تـه يـې يـوه کوتـه وه. لـه هغـې نـه نـه يـوازې د دفتـر پـه توګـه بلکـې د وايـن او تنـګ تکـور پـه ملګرتيـا د ميلمسـتياوو لپـاره هـر کار اخيستل کيده.

دا خـو څرګنـده وه، چـې د اميـر د سـقوط دليـل د انګريـزي امپريلـزم د وړانـدې تـك سياسـت و، خـو پـه دې کـې شـك نـه شـته چـې د هغـه د پـوځ د پيـاوړي کولـو پروګـرام، چـې د سـنګرو نيـول پکـې و، د څلـورو روپيـو محصـول او د عسـکرو لـه خـوا نـه د خلکـو ځپـل وضـع لا خرابـه کـړې وه. د يـادولو وړ ده، چـې د اميـر نظـامي قـوت د هـيڅ چـا لـه خـوا پـه تيـره زمـا د ملګـرو لـه خـوا جـدي نـه نيـول کيـده. د هغـو د يـوه پـه وينـا "د اميـر دغـه پوځونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنګ کولو لپاره روزل شوي نه دي. د هغه پرخلاف هغوی دتصور تمثيل کوي او يواځې د ننداري لپاره دي. هغوی په ښکلو يونيفورمونو کې د امير په انګړ کې د موسيقۀ ښکلو اوازونو ته يواځې د ميرمنو د خوښۀ لپاره تمرين کوي."

## د امير محمد يعقوب واکمني

په داسې حال کې چې برتانوي پوځ پر وطن راننوتلی او خلك په غم لړلي او پاريدلي وو، محمد يعقوب سمدلاسه له بندي خاني نه وايستل شو او امير شو. دغه بيچاره انسان هك او پك، حيران او سودايي و. ويل شوي چې د زندان امر حاجي چايي، چې شير علي ته د اعتماد وړ او زيړ ظالم انسان و، له دينه منع کړی و چې له بل چا سره وغږيږي او حتی وهل يې هم ورته ورکړي وو، نو دلته دغه پوښتنه راميڼځ ته کيږي، چې هغه چا چې شپږ کاله په زندان کې په يواځې ځان په يوې کوټي کې تير کړي وي او عذابونه ليدلي وي، په کافي اندازه به ورته عقل پاتي وي، چې په دغسې بحراني حال د ترتل شوي هيواد لپاره د حل معقوله لار ولتوي)10(.

دی په تخت کيناست او هغسې چې د سر زورو واکمنو خاصه ده، شاوخوا يې غوړه مالان ټول شوي وو. د هغه نږدي ملګري چې ځينې يې په پټه انګريز پلوه وو، ورته ويل چې "هرڅه تمام شول، ته بايد انګريزانو ته تسليم شې چې د هغوی د امير په توګه لږ تر لږه په بريالي او ښه حال سره ژوند وکړي." دغه مشوره دغه کمزوري انسان ته نرمه او زړه راکښوونکي ښکاره شوه. وروسته له هغه چې د اروابښاد پلار د فاتحي مراسم يې پای ته ورسيدل، له يوې ډلې ځانګړو اشرافو سره )د هغه د خسر سردار يحيی په ګډون( کندمك ته لاړ، چې هلته د برتانوي پوځ جنرال سام براون په قوماندانۀ ديره و. يو تړون يې لاسليك کړ او راستون شو. ويل شوي چې په يوه دربار کې يې باتي وهلي وي، چې "ما له انګريزانو سره دغسې تړون کړی چې دغه دسمال به له ما وروسته که وارث هم ونه لرم، واکمنۀ ته دوام ورکړي."

دا به په زړه پوري وي، چې دغه وينا د برتانيي د يرغل او په کابل کې د هغه د استازي کوکناري د ټاکل کيدلو په اړوند تر بحث لاندي ونيول شي. افغانستان په رسمي ډول د برتانيي تر حفاظت لاندي په تللو سره له کرمې، پشين، سبي نه تير شو او په خيبر او مچنې کوتلونو باندي يې کنترول له لاسه ورکړ)11(.

دغه تړون له هغو تړونونو سره ډير ورته دی، چې د هندوستان مستعمري له لويو راجاګانو او نوابانو سره شوی وو.

ميجر لويي کوکناري له خپلو ملګرو او يوې ډلې نظاميانو سره د بالاحصار په پخوانيو حکومتي کورونو کې واړول)12(.

انګريزانو په عين حال کې په دي پيل وکړ، چې خپل پوځونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـــه افغانســـتان نـــه وباســـي. اميـــر خـــوښ و او د زنـــدان د ترخـــو ورځـــو د جبـــران لپـــاره يـــې لـــه خپلـــو ملګـــرو ســـره تـــر ســـهاره پـــورې پـــه عـــيش تيـــراوه او د ســـوبې پـــه نامـــه د يـــوې نڅـــاکرې لـــه نڅـــا او له سندرو نه يې خوند اخيسته.

د هغـــه پـــرخلاف افغـــان قومونـــه دغـــومره ســـرايله شـــوي او پاريـــدلي وو، چـــې د بـــدل اخيســـتلو تـــه يـــې هڅـــول. پـــه ټـــول ملـــك پـــه تيـــره د ســـرتيرو پـــه بـــې نظمـــه ســـلوك كـــې د تشـــدد نـــاك ســـرايله تـــوب نښـــې ښـــكاره كيـــدلې. بيـــا نـــو د هيلـــې پـــرخلاف، يـــوه ورځ پـــه بالاحصـــار كـــې د ډزو اوازونـــه واوريـــدل شـــول، دكانونـــه وتـــړل شـــول او پاريـــدلي او بـــې نظمـــه شـــوي خلـــك پـــه هغـــه لـــور وخوځيـــدل. دوســـتانو خبـــر راوړ، چـــې افغـــان ســـرتيري جـــك شـــوي او د كوكناري په كور يې يرغل وړی او تينك جنګ روان دی.

نشـــته ان تـــر لـــومړي ماسپښـــين پـــورې روانـــه وه، بيـــا ارامـــې شـــوه. د كوكنـــاري لـــه كـــور نـــه د اور د لمبـــو پـــه شـــان لـــوخړې جګيـــدلې. دغـــه لمبـــې زمـــوږ لـــه بـــام څخـــه ليـــدل كيـــدلې. لـــوی كمشـــنر [كوكنـــاری[، د هغـــه مـــاموران او ســـاتونكي يـــا ووژل شـــول يـــا د اور پـــه لمبـــو كـــې خـــاورې ايـــرې شـــول. وروســـته پـــه هماغـــه ماسپښـــين كـــې خلـــك پـــه بـــازار كـــې وليـــدل شـــول، چـــې د برتـــانوي ســـرتيرو واســـكتونه، بوتونـــه او فلـــزي خولـــۍ يـــې پـــه ځـــان وې، چې بې له شكه له اور نه يې په ولجه نيولي وو.

پوښـــتنه دا ده، چـــې دا ټـــول څنګـــه پـــيښ شـــول. واقعيـــت دا دی، چـــې پـــه پورتـــه بيـــان شـــوي نـــاارامې فضـــا كـــې د ســـرتيرو درې قطعـــې بالاحصـــار تـــه د معـــاش اخيســـتلو لپـــاره ورغلـــې. د معمـــول پـــه شـــان دوی د حكـــومتي دفترونـــو پـــه انګـــړ كـــې غونـــډې شـــوي، دوی بـــې وســـلې وې. دوی د دريـــو مياشـــتو معـــاش غوښـــته، خـــو هلتـــه د يـــوې مياشـــتي معـــاش موجـــود و. ســـرتيرو شـــور ماشـــور جـــوړ كـــړ، ميرزايـــانو او افســـرانو كوښـــښ وكـــړ، چـــې ارام يـــې كـــړي، خـــو ګټـــه يـــې ونكـــړه. شورماشـــور نـــور هـــم جـــك شـــو او ســـپكې ســـپورې وويلـــې شـــوې. وضـــع هغـــه وخـــت لا خرابـــه شـــوه، چـــې دوی پاســـنۀ كوټـــه پـــه تيـــږو وويشـــته چـــې هلتـــه د ميرزايـــانو او محاســـبانو دفترونـــه وو. بيچـــاره ميرزايـــان څـــوك وتښـــتيدل او څـــوك تعقيـــب شـــول او ووهـــل شـــول. پـــه دغـــه وخـــت كـــې يـــوه واړه لانجـــه پيـــدا كـــوونكي افســـر چيغـــې كـــړې، چـــې "ورونـــو! دغـــه دوســـتان زمـــوږ حـــق نـــه راكـــوي، څنګـــه چـــې مـــوږ يوبـــل بـــادار كوكناري د دوی دښځوميره لرو، ورنه به پوښتنه وكوو."

دغـــو خبـــرو ســـرتيرو تـــه ټكـــان وركـــړ او دوی د كوكنـــاري د كـــور پـــه لـــور منـــډه كـــړه. كوكنـــاري چـــې دوی د ورتـــك پـــه حـــال كـــې وليـــدل، لـــوی ور يـــې وتـــاړه او خپـــل ســـاتونكي يـــې پـــه بـــام كـــې ودرول. افغـــان ســـرتيري همـــدا، چـــې ور تـــه ورســـيدل كوكنـــاري بـــې لـــه كـــوم كـــړ و بـــړ نـــه پـــه خپلـــو ســـاتونكيو د ډزو امـــر وكـــړ او عســـكر ولكيـــدل. دغـــې پيښـــې د توقـــع پـــرخلاف افغانـــان پـــه غضـــب كـــړل، خپلـــو بـــاركونو تـــه لاړل، وســـلې يـــې ترلاســـه كـــړې او بيرتـــه راغلـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ډزو يې پيل وکړ. له دواړو خواوو نه سختې ډزې وشوې لکه هسې چې په سل کونو نندارچيان هم چې فکر يې کاوه جهاد دی، په جنګ کې داخل شول. انګرېز ته د اور خپريدلو تهديد څرګند شو او د خو کړيو په بهير کې نه له کوکناري، نه د هغه له هستوګنځي او نه د هغه له ملګرو نه څه پاتې شول.

دا وه د کوکناري تراجيکه قصه لکه هسې چې دغه خاوري ليکوال يې ننداره کړې وه. ددغې تراجيدي په ارزونه کې زما خپل نظر دا دی، چې کوکناري د نه بښنې غته خطا وکړه. سرتيري هلته د معاش ترلاسه کولو لپاره لاړل، نه د جنګ لپاره. د تدبير خاوند به له هغو سره پوهاوي ته رسيدلی او لازمې معاش به يې ورکړی وای[13]. په واقع کې دا يوه ښه موقع وه، چې د سرتيرو روغ نيتې ترلاسه شوې او د حکومت خواخوږي شووله شوي وای، چې د بې نظمۀ اور غلی شوی وای او وروسته يې بايد د اوږدې مودې د لارې په اړه فکر کړی وای.

امير محمد يعقوب په مانۀ کې د بلوا دمخه شپه په معمولي ډول تر سهاره پوري په عيش کې تيره کړې وه. سهار په ژور خوب کې ډوب لاړ، لوړ حضرت ولې انديښنه ولري او ځان وربروي او خپله سات تيري او ارامې کده وده کړي. هغه خو د ډاډ وړ دغسې ترون لاسليك کړی و، چې له هغه وروسته به يو دسمال هم حکومت وکولی شي. هغه د برتانيې ساتندويې په رسمي ډول منلې وه. ولې ددې غمه وکړي چې هيواد يې د دښمن په لاس لويدلی دی. امير د نږدې ډزو له امله له خواږه خوب نه ويش شو، وارخطا شو او د خطر احساس يې وکړ، ويې ويل چې "دا څه خبره ده؟ څه پيښ شوي دي؟" د هغه نږدې ملګرو او غوړه مالانو وضع ورته بيان کړه. هغوی چې له خطرونو نه ويريدل، امير ته مشوره ورکړه، چې له ځايه ونه شوريږي[14].

جنرال رابرتس چې په کرمې کې دغه خبر واوريد، د کابل په لور په بيړه روان شو. په کابل کې د هغه لومړی کار دا شو چې د کوکناري د سوځيدلي کور په کنډوالو باندې دارونه وځړوي، چې په دغې ييښې کې کډون کوونکي غرغره کړي. په اصل کې خلك هلته د ننداره کولو او چور کولو لپاره غونډ شوي وو. ځينې د جهاد کولو لپاره ورغلي وو. بې وجدانو مخالفانو چې زړونه يې له کرکې نه ډك وو او د چندول شيعه کانو چې هغوی د جاسوسې په بدل کې انعام غوښته، له دغې موقع نه د ځان لپاره ګټه وکړه او بې ګناه خلك يې په ګير کې ورکړل. نورو هم حتی د يو څه ګټې لپاره همدغسې وکړل. په دې ډول هره ورځ له لسو نه تر شلو پوري کسان غرغره کيدل[15]. زما مشر ورور کل محمد او عبدالخاق د غرغره کيدو له ويري نه تښتيدلو ته اړ شول. لومړنی په هرات کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار محمد ايوب له پوځ او وروستي په کندهار کې د سردار شير علي له پوځ سره يوځاى شو.
امير وروسته له دي چې له خپلو درباريانو سره مشوره وکړه،له کابل نه په بيړه ووت او انګريزانو ته تسليم شو. دى د بندي په توګه د هندوستان دره دون ښار ته واستول شو، چې هلته د مرګ تر ورځې پورې تر څارني لاندې و.
د کرکي وړ او د ګنډمك دغه شرمناك تړون، چې د انګريزانو له خوا په امير محمد يعقوب وتپل شو، د هغه خسر په هڅوني سره شوى و. په واقع کې سردار يحيى او د هغه کورنۍ افغانستان د برتانوي مستعمرو ډومينيون د يوې برخې په شان محاصره کړ(16). يعقوب ته د انګريزانو غولوونکي وعدي په ځرګند ډول ښيي، چې دغه نا اوړي انسان د ملت پروا نه کوله، غوښتل يې چې خپل ځان او خپل تابع حکومت خوندي کړي.
د کوکناري له پيښي نه وروسته سرتيري خپلو کورونو ته ستانه شول، خو د امير ورور سردار محمد ايوب له هرات نه د کندهار په لور روان و. له ده سره دلايقو جنرالانو په قوماندانۍ يو پوځ او خزانه وه او په هرات کې يې دريځ تينګ و. که يعقوب چاريکارو ته تللى واى لږ تر لږه خواره شوي عسکر او خلك به سره ټول شوي او په دي قادر شوي واى، چې د ايوب له پوځ سره يوځاى شي(17). خو افسوس چې له خپل ورور سره د هغه رقابت دغومره تينګ و، چې بې له شکه يې غوره ګڼله چې د باندنيو له خوا پرې حکومت وشي، نه دا چې له خپل ورور سره قدرت شريك کړي.

## د انګريزانو له خوا د کابل نيول

د امير محمد يعقوب د ګوښه کيدلو او بندي کيدلو خبر په کابل کې د هغه تره سردار نيك محمد خپور کړ. دى چې په يوه جك اس سپور و او ځلور سواره يې تر شا روان وو، د شاه شهيد په وره ننوت، ناري يې کړي چې "اوه خلکو! ستاسو امير د پرنګيانو له خوا بندي شوى دى، جك شئ، کوښښ وکړئ، خپل ننك پرځاى کړئ. د خپل هيواد او دين له دښمن سره جهاد وکړئ." دى په دغسي خبرو سره په ټول ښار کې وګرځيده، خلك يې د جهاد لپاره هڅول او پارول. د هغه پرخلاف، له ټول پوځ نه چې امير په څومره کړاو سره کلونه کلونه روزلى و، هيڅ يو هم نه په ښار کې او نه په چاونيو کې ليدل کيده.
ددغو ټولو ناارامو په وخت کې زموږ کورنۍ د امير دوست محمد د کراني لور بي بي فاطمي کره اوسيدله، چې په دغه وخت کې له دغو کسانو نه جوړه وه: )زما مور او پلار، زما دري خويندي، دوه مشران ورونه )چې هغوى زر له کابل نه ووتل( زه او زموږ اخوند يا ښوونکى چې له پلار نه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅ بيل نه شو او يو شو نوكران بي بي فاطمي په خپلي مهربانۀ سره موږ خپل كور ته بللي وو.)

پلار د معمول په شان ځان له دربار نه ليري ساته. ليكل، لوستل او رسم كشل به يې كول، شعر به يې وايه او ناسته ولاړه به يې له ملګرو سره كوله. يوائي د امير شير علي فاتحي ته لاړ، چې زوی يې امير محمد يعقوب د هغه په بڼ كې اخيستله. پلار مي نيغ د عامه خلكو برخي ته لاړ او د دعا لپاره يې لاسونه جك كړل. د دربار مامور د امير په اشاره ترينه وغوښتل، چې "صاحبه! دا ستا ځاى نه دى، موږ هغه ځاى ته په ورتك سره ووياړه چې هلته امير، سرداران او لويان ناست دي." پلار مي ورته توجه ونكړه. بل وخت پخوا له دي چې امير انګريزانو ته تسليم شي، پلار مي ورسره وليدل او ورته يې وويل چې "څه چې پيښ شول قسمت و، ايمان او وجدان مي حكم كوي چې دغه مشوره دركړم: انګريزانو ته د تسلميدلو پرځاى كوهستان يا پنجشير ته لاړ شه، له تركستان او هرات سره ارتباط تينګ كړه او جهاد اعلان كړه. په ښو نيتونو او تينګ زيار سره ممكن بريالى شي او نوم به دي تر ابده پوري پاتي وي."

زموږ مالي وضع بد حال ته رسيدلي وه، يو كال شوى و چې دولتي معاش نه و رارسيدلى، خواړه كم شوي او ګراني ډيره شوي وه. څنګه چې بي بي فاطمي خپل كور ته اړه لرله، موږ اړ شو چې يوه واړه، زاړه، وراسته ځاى ته كوچ وكړو او د خوارۀ په حال كې ژوند وكړو. له نوكرانو څخه يوائي دوه تنه پاتي شوي وو. بيرغ وړونكي چې له پلار سره مي د پاچا زويتوب له وخت نه و او رامان چې د پيرلو، پخلي او او بو راوړلو ناظر و.

يوه ورځ رامان پلار ته وويل، چې د سبا لپاره نه په تحويلخانه كې او نه په جيب كې دينار شته او د سيمي هټۀ وال چې موږ نه پيژني، پور نه راكوي. د پلار غبرګون هيڅ هيرولى نه شم: "ته پوهيږي چې غوري د پلاو خوړلو لپاره وي، څو چې پلاو نه وي هغه ارزښت نه لري. له غوريو نه يو څو خرڅ كړه او له پيسو نه يې د سبا لپاره ډوډۀ برابره كړه." په بله ورځ چې پلاو په ميز باندي ايښودل شوى و او ټوله كورنۀ ترينه چارپيره وه، پلار وپوښتل چې تاسي پوهيږئ ددغه پلاو نوم به څه وي؟ ښه! دغه ته غوري پلاو وايي." نو په راتلونكو ورځو كې موږ د يوه سماوار، قاليني او كليم پلاو خاوندان شو.

## د كابل د خلكو جنګ

د سردار نيك محمد خبرو خلك پارولي وو، دوى په هر ځاى كې غونډي كولي، په چارسوكانو كې، بازارونو او سړكونو كې، ځينو ملايانو د جهاد تبليغ كاوه[18]. خلكو پريكړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، چې يا په وسلو او يا په تشو لاسونو وي له انګريزانو سره به جنګيږي او په دغه ډول به خپله ديني دنده ترسره کوي. د کابل د خلکو دغه جنګ هم عجيبه او د خندا وړ منظره وه. څنګه چې موږ پوهيږو د اطراف خلك د ښار تر اوسيدونکيو نه ډير تينګ او ډير زړور دي، نو کابليانو لاپې ډيري وهلې او په جنګ خبر نه وو، په تيره له توپکو او توپونو سره. په هغه سربيره دوی لنډې چړې (خنجر) او دوه ميله ښکاري توپك لرل.

خلکو دا پريکړه هم وکړه، چې د جوبې وره په مخ کې به ټول شي او د شاوخوا غونډيو په ډډو کې به ځايونه ونيسي. د کابل خلکو د رواج له مخې له لرغوني زماني نه راپه ديخوا د جوبې جشن نيوه. د پسرلي په هره جمعه کې به خلك هلته له سماوارونو، قالينچو، ديګونو او لوښو سره د ميلې او سات تيرۀ لپاره تلل. د شپې له خوا به بازارونه ډير شول، جلبې او ماهي به يې خرڅول، چې د جشن اصلي ځيزونه وو. کبابونه او خواږه به هم پريمانه وو. د ځغاستې لپاره به ډګر او د ډنډو لپاره به دايري جوړ شوي، تنګ تکور او سندرو به هوا ډکه کړه.

د جهاد لپاره غونډې به هم په همدغه ډول وي، يواځينى توپير په دې کې و، چې د سندرو او تنګ تکور پرځاى به د "الله اکبر" او "اوه! ځلوريارانو مرسته وکړئ!." د توپکو له اوازونو سره اوريدل کيدلې. داسې پيښه شوه، چې د خلکو په دغې ګڼه ګونه کې يو دغسې ترکان استاد هم و، چې د توپونو په کارخانه کې يې کنداغونه جوړول. ده چې د توپچي افسرانو نه شته والى حس کړ، چې په عادي حال کې په خپلو ځليدونکيو يونيفورمونو کې په خاص ډول روان دي، د يوه جنرال يونيفورم يې واغوست او فلزي خولۀ يې په سر کړه او يوه جغه يې پرې وتومبله. په داسې حال کې چې د توپخانې خو هغو عسکرو ورسره مرسته کوله، چې بې ملګري وو، ده وکولی شول چې شپږ ميل کښونکی غټ توپونه او څو نور غوايي کښونکی توپونه ځاى پرځاى کړي. په دغه وخت کې خبر راغی، چې د يوه نظامي ښوونکي کرنيل مامدجان (محمد جان) په قومندانۀ دري کنډکه او څلور قاطري کښوونکي توپونه له چاريکارو [ارغنده] نه راروان دي.

په ماسپښين کې د توپونو ډزو او د سندرو او ترومپټونو اوازونو د برتانويانو د رادمخه کيدلو خبر ورکړ. همدا چې اولنۀ کولۀ د اسمان په لور جګه شوه، بې وسلو کابليانو په داسې حال کې چې سماوارونه يې په لاسونو کې نيولي او قالينچې يې په اوږو اچولي وي، د ښار په لور په تيښتې پيل وکړ. سره له دې هم د استاد ترکان له توپونو نه ډزې کيدلې او تلفات يې اړول. ځينو بيباکو ځوانانو چې د ديوالونو تر شا يا په غوچانو کې پټ و، په دښمن باندې ناڅاپي بريدونه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغــو ګــډوډو اغيــزه لــږه وه او د ماښــام پــر مهــال يــو غــازي هــم نــه ليــدل کيــده. ټــول پــه خپلــو کورونــو کــې پــټ شــول او د خپلــو ورونــو شــا تــه يــې اړمونــه واچــول. پــه بلــه ورځ برتــانوي پــوځ يــوه اثــر ښــونکي ننــداره وښــودله، پــه داســې حــال کــې چــې مارشــونه يــې کــول، پــه ښــار کــې وکرځيــدل او بيــا خپلــو بــارکونو ته ستانه شول.

پــه هغــه ورځ زمــوږ کورنــۍ او د کابــل وطنپــالو او حساســو خلکــو ځانونــه د ويــر او مصــيبت پــه ينجــو کــې ګيــر حــس کــړل. مــور مــې، خوينــدو مــې او مــا ســخت ژړل، زمــوږ اخونــد افســوس کــاوه "اوه اســلام! افســوس زمــوږ پــر عقيــدې." پــلار پــه خپــل لمــونځ ځــې ناســت و، دعــا يــې کولــه. بيــرغ وړونکــي کنځــل کــول او لعنتونــه يــې ويــل، هــم بانــدنيو تــه او هــم د هيــواد خاينــانو تــه. رامــان لاپــې وهلــې، چــې کــه موقع يې لاس ورغله دا او هغه به وکړي.

خــو پــه نــورو کورونــو کــې د خوښــۍ ميلمســتياوې وې، دا هغــه خلــك وو چــې د پرنګيــانو راتــك تــه يــې هرکلــې ويلــې و او د هغــو پــه خپلــو خبــرو "د دوی غمــه خوړلــه شــوې وه." دوی زيــاتره شــيعه او قزلبــاش وو، چــې د ښــار پــه ميــنځ کــې پــه چنــدولو کــې اوســيدل، چــې شــاوخوا يــې تينــګ ديــوال او خنــدق وو. دوی پــه خپــل فرقــه يــې تعصــب ســره نامســلمانان تــر مســلمانانو نــه غوره ګڼل.

لکــه چــې دمخــه وويــل شــول مامــد جــان او د هغــه کنډکونــه راروان وو، کابــل تــه پــه رســيدلو ســره يــې پــه نيمــه شــپه کــې پــه اســه مــايي غــره بانــدې دفــاعي ترتيبــات ونيــول. زه بــه د خپلــې خوښــې هغــه ژور احســاس تــل پــه يــاد ولــرم، چــې پــه ســبا يــې چــې لــه خوبــه پاڅيــدم کــورم چــې د اســه مــايي غــره پــه ســر د افغانســتان بيــرغ رپيــږي. يــوه شــيبه وروســته برتانويــان د شــير دروازې لــه پاســه ښــکاره شــول. "د درې ورځــو او درې شــپو جنــګ " چــې د "اســه مــايي او شــير دروازې جنــګ" بانــدې هــم يــادېږي، پيــل شوی وو.

دا دغســې يــوه څرګنــده منظــره وه، چــې پــه ليــدلو ســره يــې زړونــه رپيــدل او اوښــکي توييــدلې. دوســتانو دعــا کولــه او دښــمنانو لعنــت وايــه. زه بــه هــر ســبا د لمانځــه پــه وخــت کــې بــام تــه خــتلم، هلتــه بــه دوربــين پــه لاس تــر ماښــام پــورې پــاتې کيــدلم. مــور مــې بيخــې خپــه وه، ويريدلــه چــې کومــه خطــا کولــۍ رابانــدې ونــه لګيــږي، خــو مــا مقاومــت کــولی نــه شــو. پــه شــپه کــې چــې د برتانويــانو لــه توپونــو نــه ډزې کيــدلې زيــاتره پــه ښــه نــه لګيــدلې. د مامــد جــان، د جهــاد پهلــوان د څلــور لنــډ هدفــه توپونــو ډزې د برتــانوي پــوځ پــه ميــنځ لګيــدلې. پــه بلــه شــپه افغــان پوځونــو چــې برتانويــانو محصــور کــړي وو او د ارتبــاط لارې يــې پــرې شــوې وې، بلــه چــاره نــه لرلــه خــو دا چــې خپــل توپونــه لــه کــار نــه وباســي او د چــاردهي او پنجشــير پــه لــور پــه شــا شــي. برتانويــانو پــه پــای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کابل په رسمي ډول ونيوه او نظامي حکومت يې اعلان کړ. شيرپور يې نوی ښار (شهرنو) ونوماوه او خپل پوځ يې هلته ځای پرځای کړ.

سردار ولي محمد د امير شير علي کشر ورور، چې زوړ او د انګريزانو ربښتيني خادم و، د جنرال رابرتس (د انګريزي پوځ قوماندان) له خوا د کابل والي وکومارل شو. نور برتانوي پلوه سرداران او د طلايي سردار (سلطان محمد) د کورنۍ د غړيو په کډون د هغه درباريان او ماموران غوره شول[20]. په عين حال کې خپل بل پولي سردار شير علي (د سردار مهر دل زوی) يې د کندهار والي وټاکه. لنډه دا چې د هيواد مهمې سيمې د برتانوي امپراتورۍ تر بيرغ لاندې شوې او سوبمن انګريزان په کابل، جلال اباد او کندهار کې ځای پرځای شول.

## د مقاومت پياوړي کيدل

پرله پسې غرغرو د خلکو په زړونو کې کرکه او دښمني وکرله. په اوله کې بزګران راضي وو چې خپل محصولات په انګريزانو باندې په لوړه بيه خرڅ کړي، خو همدا چې خاين سرداران واليان شول او نورو مامورانو د خلکو په ځپلو پيل وکړ. په تيره چې له خلکو نه يې ځيزونه په تيته بيه اخيستل، دوی له وهمه ازاد شول. قومونو چې په عادي حال کې يو بل وژل او لوټول درك کړه، چې د بل قوم او دين خلك يې په وطن باندې مسلط شوي دي، له يو بل سره تړاو تينك کړ په دغه مقصد چې سره ملګري او يو موتی شي. په ټول ملك کې ملايان، چې زياتره يې د خانانو او لويانو له ملاتړ نه بهره من وو، د ربښتيني اسلام په تبليغ پيل وکړ او د جهاد روحيه يې پياوړي کړه. ځينو قومونو لوړه وکړه، چې د ځان او مال په قيمت به د هيواد ساتنه کوي.

د مقاومت مرکز غزني او د هغه چاپيريال و. هلته يو پرهيزګار او عالم مجاهد ملا مشك عالم خلك د جنګ لپاره هڅول. د مقاومت نامتو اتل کرنيل مامد جان ورسره يو موتی شو او ډير جنګيالان يې پرځان راټول کړي وو.

برتانويانو چې مهمه ګڼله د کابل پوځ د کندهار له پوځ سره مربوط کړي، فيصله وکړه چې په غزني کې ديره ځای ولري. مجاهدان چې له دغې پريکړې نه خبر شول، والي سردار محمد حسن ته لاړل او ترينه يې وغوښتل، چې د هغوی مشري په غاړه واخلي او ورته يې کړه چې "موږ مشر نه لرو، ته چې پاچا زوی يې بايد زموږ قوماندان اوسې. که مو وګڼله ته به زموږ امير اوسې، نوم به دې تلپاتې وي او لوی ثبښتن به د اخرت په ورځ درته اجر درکړي." سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد حسن چې د معمول په شان پوچ خولی و، په خپل بشځينه آواز سره يې په قسم خوړلو باندې شروع وکړه:"اوه! تاسي سپيو او جاهلو مجاهدو! تاسي څنګه کولی شئ د برتانيي له حکومت سره ځانونه پرتله کړئ؟ تاسي بې وسلې او پشې ابلې خلك څنګه کولی شئ له انګريزي قدرت سره مقابله وکړئ؟ تاسي خه او خه ځئ ورك شئ، د خپلو کارونو غمه وکړئ!." مجاهدانو چې په دغو خبرو سره وپاريدل پري ودانګل او توټه توټه يې کړ، بيا نو دوی يواځې په چاقوګانو، سوټيو او يو څو ټوپکو سره لاړل، چې د انګريزانو له راتلونکي پوځ سره په شش ګاو کې مقابله وکړي.

په بنګلور کې يوه انګليس کرنيل ماته ددغې جګړې قصه وکړه. دی په هغه وخت کې د برتانوي پوځ يو قومندان و، دی هلته يو ډګروال و او زه د خپلې کورنۍ له کډوال کيدو نه وروسته په هند کې په سفر وم. اوس يې نوم زما په ياد نه دی، خو دی يو ښکلی جك ځوان و او په کينې غمبوري باندې يې يو شين داغ و. ماته يې وويل، چې "ما د جاسوسانو د راپور له مخې خپل پوځ په يوې ژورې درې کې ځای پرځای کړ، چې د راتلونکي انساني سيل مخه ونيسم. همدا چې افغانان په رنګه بيرغونو او د ډول په يوه ډوله اواز سره له لري نه ښکاره شول، خپلې توپخانې ته مې د دوو پرلو پسې ډزو بولۍ ورکړه. ما فکر کاوه، چې سخت تاوان مې ور اړولی او د اور بند امر مې وکړ. دودونه لا هم په هوا کې و، چې په دغه وخت زما په سر باندې ناڅاپه د سوټي وار وشو. له درد نه يې نړدې و، چې له اس نه ولويږم او نتيجه يې دغه داغ دی. زما سړيو غوښتل، چې دغه وهونکی توټه توټه کړي، خو ما پري نه شوول. "هغه **55** کلن په مزاج کې درويش ډوله و او جنډه جامې يې پر تن وې. پرتوك يې ارت او په غوټو سره تړل شوی و. له هماغې توتې نه يې يو خيرن کميس پرځان و او دغسې زوړ وړين واسکټ يې په تن و، چې د رنګ تميز يې په مشکل سره کيده. ملا يې له غاړې نه په يوې تراړې تړل شوې وه، يوازينۍ وسله يې د لرګې يو سوټی و. يوه زړه چرمې کڅوړه يې له اوږو نه ځړيدله، چې سورۍ سورۍ وه او په يوې رسۍ سره تړله شوې وه. د جوارې نيمه تيکله او د مچنغوزي لپاره يو څو کتې پکې وې. وروسته له دې چې مخ يې ووينځه او بنداژ کړ، دغه سړی مې راوغوښت او ومې پوښته چې "آيا ته سرتيری يې؟" ويې ويل چې "نه". بيا مې وپوښته چې "ته د کوم خيل يا قوم مشر يې؟" ويل يې "نه، زه بزګر يم." بيا مې وپوښته چې "کوم ضرورت او کوم اجبار او کوم قدرت ته اړ کړي، چې ددغو ډزو او خطر مينځ ته راشې؟" ويلې چې "پرون زه د کلي د ماجت ترڅنګه تيريدلم، ډير خلك غونډ شوي وو. يوه ملا تبليغ کاوه، چې دا زموږ ملك کاپرو نيولی، د لوی خښتن او د هغه د پيغمبر له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا وظيفه لرو، چي د خپل هيواد او د دين له دښمنانو سره وجنګيږو. که مو ووژل غازيان او که ووژل شوو شهيدان به يو. په دواړو حالتونو کي به جنت زموږ انعام وي. ما خپلو ملګرو ته وويل، چي په دي کي ګټه نه شته، چي دغه خلك ووژل شي، د هغه پرځای موږ بايد دوی په دوستۀ سره جلب کړو او د هغو له سوچه عقيدو نه د روسانو پر ضد استفاده وکړو."

برتانوي پوځ د ټوپکو دغو پرله پسي ډله ييزو ډزو سره هم غزني ته په مخکي تك ونه کړای شو. مجاهدانو هم درك کړه، چي که څه هم شمير يي بيخي ډير دی، دا به ځانمرکي وي چي د انګريزانو له دغسي زورورو ډزو سره مقابله وکړي، خو دوی سره له دي هم کابل ته خپل وړاندي تك ته دوام ورکړ. په عين حال کي چي دښمن يي اړ کړ، چي په هماغي ليکي باندي بيرته په شا شي، دوی يواځي نه وو. په واقع کي د ټول ملك قومي لښکري د پای تخت د چاپيرولو په لور رواني وي. جنرال رابرتس ددي لپاره چي دغه فشار لږ کړي، له سردار ولي محمد نه وغوښتل، چي په چاردهي کي د ټوپونو او اس ځغلولو ننداره جوړه کړي. دا ددي لپاره و، چي شيرپور ته د برتانوي پوځونو په شا تك يو څه اسان کړي.

"د دري ورځو او شپو جکړي" نه وروسته کابل په نسبي ډول ارام معلوميده. توپير دا و، چي اول د مجاهدانو او بيا د انګريزانو د په شا تللو اوازي رواني وي. بيا نو يو سهار په اسه مايي او شير دروازه باندي د انګريزانو له ځايونو نه زورورو ډزو وهڅولم، چي خپل بام ته وخيژم. څرګنده ده، چي غازيان له غزني نه د راتللو په حال کي وو، ما دا هم وليدل چي د دښمن توپونه شيرپور ته په شا کيدل. په حاضر وخت کي افغان بيرغونه په اسه مايي باندي په رپيدو شول. د الله پاك شکر دی، زه د خپل وړوکتوب د خوښۀ ژورتيا او معصوميت په ژبه بيانولی نه شم، خو افسوس چي عمر يي لنډ و، ځکه چي د انګريزانو متقابلي حملي غازيان ښار ته په ننوتلو اړ کړل. له ښه مرغه لږ څه وروسته له جنوبي نه قومي لښکري صحني ته ورسيدلي او ورځ يي له تخت شا نه په حملو سره وګټله.

تر ماښامه پوري د برتانيي له هندي امپراتورۀ نه يو ځانګړی کس هم بيرون پاتي نه شو، ټول د وفا منو سردارانو په ګډون په شيرپور کي کلابند شول.

# د ميوند جکړه

ددي لپاره چي ددغي نوميالۀ جکړي په اړه يو فکر درکړم، زه له دينه بل ښه خه نه شم کولی، چي د خپلو دوو ورونو روايتونه درته بيان کړم، چي پکي يي ګډون کړی و.

خالق: )د نور علي په کنډکونو کي د يوه ټولي کفتان و. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياد به مو وي چې برتانويانو سردار شير علي د كندهار والي ټاكلى و. دغه سردار چې انګريزانو ته بې له كوم شرط نه تسليم شوى و، د هغو مرستندوى شوى و. له خپل هيواد سره ددغه خيانت او له انګريزانو سره دغې وفا لرلو له لامله هغه دا خپله اخلاقي دنده ګڼله، چې د هغو لپاره شپږ بښه وسله وال كنډكونه تنظيم كړي. ددغه مقصد لپاره يې خپل مشر زوى سردار نور علي د خپلو قوتونو قومندان او خپل نور زامن، ورونه او نور د هغو افسران وګومارل.)دوى ټول به د سردار محمد ايوب د پوځ په برابر كې د سپږ په شان كار وكړي.( د جګړې په درشل كې ما او دده نورو ګڼتانانو د خپل مشكل په اړه سوچ وكړ. په پاى كې مو سره لوړه وكړه، چې مونږ به د خپلو وطنوالو پر وړاندې ونه جنګيږو، چې غواړي هيواد د باندنيو له جغ نه ازاد كړي. دغسې بې ننګي به مونږ په پاتې ژوند كې تل وځوروي. بيا نو مونږ دغه پلان له خپلو عسكرو سره شريك كړ، چې دغه تجويز شوى ياغي توب ته يې تيار كړو.

په بل سهار زمونږ د دم ځاى تروم زمونږ د خيمې دباندې د سر قومندان په امر وغږول شو. ترمونو او شكرونو اوازونه او د اسونو حركتونه او شنهارى د جګړې لپاره د تيارې نښې وې. همدا چې مونږ ته د وړاندې تللو قومنده راكړل شوه، مونږ شودل شوى سمت پريښود، د غونډۍ ډډې ته وختلو او له هغه ځايه مو په برتانوي پوځ باندې ډزې وكړې. زمونږ كرنيلان، چې د سردار شير علي زامن وو، اصلي پوځ ته په تللو سره زمونږ په پريښودلو پيل وكړ. مونږ داسې وښودله، چې دوى مو ليدلي نه دي. زمونږ عمل په نورو ټوليو كې دغسې پارونې وكړې، چې يوه غټه غوغا يې كډه كړه. نور علي او خپلوانو يې برتانوي لوى پوځ ته په تللو سره له تينكتيا نه پرار غوره وګانه.

كل محمد: مونږ د كوكناري له پيښې نه وروسته كابل پريښود او كندهار ته په كراو سره ورسيدلو. څنګه چې ما نه د برتانيې او نه د سردار شير علي د حكومت پروا كوله، فيصله مې وكړه چې هرات ته لاړ شم او د سردار محمد ايوب له پوځ سره يوځاى شم. هلته چې ورسيدلم سردار ته مې خپل ځان ورساوه. هغه مهرباني وكړه، زه يې په خپلو ملګرو كې ونيولم. د هغه له پوځ سره چې جنرال حفيظ الله يې قوماندان و او د هرات له خزانې سره كندهار ته مخه وكړه، چې خپل هيواد ازاد كړو.

د جنرال حفيظ الله پوځ له نهو پليو، دوو سورو[كنډكونو؟]، دوه مخ په وړاندې توپخانو او دوه زرو هغو سورو نه جوړ و، چې په سورو خانانو پورې يې تعلق لاره، كندهاري قومي لښكر هم پلې و. ځينو يې وسلې نه لرلې. په هغه سربيره ډير شمير ملايان او طالبان هم په دغه پوځ كې وو، چې د جهاد په تبليغ سره يې د جنګياليو

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنویات لوړول. قومینځو هم په هغه کې کډون وکړ، چې اوبه یې په مشکونو کې وړلې او حماسي بدلې یې ویلې.
په لار کې ډیرې قومي ډلې زموږ له پوځ سره یوځای شوې. د شیر علي کنډکونو چې زموږ په خوا اوښتي وو، هم زموږ مادي او معنوي قوت ډیر کړ. په پای کې کندهار ته نږدې په میوند کې دواړه پوځونه سره مخامخ شول. د تعجب ځای دی، چې سهار د وخته له کوم نامعلوم ځای نه برتانوي کولي په غلي ډول د خپلو هدفونو په ویشتلو پیل وکړ. جنرال حفیظ الله د جکړي دغسې پلان وایست، چې هغه په دغه حقیقت بنا و، چې موږ د دښمن له اوږدو هدفونو ویشتونکیو ډزو سره مقابله نه شو کولی. د هغه له مخې پلې سرتیري، چې د زیږو ځایونو په حفاظت کې به وي د برتانوي پوځ په کینې خوا کې به پرمخ ځي. توپونه او سواره به دغسې ځای ته ځانونه رسوي، چې له هغه ځایه به دښمن تر ډزو لاندې راځي او وروسته له هغه چې هغو ځایونو ته به ځان رسوي، ډزې به کوي. په عین حال کې نور واحدونه به د دښمن تر رسیدلو نه ړومبی هغه نږدې بند )Dam( ته ځانونه رسوي. سردار محمد ایوب او ملګري به یې ددغې جبهې په دفاع کې ورسره یوځای کیږي. دغه ستراتیجي بې له کوم خنډ نه پلې شوه. له خونړۀ جکړي نه وروسته دغه بند ونیول شو. دښمن له اوبو نه لیري شو او د پر شا تګ لار یې له خطر سره مخامخ شوه.
ډګروال به روز )Burrows( چې پوه شو ایسار شوی دی، قومانده ورکړه چې پوځ یې باید یو مثلث جوړ کړي، چې له دغه یرغل سره مقاومت وکړي. دواړو خواوو ته درانده تلفات واوښتل. په پای کې دی د په شا کیدو امر ورکولو ته اړ شو. اول په منظم ډول او ورو ورو د سورو او پلیو د فشار له امله او بیا دغه په شا تګ د بې نظمۀ او کډوډۀ له حال نه په مصیبتناك پړاو او ماتي بدل شو. ډیر بندیان ونیول شول او توپونه یې وران شول[21]. ډګروال به روز او د هغه افسران له ډګر نه روغ ووتل. سردار شیر علي تینګ کوښښونه وکړل، چې په هغو کې له کندهاري مشرانو نه د هغه غوښتني هم وي. په واقع کې انګریزانو ته دا د هغه یو ډیر غټ خدمت و. انګریزانو ته درانده تلفات واوښتل. ډیر یې چې په ویلو، ځاکانو او باغونو کې پټ و، دښځوله لاسه له مینځه یووړل شول.ښځوله بامونو ځخه درانده ځیزونه لکه بغره، تیږې، خرڅې او داسي نور پرې باندې اچول.
نو لکه هسې چې ما په خپل واړه دوربین سره په شیرپور کې د انګریزانو ایساریدل لیدلي وو، اوس مې له خپلو ورونو نه د کندهار ښار په چونۀ کې د انګریزانو له ایساریدو نه هم واوریدل او بیا هم هغسې چې په کابل کې یو شمیر سرداران د خیانت په کولو سره دغه "امتیاز" وګاټه، چې له انګریزانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره محصور شي، شير علي او د هغه کورنۍ )زما مشر ورور زمان په کډون چې د شير علي خوريي و( او نور سرداران په هماغه ځال کې په کندهار کې هم ايسار شول.

## بيرته کابل ته...

هر سبايي به چې په سلکونو غازيان ښار ته ننوتل، زموږ د کور له مخې تيريدل. زموږ کور د دري لويو سړکونو د يوځاى کيدلو په محل کې پروت و. دوى چې جامې يې سره متفاوتې، قواري يې مختلفې او اوازونه يې زيږه وو، په ډلو ويشل شوي وو. ځينې يې جك قدي، غټ او پياوړي وو، دغسې اوږده په غوړيو غوړ ويښتان يې لرل چې تر اوږو پوري رسيدل. تر دغه وختــه پوري ما د دوى په شان خلك ليدلي نه وو. هري ډلې يو بيرغ او يو يا دوه ډولچيان لرل. دوى به د ډول له اواز سره سم يوه کليمه ييزه يو ډوله سندره ويله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی لومړۍ دنده دا شوه، چې په شیرپور کې د ايسار شويو سردارانو کورونه چور کړي. دوی د هغو کورونه دومره ښه پيژندل، چې لکه د هغو لست د دوی په جيبونو کې و. داسي هم دوی ته د شتمنو کورونه معلوم و. د بېلګې په ډول زموږ د کور مخامخ د يوه ميرزا کور و، چې د ولي محمد ) د انګريزانو له خوا د کابل ټاکل شوی والي( د دفتر آمر و. له غازيانو نه يوه غږ کړ، چې "دغه کور بايد لوټ شي." سمدلاسه د هغه تينګ ور يې مات کړ، په کور يې ننوتل، د ورونو او کړکيو په ګډون يې هرڅه ترينه وايستل. زموږ د کور د مخې چې راورسيدل، يو نظر يې واچاوه او چې پوه شول دا د دوی دی، په خپله لاره سيخ لاړل. غازيانو نه يواځې لوټول کول، په پرله پسې يرغلونو سره يې پر انګريزي پوځ د کلابندۍ کړۍ هم تنګوله.

دلته غواړم د مقاومت د وتليو اتلانو نومونه راوړم، چې نومونه يې په درناوی سره خيستل کيدل او په قصيدو کې ابدي کيدل[22].

محمدجان وردك، چې "د دري ورځو او شپو جنګ" او په غزني کې د ډير فعاليت له امله يې د يوه اتل په شان نوم کتلی و.

ملا مشك عالم، يو عالم او پوه روحاني و، چې د خلکو پوره اعتماد يې ترلاسه کړی و. ددي لپاره چې جنګي لوازم ولري، هغه خپلي ټولي ځمکي او حتی کتابونه هم خرڅ کړل.

مير بچه، چې د کوهستان خلکو هغه خپل مشر غوره کړی و. دغه حقيقت، چې دی د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم زوزات ګڼل کيده، د هغو اعتماد يي لا هم پياوړی کړی و.

غلام حيدر څرخي، يو منلی جنګي اتل، چې د هغه په کوښښونو سره د برتانويانو توپونه له اسه مايي غره نه شيرپور ته په شا شول.

په داسي حال کي، چې د شيرپور کلابندۍ دوام لاره، غازيانو چې کابل نيولی وو، پريکړه وکړه چې دوی بايد يوه اجرائيوي شورا ولري، خو دوی حاضر نه وو په خپلو کي يو غوره کړي، نو ځانونه يي اړ وليدل، چې دغسي يو په نامه مشر ولري، چې هغه د دوی ترلاس لاندي وي، نو دوی د امير محمد يعقوب اووه کلن زوی موسی جان خپل امير غوره کړ. داسي هم دوی لازمه وګڼله، چې د هغه د قوم يو مشر د عنعنوي وزير په توګه دنده ترسره کړي. څنګه چې د هغه له پلار نه پرته بل داسي څوك نه و، دوی ټولو فيصله وکړه چې دغه دنده به دوی ترسره کوي، خو دغه ستونزه ډيره ونه پاييده، ځکه چې يو څو ورځي وروسته غازيانو ناڅاپي ماته وکړه او بيا يو هم په ښار کي نه ليدل کيده.

پيښه دا وه، چې ترکانان له کورونو نه وايستل شول او ديته اړ شول، چې په شيرپور باندي د يوه لوی بريد لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيني جوړي کړي. په يوه تاکلي ورځ سهار د وخته د اسه مايي غره په سر د بريد لپاره د نشي په ډول اور ولګول شو. د "الله اکبر" په تکبير او "ځلورو يارانو مرسته وکړئ!" په ويلو سره دوی له ټولو خواوو نه بريد وکړ. په يوه محاذ کي دوی ديوال ته دغومره ډير نږدې شول، چي يي وکولی شول زيني ودروي. په واقع کي مير بچه او د هغه جنګياليو په ننوتلو پيل وکړ. په داسي حال کي چي په ختيځي خوا کي غازيانو سخته ماتي وکړه، برتانوي سورو پرمخ ودانګل او درانه تلفات يي ورواړول. د معمول په شان هغسي چي په قومي جنګونو کي پيښيږي، کله چي په يوې خوا کي شاته تګ پيل کيږي، اثر يي دغسي زر خپريږي لکه مالکه چي په اوبو کي ويلي کيږي. په دي ډول همدا چي په ختيځه خوا کي بريد په شا وتمبول شو، غازيان په نورو جبهو کي په اسانۀ سره مات شول. کونکوسي دا و، چي يوه خاين مشر ) په غالب احتمال محمد شاه( له دښمن نه په بې ننګۀ سره بډي اخيستلي وي.

برتانويان له خپل بري سره سره په سختو ستونزو اخته وو. دوی د **1841** کال د غت مصيبت له بيا پيښيدلو نه ويريدل، چي هلته د هغوی **16000** پوځ پوپناه شوی او يواځي يو ډاکتر برايډن جلال اباد ته ورسيد او هلته يي انګريزي پوځ له دغه مصيبت نه خبرکړ[23]. يو ځل بيا په کابل او کندهار کي د دوی پوځونه محصور شول، د ارتباط لاري بندي شوي، له هند نه ملاتړ وررسيدلی نه شو او )افغان( قومونه سره يو موتی شوي وو، چي له مينځه يي يوسي. بله بده يي لا دا وه، چي دوی دغسي مشر پيدا کولی نه شو چي ددي لپاره چي وخت ترلاسه کړي له هغه سره د ځان په ګټه خبري وکولی شي. د کابل غازيان بې واکه او بې ارادي وو، له سردار محمد ايوب سره سوله کول مصلحت نه و، په دي چي هغه د خپل بريو له امله هم مغرور و، غير له هغه هم هغه په طبيعت کي يو مغرور انسان و[24].

خو دوی په پای کي د هغه د تربور سردار عبدالرحمن په وجود کي، چي دولس کاله يي په بخارا کي د روسي حکومت د ميلمه په شان په کډوالۀ تير کړي وو، د معاملي کولو لپاره يو مناسب او د خوښي شخص ومومند. دوی پيغام وړونکي له ليکونو سره ورواستول او له روسي حکومت نه يي وغوښتل، چي له تاشکند نه د هغه وتل اسان کړي[25]. همدا چي دغه سردار له امو نه تير شو او د افغانستان په خاوره کي يي پښه کيښوده، هغه د امير لقب غوره کړ او د کولاب او بدخشان له مشرانو سره يي سخت جنګونه وکړل[26]. په لار کي چي به هرځای تميده، مناسب اصلاحات يي کول او د خپلي خوښي واليان يي ټاکل. د تابعيت ليکونه له ټول ملك نه ورته استول کيدل، خلکو د هغه امير کيدلو ته د بيرغونو په ښورولو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډولونو، چمبو او سرنيو په وهلو سره هرکلی وايه. شاعرانو پخواني او اوسني اتلان او په باندنيو باندي خپل بريالي توبونه په قصيدو او شعرونو سره ستايه.

دا ځل انګريزانو هرڅه ښه پلان کړي وو. د يوې جوړې روغې له مخې چې يې په ذمه کې له عبدالرحمن سره وکړه، دوی بريالي شول چې خپل پوځ په خپلو شرايطو سره خوندي وباسي. هماغه سرحدونه يې چې له امير دوست محمد سره په تړون کې منلي وو او هغه د ګندمك په نومي تړون کې بيا تاييد شوي وو، بيا ياد شول(27).

د خپلواکۍ کلمه ذکر شوي نه وه او د افغانستان باندنی سياست د معمول په شان د برتانويانو په صلاحيت پوري وتړل شو(28). حقيقت دا دی، چې دوی تل غوښتل، چې زموږ هيواد د ځايي کسانو له لارې په نيغ يا نانيغ ډول تر کنټرول لاندې ولري. حتی نن ورځ (1933) هم زه له جاري پيښو نه وينم، چې دوی د محمد نادر په غوښتنه او مرسته سرحد تړلی او قوم يې بندي کړی دی(29).

## يو ستونزناك پړاو

اوه کرانه خدايه! څه عجيبه شپه ده، چې غازيان وتښتيدل او څه عجب سهار و، چې موږ د يوه پناه تون په لټه کې شوو. تازه کونکوسي رواني وې، چې انګريزان د غرو دپاسه توپونه پرځای کوي، چې له هغه ځای نه ټول کابل وولي او وران کړي او خلك يې له مينځه يوسي. چندول او مراد خاني به په دغه پروګرام کې نه وي، ځکه چې هغو د انګريزانو خوا نيولې ده. خلکو خپل کورونه خوښي کول او شش ګروهي ته تلل. هغو چې په چندولو کې ملګري او پيژندګلويان لرل، هغي خوا ته بيړه کوله.

لکه هسې چې قسمت و، زموږ تينستي د صاحبزادګانو کور ته اړ کړو، چې هغو خلکو ته پناه وروړو، چې د انګريزانو تر ساتنې لاندې وو. د کورنۍ تړاو دا و، چې د هغه لور يا له سردار ولي محمد سره اوسيدله يا د هغه برعکس او دا چې د هغه ښځه او خپلوان چې له غازيانو نه پټ شوي وو، هلته اوسيدل.

سهار د وخته و، چې د پلار يو نږدې ملګري مامد جان (چې د خان په نامه هم ياديده) له خپل زوی عبدالله سره چې زما په منك و، زموږ کور ته راغی. زما او د عبدالله فکرونه او خويونه سره يو وو.

خان: "له پرون نه راپه ديخوا زه د يوه پناه تون په لټه کې وم او هغه مې زموږ په کاونډيتوب کې، په تويچي باغ کې د صاحبزادګانو په کور کې وموند، چې هلته د سردار ولي محمد کورنۍ هم هم پناه موندلې ده. ښه به دا وي، چې موږ هلته سمدلاسه لاړ شو، چې د انګريزانو له خوا له خطر نه بچ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو."

پلار: "زه فکر نه کوم چې انګريزان به کابل وران کړي، نو موږ ولې بيځايه شو؟"

خان:"حتی که دوی ورانی هم ونه کړي، همدا چې د دوی سرتيري خواره شول، دغه خطر به وي. عسکر يې په غضب دي او بدل به واخلي. دوی به غازيان او د هغو پلويان او حتی تاته هم ضرر ورسوي. تاته به چې د پاچا زوی وليعهد پخوانی وزير وي لا ډير خطر وي."

پلار :"ښه ده نو، ستا په فکر چې داسي ده، ځئ چې ځو."

څنګه چې دا وخت د ژمي پای و، لا هم ساړه و او سړکونه په يخو واورو او ختو سره پوښل شوي وو، مور او پلار او خويندې مې په داسې حال کې چې شالونه يې په اوږو وو، په مينځ کې عبدالله، خان او زه دمخه او زمونږ معلم او رامان تر شا روان شو. سړکونه خالي او يوائې وو، له جوش او خروش نه د ډکو خلکو نښه هم نه وه، نه د سرنيو او ډولونو او نه د غازيانو چيغې وې، چې پرون يې صحنه څومره غالمغالي او توده کړې وه. داسې فکر کيده، چې ځمکه لکه په ننداري کې د ځوځيدونکي صحنې په شان سمدلاسه ورکه شوې وي.

څه وخت چې موږ هلته ورسيدلو، خان، زما پلار او زموږ معلم خپل کور ته بوتلل او له ما څخه وغوښتل شول، چې ښځې د صاحبزاده په کور کې دښځوبرخې ته بوځم. ورونه او کرکۍ تړل شوې وې، هيڅ اواز نه اوريدل کيده. مور او خويندې مې د مخکينۍ کوټې دمخه کيناستلې، داسې ښکاريده چې د ونو او ګلانو بڼ په هديرې بدل شوې وي. بيا نو په دغه وخت کې چې لمر خپلې لومړنۍ سور بخنې وړانګې د اسه مايي او شير دروازه په لوړو څوکو غوړولې، يوه جګه ښځه په سپينې چادرې کې سمدلاسه ښکاره شوه، داريايي له غيبرې نه وايستله او هغسې تودې سندرې يې سر کړې، چې د ودونو او د سنت کولو په جشنونو کې ويلې کيږي. دا د پردو د ليري کولو لپاره نښه وه. ډير ژر يوه زړه چاغه ښځه، چې ځان يې په پتو سره پيچلی و، ښکاره شوه. په ژور اواز سره يې ناري کړې چې "د جبار موري! ووايه چې څه خبره ده؟."

"اوه کرانې ميرمنې! ته بايد ددغه زيري لپاره ماته انعام راکړې، هغه سپي غازيان مات شوي دي."

"اه! نه مې درته ويلی چې ته څنګه هغه پشې ابله ګدايګر له انګريزي حکومت سره پرتله کوې. يو يې هم په کابل کې نه دی پاتې شوې، بايد همدغسې شوي وای. ددغې ورځې لپاره له خدای پاك نه زر واري مننه."

نوري ميرمنې او د هغو کنيزې رانغوتلې او له هغې زړې ميرمنې نه يې د زړه نه مننه وکړه. هغه د سردار )ولي محمد(

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميرمن وه او د جبار مور په خپلو سندرو او غازيانو ته په بد ويلو سره د دوی وخت تير کړ. زمونږ په غم لړلي ډله يواځينۍ استثنی وه. مونږ په اوښکو ډکو سترګو او ژورو افسوسونو سره ننداره کوله، په سختۀ سره مو نفس کاږه. له عبدالله نه پرته چې شوخي يې کوله، زه يې پوښتلم چې "دغه کاپران څوك دي؟ دوی يا رابرتس يا چمبرلين؟"[30] "لعنت دي پر دواړو خواوو وي."

"کرانه وروره! دوی زمونږ خپلوان دي، وبه ګورو چې هغوی اوس له تاسو سره څه ډول چلند کوي؟."

په دغه وخت کې يو ځوان هلك دښځوپه جامه کې له بلې کوټي نه رانووت، هغه به ارومرو د کورنۍ هلك و، چې جامې يې د غازيانو له ډار نه بدلې کړې وي. دا نو د عبدالله لپاره د توکو ملنډو يو لوی کان شو. ما هم له دينه ډېره ونکړه، چې د ټول هغه څه ملاتړ وکړم، چې هغه ويل. په دې ډول مونږ ددغو ميرمنو او د جبار د مور د طعنو يو څه جوکه شوو.

تر دغه وخته پورې د کور د مشرې ميرمنې پام مونږ ته نه و، سمدلاسه يې په مونږ نظر شو"اوه! دوی څوك دي؟"

"دا زه يم د استاد محمود مور، نه مې پيژنې؟"

"اوه، بلې! ښه راغلې! هيله کوم چې حال مو ښه وي. خدای دې کړي، چې وضع مو خرابه نه وي، چې په دغه سهار کې دلته راغلی يې."

"دا يقيني ده، چې غازيان مات شوي دي او خلك وايي، چې ټول وژنه به وي، مونږ په دغه دليل ستاسې کور ته پناه راوړې ده."

"غواړم تاسې يو بل ځای پيدا کړئ. زه هغو ته پناه نه شم ورکولی، چې برتانويانو ته بد نيت لري."

بيا نو هغه له کړکۍ نه ليرې شوه. مور مې هم جکه شوه او وروسته له هغه چې يو خو زيږې خبرې يې وکړې او طعنې يې واورولې، مونږ ووتلو. مونږ لا يو څو کامه اخيستي نه وو، چې پلار، خان، زمونږ معلم او سوداګر عبداللطيف راښکاره شول.

لطيف چې د پلار پخوانی او رښتينی ملکی و او په چندولو کې اوسيده، د احتياط له مخې زمونږ کور ته په بيړه تللی و، چې مونږ خپل کور ته بوځي. هلته يې چې څوك ونه موندل، د خان کور ته لاړ او هلته زما له پلار او نورو سره يوځای شو. د صاحبزادګانو خوا ته لاړ، څه ښه تصادف.

مونږ د لطيف تر شا روان د چندولو په لور حرکت وکړ، له وړې کړکۍ نه پرته ور تېرل شوی و، له کابل نه د بې شميره نارينه وو،ښځواو کوچنيانو ډلو يوه لويه ګڼه ګونه جوړه کړې وه. يو په بل پسې له تنګې کړکۍ نه واوښتل، چې په هغه ورځ بايد د "ژغورني ور" بلل شوی وای. دغه سوداګر او ملګري يې پوهيدل، چې څنګه مونږ له دغې ګڼه ګوڼي نه تير

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او په پای کې په ډېر کړاو سره موږ خپل هدف ته ورسيدلو. ټوله کورنۍ موږ ته په درناوي سره هرکلی ووايه. دوی په خپلو تودو او پاکو صندليو کې ځای کړو. ورسته له دې چې زر تياره شوې ډوډۍ مو خوړله، خپلو کوټو ته لاړو.

د سهار نږدې دوه بجې وې، چې د ترومونو اوازونه مو واوريدل، چې د ټوپونو له ډزو سره کډ شوي وو. ما په هيلې او انتظار سره خبر کړل، ما خيال وکړ چې غازيانو په متقابل بريد لاس پورې کړی دی. په دهليز کې د کوربه له مشر زوی سره مخ شوم، ويې پوښتلم چې چېرته روان يې ؟

"غواړم بام ته وخيژم، چې د غازيانو بريدونه وګورم."

"ته به هسې خيال کوې، دا برتانوي سرتيري دي، چې د خپل بريالي توب جشن نيسي او په ښار کې ډله ډله کرځي."

دا ډېرې دردناکي کلمې وې، خپلې کوټې ته ستون شوم او سر مې تر خپلې برستنې لاندې کړ او دومره ډېرې اوښکې مې تويې کړې، چې هغه نمجنه شوه، د زړه درد مې ښايسته ارام شو.

## د پلار ليدنه له جنرال رابرتس سره

د لطيف په کور کې مو درې ترخې او له انديښنې نه ډکې ورځې تېرې کړې. د څلورمې ورځې په سهار يو افسر له دوو هندي نوکرانو سره له يوه ليك سره زما پلار ته راغی. په ليك کې کښل شوي، چې پلار له جنرال رابرتس سره وګوري. يوه هيبتناکه غوغا جوړه شوه، موږ ټولو فکر کاوه چې له هغه نه به تحقيق وشي او جزا به ورته ورکړ شي. مور او خويندو مې په ژړا او واويلا پيل وکړ.

پلار مې د خان، زموږ د معلم، لطيف او زما او عبدالله او البته د هغه افسر او د هغه د نوکرانو په ملګرتوب د شيرپور په لور روان شوو. هر چيرې برتانوي سرتيري وو. د "وزير مور" )د امير دوست محمد ملکه او د وزير محمد اکبر مور( هستوګنځی يو ځل بيا د برتانوي حکومت د ښاروالۀ او ضبط دفتر غوره شوی و. ځينې غازيان هلته د مجازات کيدلو لپاره وړل شوي وو. موږ په شيرپور کې وليدل، چې د برتانوي افسرانو جنازې، چې د کنډکونو په رنګونو پوښل شوي وې، په ټوپونو باندې هديري ته وړل کيدلې. د نظامي موسيقۀ يوې ډلې د جنازې موزيك واهه او سرتيري په دواړو خواوو کې ورو ورو روان وو، په داسې حال کې چې د ټوپکو سرونه يې مخ ښکته وو. زموږ د پګړيو په ليدلو سره دوی "ملا، ملا" ويل او غابنونه يې له ډېر غضب نه چيچل. دغو خطرناکو منظرو د يوې ناوړې پايلې وړاندوينه کوله.

چاونۍ ته په ننوتلو سره موږ هغې ودانۍ ته بوتلل شو، چې د رابرتس هستوګنځی، دفتر او نظامي قوماندانۍ وه. يواځې پلار دننه بوتلل شو. عبدالله او ما په يوه ميدان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوي ويالي په غاړه ژړل، په داسي حال کي چي نورو لمونځونه کول. زموږ زړونه رپيدل، ځانونه مو ريږديدل او سترګي مو د وره په لور نيولي وي. هره دقيقه د يوه کال په شان وه. بيا نو په پاى کي د عزتمن پلار مبارك او درونډ مخ په وره کي وځليد. دوه نوكران ورپسي روان و، چي د هر يوه په شا يوه بوجۀ وه.

خان: "ماته خوښ ښكاري، زه هرڅه ښه وينم."

"هو، لوى څښتن او د وليانو زور دوى ړانده كړل. هغوى با ادبه وو او څلور زره روپۀ زما د تنخواه پاتي يي راكړي. زه به ټوله قصه وروسته وكړم، اوس د خداى مهرباني ده، ځئ چي ځو."

نوري كورنۀ چي د هيبتناك خبر په فكر وه، افسوس او واويلا كوله. د نه فكر كيدونكي زيري په اوريدلو سره په دوى كي ساه بيرته ورغړيدله. پلار له يو څه وخت نه وروسته په دغه ډول قصه وكړه.

"يوه هندي چي جك لنګوټى يي په سر و، زه ومنلم. هغه د جنرال رابرټس نايب و، هغه ولاړ او يو څو دقيقي وروسته راوګرځيد. "مهرباني وكړه په دغه لار ځه، جنرال رابرټس درته سترګي په لار دى." زه چي كوټي ته ننوتلم، رابرټس قدم واهه، جګ بوټان يي له يو څو پيوندونو او تنګ غاړي يونيفورم سره په پښو و، له يو څو ګامه نږدي كيدلو نه وروسته يي وويل چي "ته سردار غلام محمد يي؟ زه يم، جنرال رابرټس." "مهرباني وكړه كينه." دى د ميز تر شا كيناست او د مخي څوكۀ يي ماته پريښوده "ته د وليعهد پاچا زوى وزير وي، ايا همدغسي نه وه؟"

"نه، د وليعهد پاچا زوى نه، بلكي د امير موسى." زما ضمني انتقاد دى يو څه نارام كړ او دا موضوع يي كرد سره پريښوده. "ايا ته له امير عبدالرحمن سره اشنايي لري او يا تاته خپله تنخواه دررسيږي؟" "هو، زه نه يواځي د هغه پر خوا بلكي د هغه د پلار امير محمد افضل او تره پلوى هم وم. امير شير علي وپاريده او ما د هغه او د هغه د زوى محمد يعقوب د يوولسو كلونو په واكمنۀ كي ځان ګوښه ونيوه او په يوه كم عايد مي ګوزاره وكړه."

"البته، په دغو سختو كلونو كي به معاش دررسيدلى نه وي؟"

"دا سمه ده، البته يوه پيسه هم نه."

هغه زنك ووهه او له نوكر نه يي وغوښتل، چي نايب ته غږ كړي. پخوا له دي چي هغه زموږ خبرو ته بيرته وګرځي، هغه ته يي يو څه وويل. رابرټس له مانه د امير شير علي او له ورونو سره يي د جنګونو په اړه پوښتني وكړي. د امير عبدالرحمن د ځانګړتياوو او د هغه د طريقو په اړه يي هم وپوښتلم ترڅو چي نايب يي له دوو نوكرانو سره راننوت. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر نوکر په شا يوه بورۀ وه، په داسي حال کي چي د صورت حساب پاني ته يي کتل رابرتس وويل چي "ددغي محاسبي له مخي ته د څلور زره روپيو مستحق يي او هغه دا دي."

مور. سره خداى په اماني وکړه او دا دى زه دلته يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امير عبدالرحمن د واكمنۀ لومړی كال (1880_1881)

اوازې وې، چې امير چاريكارو ته نږدې كيږي. له بدخشان نه يو ډاډ وركوونكی ليك راورسيد، د نورو څيزونو په ترڅ كې پكې ليكل شوي وو، چې "زه به له خپلوانو او دوستانو سره هغسې چلند وكړم، چې زما نيكه )امير دوست محمد( كاوه او كوښښ به وكړم، چې ستاسې د ملاتړ او دوستۀ حق ادا كړم."

وروسته څرګنده شوه، چې زما د پلار نوم د هغه د دوستانو په ډله كې دی، چې د انګريزانو په سپارښتني سره د هغه له خوا برابر شوی و. برتانويان چاريكارو ته د هغه تر راتلك نه دمخه له هغه سره د سولې د شرايطو په اړه پوهاوي ته رسيدلي وو. خلك خوښ وو، چې په پای كې يو افغان پاچا زوی او د تخت وارث ومونډل شو. امير په خپل وار خانانو ته ليكونه استول او په هغو كې يې د سولې كوښښونه د ملي ګټو پر بنسټ شرح كول. په دغه مقصد چې هيواد د بانډنيو له منګولو نه ازاد كړي. هغه خپل پيغامونه په وعدو او انعامونو سره خواږه كول.

پلار د هغه يوه ليك ته ځواب وليكه، چې شخصاً زه به يې وررسوم. دري ورونه، چې وزيرخيل قوم ته منسوب وو، د پلار له دوستانو سره به چاريكارو ته زما د تك ملګري وي. په دريمه ورځ زه له خپل اس نه ولويدلم او بجلكه مې بيځايه شوه. زما د درد چيغې اسمان ته رسيدلې، په ډير كړاو سره په هماغه ماښام د امير ديره ځای ته ورسيدلو. څنګه چې له هغو دري ورونو ته يوه يې د امير او انګريزانو ترمينځ پيغامونه وړي وو، دغه ليك يې وروسپاره. دوی زما مشكل هم ورته بيان كړ. امير حكم وكړ، چې زه بايد هغه ته وروستل شم. دغو ورونو ورته كړه، چې هغه په سخت درد اخته دی او له علاج نه وروسته به يې په حضور مشرف شي، خو امير تينك و او ويل يې چې "د هغه علاج بايد دلته زما په مخ كي وشي."

يو څو نوكرو زه هغه ته يووړم، په داسې حال كې چې له ويرې نه رېږديدم، ما خپل احترام ورته ادا كړ. "اوه، ته خواركی، نو ته د كاكا طرزي زوی يې؟" بيا يې نو خپل جراح يو ازبك راوغوښت، چې زما د بجلكې چاره وكړي. جراح راته نږدې شو او ارامولم يې. د قالينې يوه څنډه يې جكه كړه او په چاكو سره يې په ځمكه كې يو سوری وكاږه. زه يې ستونی ستغ كينولم او بې له دې چې زما دردونو او واويلاوو ته توجه وكړي، زما بيځايه شوې بجلكه يې په سوري كې ننويستله. هغه يې په خپلې پښې سره په زور كيكاږله ترڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زما بجلکه بيرته پرځاى شوه. بيا يې تينګه بنداز کړه، سمدلاسه زه له درد نه خلاص شوم.

امير خپله مهرباني په نورو بنو هم وښودله. يو خاورين برك اس او دوه نوکران يې زما په اختيار کړل. ما په دغې زده کړي پيل وکړ، چې اس څنګه زين او قيضه کړم؟ ماته د لومړي ځل لپاره د عسکر کيدو او سفر کولو ذوق پيدا شو.

بيا نو موږ د امير او پوځ ملګري شو، چې د ذمي غونډۀ ته ورشو، چې له پلازمينې نه دوه کړۀ ليرې پرته وه. په يوې شني غونډۀ باندې يوه لويه خيمه وه، چې شاوخوا يې نورې خيمې وهل شوي وې. هلته د افغانستان امير او انګريزانو د دوستۀ يو تړون لاسليك کړ، چې د هغه له مخې برتانويان به په 48 کړيو کې خپل پوځ له کابل نه راوباسي او هيواد به عبدالرحمن ته سپاري.

ښه به دا وي، چې ددغه تړون نوري مهمې مادي دلته راوړم:

**1**_ د کوکناري د غميزي په بدل کې به بالاحصار، چې ټول وران شوى، بيرته ودان نه شي.

**2**_ موجودي پولي به د اعتبار وړ وي او د يوه ټاکلي کميسيون له خوا به حدبندي شي.

**3**_د دواړو حکومتونو ترمينځ به هغه سياسي اړيکي پرځاى وي، چې د امير دوست محمد وختو ته به رسيږي.

**4**_برتانويان به د روسيي د تيري په مقابل کې هر کال د دفاعي مقصد لپاره يو نيم ميليون روپۀ ورکوي.

**5**_ د افغانستان يو استازى به د وايسراى له خوا منل کيږي او يو مسلمان هندى به د دوايسراى د استازي په توګه د امير له خوا منل کيږي(31).

دغه مادي په څرګند ډول ښيي، چې افغانستان د امير دوست محمد له واکمنۀ نه وروسته خپلواکي نه لرله او دا سړى په فکر کې اچوي، چې ولې دغسي وشول(32). زما په نظر ددي لپاره دغه لاملونه راوړل کيدلى شي. يو دا چې افغانان د پوره خپلواکۀ په مفهوم نه پو هيدل(33). نو دا عجيبه نه ده، چې د خپلواکۀ ذکر نه په سراج التواريخ او نه په تاج التواريخ کې شوى دى، چې دواړه د امير حبيب الله په دستور کښل شوي دي(34). داسي ښکاري، چې افغانان هم د مزاج او هم د طبيعت له مخې د نورو عقيدو له خلکو سره يو خه دښمني لري. دوى د مينې تعصب دغه کار ته هڅوي، نو په دي ډول دوى ښه کنې، چې د څو کاپرو پرځاى له يوه کاپر سره معامله وکړي. که په ذمه کې د خپلواکۀ مفهوم او پايلي يې شي درك شوي واى، تر هغه به يو عزتمن تړون لاسليك شوى واى. د هرڅه په نظر کې نيولو سره په کندهار کې برتانوي پوځ ټول مات شوى او محصور شوى او خلك هر چيرې د جهاد لپاره تيار وو. يواځې په کوهستان کې يو نيم لك

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګيالي امر ته سترګي په لار وو. که دوی او نورو او داسي هم د کندهار غازيانو خپل قومونه سره يوځای کړي وای. برتانويان به اړ شوي وای، چي د افغانستان پوره خپلواکي ومني.

خو افسوس او زر افسوس، د دوو تربورانو ترمينځ سيالي او دښمني )امير عبدالرحمن او سردار محمد ايوب( دوی دومره سره ليري کړي وو، چي دوی انګريزانو ته د لا نږدي والي احساس کاوه حتی د سکه او ناسکه ورونو ترمينځ دومره مخالفت و، چي امير محمد يعقوب ويل:"خدای دي نه کړي چي زه د ايوب په رسته تخت ونيسم."

په ذمه کي وضع ورته وه، بلکي لا بده وه. دبيلګي په ډول برتانويانو له عبدالرحمن سره د مرستي په نامه محمد ايوب په کندهار کي وواهه. د ايوب عکس العمل دا و، چي تر لاس لاندي روحانيانو ځخه وغوښتل چي د هغه د تربور په مقابل کي جهاد اعلام کړي. ددي مانا دا کيدله، چي هغه او د هغه پلويان نور نو مسلمانان نه دي. برتانويان د تل په شان ډير خوښ وو، چي له دغو دښمنيو او کينه ناکو رقابتونو نه ګټه اوچته کړي.

په پای کي د يادولو وړ ده، چي د افغان قومونو سريله توب په اړه، چي انګريزان يي مات کړي وو، د امير عبدالرحمن انديښنه رښتيني وه. ددي لپاره چي هغوی لاندي کړي، هغه په عاجل ډول وسلو او پيسو ته اړه لرله. ذمي ته چي بيرته وګرځو، جنرال رابرټس ځيني پوځونه له لوازمو او يو شمير "عزتمنو" متحدو سردارانو سره پيښور ته واستول. بيا نو په خپله يي د يوه غوره شوي پوځ په قوماندانۀ کندهار ته مارش وکړ، چي خپل محصور شوی پوځ له ماتيدلو نه وژغوري. د هغه بل مقصد دا و، چي کندهار د امير مامورانو ته وسپاري)35(. رابرټس په مشکي کي په يوه سخت جنګ کي افغان قومونه، چي پخواني ايسار شوي عسکر هم ورسره يو ځای شوي وو، مات کړل او سردار محمد ايوب او پوځ ته يي دغسي ضربه ورکړه، چي هرات ته په شا شو، بي له دي چي په لاري کي تم شي. رابرټس ته ددغه بريالي توب په وياړ د "کندهار رابرټس" لقب ورکړل شو.

په عين حال کي امير عبدالرحمن کابل ته ننوت او د شيرپور کندهاري ور يي خپل موقتي مرکز وګرځاوه. پلار مي ورته ځان حاضر کړ او له هماغي ورځي نه د هغه مصاحب شو. هره ورځ به زه له ده سره دربار ته تللم او تر ماښام پوري به هلته پاتي کيدلم. په نتيجه کي زموږ په ژوند طرز کي پوره بدلون راغی، له هغي ورځي نه چي امير ماته خاورين برك اس وباښه له اسونو سره مي شوق تر دي حده پيدا شو، چي حتی په خوب کي به مي هم ليدل. ماته نوکران او ساتونکي هم راکړل شول، چي د دربار د سردارانو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضروري وو. د پلار معاش مې ځلور واري ډير شو او يو ښه كور زموږ په اختيار كې شو. دغو تجربو نه يوازې زما پوهه ډيره كړه، ديته يې هم وهڅولم، چې د ډيرو نويو چيلنجونو لپاره ځان تيار كړم.

په دې ډول زه د سورو لرونكيو مشرانو په قطار كې حساب شوم او د پنځوسو سورو ساتلو امتياز مې ترلاسه كړ. تاسې د ټولو هغو څيزونو تصور كولى شئ، چې زه يې بايد وكړم: پنځوس ځوان وړ سواره استخدام كړم، پنځوس پياوړي او روغ اسونه واخلم او هغو ته ضروري څيزونه لكه وسلې، جامې او نور برابر كړم. دلته بايد اعتراف وكړم، چې ددغو ټولو په زړه پورو چارو په څنګ كې د عربي ژبې صرف او نحو زده كول نه يوازې زړه بدوونكي وو، بلكي د زغم وړ هم نه و، په تيره چې زما د خپلې ژبې ګرامر پوره له ياده وتلى و. خو وخت چې ما دغه ذهني قيدونه خپل معلم ته ويل، هغه به ځواب راكاوه چې له عربي ګرامر نه پرته يو څوك حتى قرآن مجيد هم سم ويلى نه شي.

دمخه مې د ځينو افغانانو د سرايله توب موضوع، چې تينګه وه بيان كړه، چې په هغو كې سرداران، خانان او روحانيان راځي. دوى په واقع كې ډير زړور شوي وو او امير عبدالرحمن يې تر خپل لاس لاندې (Protégé) كانه. د بيلګې په ډول ملا مشك عالم، چې به كله دربار ته، ته مريدان به يې له كور نه تر شيرپور پوري د سړك په دواړو غاړو كې دريدل. بل مشر محمد جان له ورته قدرت نه بهره من شو. امير دغې نتيجې ته ورسيد، چې د هغو د له مينځه وړلو لپاره يوي اغيزناكي نظامي قوي او پاخه سياست ته اړينه ده. د يو خو مياشتو په بهير كې يې دري دغسې كنډكونه، چې هر يوه يې اته سوه كسه لرل، تنظيم او په عصري وسلو سمبال كړل[36]. دى د خپل لومړي حركت لپاره اماده و. يوه ورځ چې دواړه مشران په دربار كې وو، د مخكې تجويز شوي پلان له مخې يې دواړه احاطه او بې وسلې كړل. دواړه يې بندي كړل او محمدجان يې په هاغه ورځ شمال ته واستاوه او چيرته په لار كې له مينځه يووړل شو. ملا مشك عالم بيا په كور كې بندي شو[37].

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امير عبدالرحمن د واکمنۀ لومړی کال

لومړی څيز چې په ياد راځي هغه د امير عبدالرحمن واده دی، د هغه له ترلي بي بي حليمې سره. د واده جشن د رواج له مخې نيول شوی و. د ورا په ورځ ناوي د امير هستوګنځي ته وړل کيدله. هغه په دغسې ښکلي او انځور شوي ډولۀ کې ناسته وه، چې څو کسانو په اوږو وړله. په ډولۀ پسې په سلکونو جپه نونه )Jappans( وړل کيدل، چې د وړې ډولۀ په شان د يوه او يا دوه کسانو لپاره و. سرداران او خانان په يو شمير پيلانو باندې سواره روان وو، د ډولۀ ترمخه د موزيك ډلې او پلټنو نه روان وو. دوی به په خاصو ګامونو سره مارش کاوه او په هر سل فوټه فاصله کې به يې په ټوپکو سره ډزې کولې. د اشرافو زامن، زما په ګډون، پاچايي غلام بچه ګانو او نورو ځوانانو د ناوي په مخ کې د پريټ په حال کې د خپلو وسلو او اسونو ننداره جوړوله.

زه د خوښۀ دوه نور جشنونه هم په ياد لرم، چې زمونږ په کور کې ونيول شول. يو يې د واده او بل يې د يادوني لپاره و. د واده جشن زما د خور و، چې له يوه سدوزي ويزر زوی سره واده شوه. د شادۀ دغه ځلانده پيښه د امير په غوښتنه او د ستور و، چې ټول لګښت يې هغه په غاړه اخيستی و. زمونږ کور د يوې اونۀ لپاره د خوښۀ او سات تيرۀ په جنت بدل شوی و.

د يادوني غونډه زما د نيا بي بي هوا لپاره وه، چې په کندهار کې مړه شوي وه. امير د غم لړلي کورنۀ د غړي په شان پکې ګډون وکړ. بي بي هوا د يوې نوميالۀ او درنې ميرمن په شان په کندهار کې ډير اوږد عمر تير کړی و. په ميان جوی کې يې چې د ارغنداو د سين په خولي کې يې چې د ښې هوا په لرلو سره يو په زړه پوري کلی دی، ځمکه، باغونه او لوی کور لاره. داسې پيښه شوي وه، چې عبدالرحمن پخوا له دې چې په روسيه کې مهاجر شي، د هغه زوی او ښځه په کندهار کې د امير شير علي په امر تر سختې څارنې لاندې نيول شوي وو. سره له دې هم بي بي هوا هغوی په منظم ډول ليدل او هر ډول مرسته يې ورسره کوله. څنګه چې هغه د سردار رحمدل ميرمن وه او هغه د امير شير علي تره و، هغه کوم اعتراض ونه کړ. د هغه بر عکس هغه هر وخت د هغه د احساساتو قدر کاوه.

د عبدالرحمن بله ښځه په روسي ترکستان کې پاتې شوي وه، چې د هغې سيمې د کوم نامتو مشر لور وه. هغه چې د "مير لور" په نامه يادېدله، بې اولاده وه. نو يې له خپلو په نامه شويو نجونو څخه يوه چې د هغې کنيزه وينځه وه، امير ته وړاندې کړه. له دغه پيوستون څخه دوه زامن پيدا شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امير يو حبيب الله )چي له هغه وروسته په **1901** كي امير شو( او بل نصرالله ونوماوه)[37 الف](. امير پخوا له دي چي كندهار ته لښكر وباسي، كابل ته يي د خپلي كورنۍ د راوړلو ترتيب ونيوه. ځنګه چي د امير شير علي د پلان له مخي د شيرپور د چاونۍ تكميلول ډيرو پيسو او وخت ته اړه لرله امير فيصله وكړه، چي يو ډيره ښكلي، ښه ساتل كيدونكي او ډيره ساده مانۍ ودانه كړي او د "ارك" نوم پري كښيږدي.

## كندهار ته لښكر ايستل

په عين حال كي په هرات كي سردار محمد ايوب د واك كتلو لپاره د پلان په جوړولو بوخت شو. د رپوټونو له مخي دى له يوه لوى پوځ سره د كندهار پر لور روان شو. وروسته د امير عبدالرحمن پوځ په ګرشك كي مات او د غلزيو كلات ته په شا شو. په پاى كي كندهار هم د سردار ايوب په لاس ورغى. امير سخت ټكان وخوړ. په يوي اونۍ كي يي خپل لښكر راټول كړ او كندهار ته په بيړه روان شو. د هغه پوځ له **25000** پخو جنګياليو نه جوړ وو. د هغه دري قومندانان په تصادفي ډول غلام حيدر نوميدل، چي هر يو يي بيا د خپل قوم په نامه يادېده لكه توخي اوركزى او څرخي)[38](. څرخي د سرښندني، زړورتيا او هوښيارۍ له امله ګام په ګام پرمخ تللى او سپاه سالار شوى و.

امير غوښتل چي څومره زر كيدلى شي كلات ته ځان ورسوي، چي په خپل مات شوي پوځ باندي د بلي حملي مخه ونيسي. كه په دغه كار كي بيرته پاتي شوى واى، د بريااليتوب چانس به يي ډير لږ شوى واى. له ښه مرغه سردار محمد ايوب د كندهار له نيولو نه وروسته او ملګرو يي په ځښلو او سات تيري كولو پيل وكړ. هغه يوه ورځ په غزني كي تيره كړه. ځنګه چي ما د هغه د سترتوب، كلتور، شتمنۍ او ښكلا په هكله ډير څه لوستلي وو، زه په ژور ډول ناهيلى شوم. هغه څه چي ما وليدل زيارتونه او كنډوالي دي. غزني په واقع كي د يوي غونډۍ دپاسه او تر هغي نور هم دپاسه يوه ټينګه كلا وه، چي د جنګي حصار فكر پري كيږي. موږ په ښار كي له ننوتلو نه ډډه وكړه، كه څه هم ما يي د ليدلو تلوسه لرله، ځكه چي ما هلته د لومړي ځل لپاره سترګي غړولي وي.

امير وكولى شول، چي په يوي اونۍ كي كلات ته ورسيږي. زموږ د ورتلو ورځ رخصتي وه، امير د دري ورځو د تم كيدو امر وكړ، ددي لپاره چي پوځ ارام وكړي او مات شوى پوځ پياوړى شي. امير پخوا له دي چي له كابل نه حركت وكړي، خپل يو قومندان سردار عبدالقدوس يي مامور كړى و، چي له هزاره جات نه په هرات حمله وكړي. مقصد دا و، چي سردار محمد ايوب د ماتيدو په حال كي د بيرته تللو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای نه محروم وي. سردار عبدالقدوس په لار کې د امير له خوا ډير خلك او د هغو لويان وهڅول، چې ورسره يوځای شي. هرات بې له سختۍ نه ونيول شو.

امير عبدالرحمن د زمري په شان چې خپل ښکار ته نږدې کيږي، په دريو ورځو کې او په غور او فکر سره کندهار ته ورسيدل، چې خپل ويروونکی حضور ځرګند کړي.له بلې خوا نه د نه غبرګون په ښوولو سره هغه په دې فکر شو، چې ايوب دفاعي حال غوره کړی دی. هغه سمدلاسه يو نظامي پريټ ونيوه، چې د هرات د نيولو جشن ونيسي. دغه جشن او دغه کار ايوب په تعجب کې کړ(39). د امير مقصد دا و، چې د خپل رقيب معنويات خراب کړي او د خپل نوي ترلاسه شوي قدرت ننداره جوړه کړي.

پوځ په نيمه شپه کې د ښار په مخامخ غونډيو کې ځای پرځای شوی و. امير په خپلې خيمې کې چې قومندانان يې شاوخوا ولاړ وو، د دوو شمعو په رڼا کې د جنګ پلان وايست. زما د سورو معنويات لوړ و، ما د جنګ له خطر نه انديښنه نه لرله. زما ټول فکر دېته متوجه و، چې زه به په جنګ کې ځنګه تبارز وکړم، چې د امير توجه جلب شي؟ زما ډير خوبونه د نشتو په اړه وو، چې په هغو کې زما اس تر ټولو دمخه وي.

بل سهار د وخته چې د لمر روښانه کوونکي لومړۀ وړانګې د غرونو په څوکو کې وځليدلې، زموږ ټوپونو ډزې وکړې او بيا پريتونه او مارشونه پيل شول. مقصد دا و، چې د ايوب توجه ختيځې خوا ته واړوله شي او موږ له لويديځې خوا نه يرغل وکړو، چيرته چې زموږ ټولي لښکرې په واقع کې ورو ورو ټولې شوي وې. مقابل لوري ته وخت له وخت نه تير و، چې خپل پوځونه په اغيزناك ډول له سره ځای پرځای کړي. د دواړو خواوو د مخکينيو واحدونو ترمينځ نښتې پيل شوي. د جګړې لاندينی بيان زما د خپلو ليدنو کتنو له مخې دی.

کندهار زموږ په شي خوا کې و، مخامخ مو د نکار غونډۀ د ديوال ډولې غونډۀ په خير ولاړه وه، چې د سر په اخره کې يې د نيمروز نامتو ښار ) چې اوس زوړ ښار نوميږي( پروت و. له ډېې نه يې چې باغونه او پټې غځيدلي وو، زموږ په کينې خوا کې پراته وو. د سردار ايوب سواره کنډکونه چې ټول شمير به يې دوه زره وو، په ډېو کې زموږ دقرارګاه او کينې خوا باندې د حملې کولو لپاره ځای پرځای شوي وو. سردار او ملګرو يې د زاړه ښار د تينګ حصار د کنډوالو ترمينځ سباناری کاوه. کندهار په ټوليز ډول د يوې جنګې کلا بڼه غوره کړې وه او د ارتباط محفوظې لارې جوړې شوي وې.

د امير د خپلې شخصي قوماندانۀ لاندې درې کنډکونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاص ساتونکي وو، چې په سرو واسکتونو، سپينو پرتګونو سره د خاتول ميدان ته ورته وو. دوی زموږ کينې خوا ته د باغونو او خندقو تر شا ځای پرځای شوي وو. سورو لرونکيو لويانو دغسې موقع نيولي وه، چې کولی يې شول هري خوا ته يې چې زړه وشي، ورشي. د امير مقصد دا و، چې کندهار ګوښه کړي او په پرله پسې حملو سره يې محصور کړي. داسې ښکاريده، چې دی د جنګ پوره کنترول په لاس کې لري. په داسې حال کې چې په خپل نصواري رنګ اس سپور و او د ګوليو د بارانونو پروا يې نه کوله، دی هر چيري حاضر و او خپل پوځ يې ځای پرځای کاوه او لا پياوړی کاوه. يو وخت مې وليد، چې يوه وران شوي توپ ته منډه کوي، چې د ترميم کولو او امتحان کولو څارنه يې په خپله وکړي.

د هغه پرخلاف ايوب په داسې حال کې چې پوځونو يې له زاړه ښار نه دفاع کوله، لا هم په سباناري بوخت و. د کندهار رضاکاران له لونګونو، چاکوګانو او ډنډو سره د خپلو ملايانو او طالبانو په تينګار د جهاد لپاره سره ټوليدل. دوه مهم ملايان چې خلکو ته د اعتبار وړ وو، د ايوب له خوا اړ شوي وو چې فتوا ورکړي، چې له امير سره جنګ کول لکه د کاپرو سره چې جنګ وي. کندهاريان چې يې فکر کاوه د جنت ورونه يې پرمخ خلاص دي، د ګوليو او ډزو د بارانونو په مقابل کې په بيړه روان وو.

زه له يوي عجيبې صحنې سره مخ شوم، زموږ پر وړاندې له توپچيو سره يوه ډله توپونه وو، بې له دې چې له ملايانو او طالبانو نه پرته بل څوك ورسره وي او دوی چيغې وهلې چې "ياچاريار! دا جهاد دی، دا د کاپرو پر ضد جهاد دی." له بلې خوا د هغوی ملاتړ سواره بيل شوي وو، چې د خپل حرص له کبله زموږ کيمپ چور کړي.

د جنګ صحنه ناڅاپه بدله شوه، له مقابلي خوا د توپونو اواز غلی شو. وروسته چې زوړ ښار زموږ له خوا پرلپسې او په تينګه وويشتل شي، سردار محمد ايوب د ترصد د برج له سر نه خپله پيالې په ځمکه ووهله، په خپل اس باندې يې توپ کړ او وتښتيد او په سختو لارو ايران ته لاړ[40]. کندهار تسليم شو، امير عبدالرحمن پوره بريالی او په ټول هيواد باندې يې حکم جاري شو.

زما پلار د امير د مصاحبانو د مهم غړي په توګه کوښښ وکړ، چې څومره کولی شي کندهاريان وژغوري. موږ هم چې صحنې ته ورسيدلو، د هغه په پله روان شو. موږ د امير له حکم سره سره چې په جنګ کې ګډ شوي ټول کسان بايد ووژل شي، اټکل دوه سوه کسان له وژل کيدلو نه وژغورل. امير پلار ته د درناوي له لامله زموږ کوښښونه وزغمل، خو په زړه کې يې واچوله.

د مړو او ټپي شويو تيتو جسدونو د چمنونو، باغونو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکو میرو د نښتو ځایونه د ذبح په ډګر بدل کړي وو. امیر په داسي حال کي چي په یوي صفي ناست وو او قوماندانان او مهم سرداران یي شاوخوا ولاړ وو، د خپل پوځ د تګ ننداره وکړه. همدا چي پریت پای ته ورسید، هر یوه خپلي خیمي ته مخه وکړه. ما خپلي خیمي ته په رسیدلو سره حس کړه، چي ډیر ستړی شوی وم او همدا چي خپله بستره مي ولیدله، هغه څه مي چي کولی شوه دا و چي ملاوستني او توپك ایسته وغورځوم او په بستره باندي اوړد وغځیږم.

زه تر سهاره پوري په درانده خوب ویده وم او سهار د لمانځه لپاره پاڅیدم. پلار غوښتل چي میان جوی ته ولاړ شم، چي خپل کور له تالاکرو او سرتیرو نه وژغورم. امیر څرګنده کړي وه، چي سرتیري کولی شي کندهار )په یوي شپي او ورځي کي( تر شپږ کیلومتري پوري چور کړي. دا یوائي د انعام لپاره نه و، بلکي د مغلوبو د جزا لپاره هم و، چي د ملایانو په هڅوني سره یي په جنګ لاس پوري کړی وو. ما ځان ناتوانه او بي حرکته حس کاوه، له خپلو نورو ملګرو سره چي پینځه یي وژل شوي یا ټپي شوي وو، موږ د میان جوی په لور روان شوو. په لار کي مو د خلکو له چیغو او واویلا او د سرتیرو له چور نه پرته نور څه نه لیدل، خو دوی له دینه منع شوي وو، چي وژل وکړي یا ټپي او باغونه له حد نه ډیر چور کړي.

موږ د اروابښادي مور واړه انګړ ته ورسیدلو، دننني انګړ یي له دوو باغونو سره د شخصي هستوګنځي لپاره و. دا په معمول ډول د اوړي کور و او کوټي، حمام، پلخنځي او نور څه یي لرل. سرتیرو هغه د ځلورم ځل لپاره تالا کړی و. ټوله کورنۍ د پلار د هرکلي لپاره ستړګي په لار وه، زما ناسکه ورونه ګل محمد او خالق او د هغوی مور هلته وو. وروسته له اوږده بیلتون نه چي خه روغبړ کول، افسوس خوړل، ژړل او خندل چي هلته نه وو. دغه خاوري لیکونکی که څه هم په اصل کي د کندهار دی او د خپل وړوکتوب دوه لومړي کلونه یي هلته تیر کړي وو، دا په غم لړلي حال و چي د لومړي ځل لپاره یي خپل وطن، مور، ورینددار او وریرونه ولیدل. په خاص ډول د خالق ورور لیدل، چي هغه یو خوږ ملګری هم و، د هغه له سترګو نه یي اوښکي و بهولي.

موږ په کور کي ناست وو او چای مو لا خلاص کړی نه و، چي د جنرال فراموز د راتګ مو واوریدل. څنګه چي هغه له پلار سره خاص اخلاص او ټینګه ملګرتیا لرله، موږ داسي ګڼله چي هغه ددي لپاره راغلی، چي له موږ سره ورځ تیره کړي او د کباب، چلاو او شیرچای مزه وڅکي. موږ چي ننوتلو، فراموز او ورسره یو څو نورو منصبدارانو ملګرو یي قدم واهه. په منده یي پلار، زه او خالق په غیږ کي ونیولو او په داسي حال کي، چي پلار ته یي کتل، وویل چي "محترم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار صاحب! د ملكرتيا لپار دا نه ده، چې ته دلته له مور نه پرته ميله او مزه وړې. پردي سربيره دا يوه مناسبه ورځ هم نه ده، ځكه چې پاچا دربار خلاص كړى او هر يو ورته ورځي او مباركي وايي."

پلار په ځواب كې وويل، چې "له معلوماتو نه دې مننه، خو زه دلته راغلم چې كور مې له تالاكرو نه وژغورم، ما هيڅ فكر نه كاوه چې نن به دربار وي، خو راځه چې پخوا له دې چې هلته لاړ شو، يوه پياله چاى وڅښو."

يو څه وخت وروسته مور په اسونو سپاره د كندهار په لور وخوځيدلو. د عادت له مخې ما د ويالو او خندقو له پاسه خپل اس ځغلوه او خيزونه وهل، چې په دغه وخت كې زما مصاحب ورسيد او راته يې كړه چې "څنگه دې زړه دى، هغسې خيز وهه، خيز وهه. ويريږم چې دا به دې وروستۀ ځغستا وي. شاوخوا دې وگوره." ما وليدل چې د سورو ډلې مور نه چارپيريږي او جنرال فراموز له مور نه ليري كيږي. د هغو له وضع نه ښكاريده، چې مور معزول شوي يو او دوى زمور د نيولو اراده لري. همدا چې د امير هستوكنځي ته ورسيدو، گومان مو په يقين بدل شو. همدا چې مور پلي شو، پاچايي سرتيرو زمور سړيو او اسونو ته منډه كړه. د امير خيمه له افسرانو، خانانو او سردارانو نه ډكه وه. امير زما له پلار نه وغوښتل، چې مخې ته يې كينې. په داسې حال كې چې يو ليك يې ورښوده )چې بې له شكه د ايوب په پلوي و( ويې پوښته چې "دا ستا ليك دى؟".

پلار ليك ولوست او په ځواب كې يې وويل چې "نه، دا زما ليك نه دى." "ته څنگه له دينه انگار كوې؟" بل څوك په دغه ډول ليكل كوى شي؟؟"(41). زه نه پوهيږم، چې بل څوك به دغسې ليكنه وكړي، خو په دې پوهيږم چې دا زما ليكنه نه ده او دغه حقيقت دى." په دغه وخت كې د كوهستان يوه خان د پلار هغه ليك له جب نه وايست، چې څو ورځې دمخه يې وراستولى و. "راځئ وگورو كه دغه دوه ليكونه سره ورته وي." يو درجن نورو ملگرو هم هغه ليكونه وړاندې كړل، چې پلار په دغو نږدې وختو كې وراستولي وو. ما هم د پلار په قلم يو څو شعرونه وړاندې كړل، چې ټول يې ووينې. هغه يو شان نه وو.

امير لومړى كس و، چې وغږيد. "گوره دغه ليكونه سره ورته نه دي. داسې ښكاري چې ته په هر ډول وغواړې ليكلى شې. پلار مې وويل چې "دا يوه پلمه ده، ته په زړه كې څه اصلاحات لرې، چې پخوا دې له ما سره پرې خبرې كړې وې. اوس چې غواړې پلې يې كړې، شرع يې له ما نه كوې." "زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دينه پرته بل هيڅ په زړه کي نه لرم، چي ته بايد د حج ادا کولو لپاره مکي ته ولاړ شي." "دا به ستا ډيره مهرباني وي چي له ما سره يي کوي." تحقيق پای ته ورسيد او امير خپل د دربار آمر بای محمد ته امر وکړ، چي تر تبعيدلو پوري مونږ بندي وساتي. له دغي دقيقي نه وروسته زمونږ نه پای ته رسيدونکي نيکمرغي په سختي بدمرغي واوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دوزخ او د هغه د ساتونکيو يوه منظره

هو، بې له مبالغې نه موږ د دوزخ د ساتونکيو له نمونو سره چې په مبارك قرآن او نورو کې يې ذکر شوی، مخامخ شو. د امر مطابق موږ د دربار په هغه مامور پسې روان شولو، چې يو ناشولته، ناوړی، بيسواده، جلاد ډوله ازبك و. له مخ نه يې د بې رحمۀ او ناوړي چلند نشې ښکاريدلې، د بڼ آخر ته يې ورسولو چې هلته د هغه او دنورو نوکرو د اوسيدلو لپاره خيمې قطار ولاړې وې. هغو ته نږدې يوه لويه خيمه وهل شوې وه، چې له هغې نه د بندې خانې کار اخيستل کيده، خو نور بنديان چې په غاړو او پښو کې يې زولنې وې، د يو څو رژيدونکيو پلو دپاسه په نيم لوڅې حال کې ناست وو.

موږ چې په خيمه کې دننه شوو راته امر وشو، چې په هغه ګلم باندې کينو چې پکې خور و. صاحب په داسې حال کې، چې په يوه کټکې باندې ناست و، په دوو شډلو او ربړ ورکوونکيو نوکرو باندې غږ کړ، چې "جامې يې وباسې، نور نو هغه ته اړه نه شته." هغو د پلار په لور منډه کړه، چې قيمتې، طلاکارې شوی شال او بالاپوش يې وباسي. پلار په سوچه کندهارې او محمدزي ډوله غضب سره هغوی وايستل او وويل چې "دوی ته نه شايي زما جامې وباسې. که حاجب صاحب جامو ته اړ وي، زه به يې په خپله وباسم." د جامو په ايستلو يې پيل وکړ او خپل قيمتې کالې يې ور غوزار کړل: بالاپوش، يو ډير ښکلې واسکټ او د سراو ملا خامك دوزې شوې ډيرې ښکلې پټۀ ګانې، چې د هغه حرص يې پارولی. څنګه چې زموږ جامې ګرانې نه وې، هغه موږ ته توجه ونه کړه، خو هغو زما ملاوستنې، توره، توپانچه، بوټان او څريدلې چاړه يا خنجر، د شعرونو يوه وړه کتابچه چې په ښکلې خط ليکل شوې وو او يو وظيفات چې مور مې زما په غاړه کې اچولې و، رانه واخيستل.

په لږ وخت کې دوی زما د پلار له نوکرو څخه يو له کاليو او نورو څيزونو سره رادننه کړ، ټول څه يې ترينه په زور خپل کړل او هغه يې له بڼ نه وشاړه. په لمر پريوتو سره دغه خيمې ډاروونکې او دوزخ ته ورته منظرې وې. يوه ژوره تياره راخوره شوه، د بندې خانې مخې ته اور بليده، سربيره پردې چې شاوخوا يې يو څه روښانه کړ، له هغه نه يو ګڼ تريخ لوګی وته، چې بندې خانه او زموږ سترګې يې ډکې کړې او په دغې ناڅاپې غميزې يې زموږ اوښکې د درد له ژړا سره ګډې کړې.

بای محمد دوه کړۀ وروسته له امير نه راغی او په خپل کټکې باندې کيناست، چې ددغې پريکړې اعلام وکړې:"لومړی دا چې تر هغو چې د محترم غلام محمد طرزي او زامنو د سفر ترتيب نيول کيږي، دوی به د حاجب تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څـارني لانـدي وي. دويـم، سـردار تـه بـه هـر څاشـت او ماښـام لـه پاچـايي پخلنځـي نـه دوه غـوري پـلاو لـه قـورمي سـره رسـيږي. دريـيم، سـردار لـه دينـه منـع دی، چـي لـه بانـدي سـره اړيکـي تينـګ کـړي، خـو لـه کـور نـه بـه يـي دغسـي ځيزونـه لکـه ډوډۀ او جـامي وررسيږي. ده ته دا د پاچا حکم دی، ورته دعا کوه."

پـلار:" مـوږ بـه هـيڅ داسـي نـه کـړو، دعـا بايـد پـه خپلـه وشـي او لـه زړه نـه راووځـي." بـای کـړه چـي "تـه دا ځيزونـه پـه خپلـه پـوهيږي، زه نـه پـوهيږم." هغـه نـو بيـا امـر وکـړ، چـي ډکـروال دي حاضـر شـي. دوه نـوکران پـه خيمـه راننوتـل او لـه نـيم درجـن زنځيـر شـويو بنـديانو نـه يـي هغـه ونيـوه، چـي لـه ځـان نـه يـي شـال راتـاو کـړی او پريښـانۀ وړی و. هغـه يـي لاس نيـولی پـه کشـولو سره حاجب ته بوته.

"ډکروالـه! راځـه حقيقـت وايـه، ولـي ځـان او مـوږ ربـړوي. د ايـوب د يـوه نـږدي مصـاحب پـه شـان تـه بايـد پـه دي پـوه شـي چـي دغـه ليکونـه چـا اسـتولي وو؟" بيچـاره ډکـروال چـي لنـډ قـدی هراتـی و، پـه خپلـي خاصـي لهجـي سـره وويـل چـي "محتـرم حاجـب صـاحب! پـه ټـول احتـرام سـره تـه لـه پـرون راهيسـي لـه مانـه همدغـه پوښـتنه کـوي، تـا پـرون سـل واره پـه ډنـډي سـره وهلـی يـم، د يـوه عسـکر پـه توګـه زمـا کـار د بيـرون و، دغـه خـوار روح به څنګه په هغه ځيز خبر شي، چي دننه پيښيدل؟."

حاجـب پـه خپـل خـاص ازبکـي قـار سـره ريږديـده )وايـي چـي صـد رحـم ازبـك، يـك قهـر افغـان.( "تـه کـه حقيقـت نـه وايـي، تاتـه بـه وښـييم چـي حقيقـت څـه ځيـز دی." هغـه يـوه نـوکر تـه اشـاره وکـړه، چـي د ډکـروال د پښـي پونـده تـر يـوه نيمـايي شـوي ميـوکي پـوري وتـړي. نـوکر يـوه پانـه ننويسـتله او پـه داسـي حـال کـي، چـي ميـوکی يـي نيـولی و، نـورو هـدايتو تـه منتظـر ودريـد. زه نـو اوس پـوره پـوه شـوم، چـي لـه پـاني نـه د کړولـو د يـوي وسـيلي په توکه څنګه کار اخيستل کيږي؟.

پـلار ددي ليـاره، چـي دغـه غـم لړلـي صـحنه يـي ونـه ګـوروي، د خـوب پـه سـتره بسـتره کـي پريـوت او پـه داسـي حـال کـي، چـي خپلـي سـترګي يـي پـه لنکـوتي سـره پټـي کـړي وي، ويـده شـو خـو مـا او خـالق پـه ناطاقتـۀ سـره انتظـار کـاوه، چـي نـور بـه څه پيښيږي.

"ووايـه! وبـه يـي وايـي يـا بـه يـي ونـه وايـي؟" "صـاحبه! زه څـه ووايـم؟ څنګـه د يـوه ځيـز پـه اړه څـه ووايـم، چـي پـري خبـر نـه يـم؟" "اوه! تـه لعنتـي کـاپر، تـه هـيڅ پـه درد نـه خـوري." بيـا نـو هغـه پـه نـوکر بانـدي امـر وکـړ، چـي ميـوکي تـه تـك ورکـړي. بيچـاره ډکـروال چيغـي کـړي:"د خـدای ليـاره والله کـه راتـه معلـوم وي." نـاري يـي سـر کـړي، دغـه سـخت زړي سـړي پـه دغـومره قـوت سـره تـك ورکـړ، چـي د بنـدي لـه ګوتـو نـه وينـي وبهيـدي. پـه زړه سـوځوونکي چيغـي سـره بـي هوشـه شـو، نـوکر پښـه ورخلاصه کړه چي بيرته په هوش راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا نو د يوه ميرزا وار راغی، چي دغه بدبخت هم د هرات او د ايوب د حساب د دفتر غړی و. هغه چيغي کړي، چي "د خدای لپاره زه نور دغه پانه زغملی نه شم، لاسونه او پښي مي شل شوي دي." لعنتي حاجب په غضب سره چيغي کړي، چي "غم مه کوه، زه به ستا ښکلي لاسونه او پښي تپي نه کړم، نن شپه د سرو تيلو وار دی، د سرو تيلو!" خوارکی محاسب په داسي حال کي، چي زاري او عذر يي کاوه، د دوو نوکرو له خوا په زور يووړل شو. يو څو شيبي وروسته دوی يو څه تيل په يوه لوښي کي واچول او په منقل باندي يي کيښود. په ليدلو سره يي بيچاره بندي زارۀ پيل کړي:"حاجب صاحب! زه به زر ځله خپل ځان له تا نه قربان کړم، زه يي زغملی نه شم، سمدلاسه مي ووژنه." "ميرزا صاحب! موضوع ستا په لاس کي ده، راته ووايه چي يو نيم لك ورکي شوي روپۀ چيري دي؟" "دغه او هغه کاپر حقيقت هيڅ نه وايي، شا يي لوڅه کړئ." هغه جارو په تيلو کي تخته کړه او يو څاڅکی يي پريښود، چي په ملا يي ولويږي. ميرزا په ساه نيولي اواز وستميده "مهربانه خدايه!" او بي هوشه شو.

اوس نو د دريم بندي وار و. "قوماندانه! رادمخه ښه." حاجب په پوچو ويلو شروع وکړه. يو دنګ ځوان او د خوښي طبع خاوند په وقار سره جلك شو، په داسي حال کي چي د زولنو څوکه يي نيولي وه، د هغو د کړپ او کړوپ په مينځ کي راښكاره شو. "قوماندان صاحبه! راځه حقيقت ووايه، څله مور او ځان ربړوي. ووايه چي چا له کابل نه ايوب ته ليکونه استولي وو؟". د قوماندان قواري او کړو شودله چي د درني کورنۀ سړی دی او دا اول ځل دی، چي له تحقيق او کړاو سره مخ کيږي.

" زه د ايوب نږدي مصاحب نه وم، زه به د ورځي يو ځل دربار ته تللم، کله به مي سلام وکړ او ستون به شوم. په نورو وختو کي به مي د څاشت ډوډۀ خوړله او بيا به رخصتيدلم. څنګه به له دغسي شخصي موضوع ګانو نه خبريدلی شوم؟ که ته زما په خبرو باور نه کوي هر ښه مسلمان وپوښته. زه په دي پوهيږم، چي ته به د نورو په شان ما هم وکړوي. څنګه چي زه د قين او پاني تاب نه لرم، ځان به ووژنم. ښه به دا وي چي ته ماته هغه سړی وښيي، چي غواړي ته يي تورن کړي او زه به د هغه نوم درکړم او خپله ازادي به وګتم." "له هزاره حسن علي نه يو ليك رارسيدلی دی." "دا لومړی ځل دی، چي ته د هغه نوم اخلي. څنګه غواړي چي ځواب درکړم؟ هو، يا نه؟" حاجب په تعجب کي شو، هيجاني او ګډوډ شو، په خپلو سږيو باندي يي غږ وکړ چي "دغه سړی ډير سپين سترګی دی، دا به ټوله ورځ او زموږ د کړولو د ټولو وسيلو استعمال ونيسي، چي دی د بلبلي په شان په خبرو راوستل شي. ته بدکاره انسانه! ځغله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه ويده ښه، د سبا لپاره تيار اوسه."

دا د بای محمد د بې رحمۀ او کړولو د ډرامې وروستۀ پرده وه، چې له هغه وروسته جك شو او لاړ.

د دوزخ د تيلو بوی ناك سور رنګه دود ورو ورو لړيده، د دوزخ ساتونکي خپلو خيمو ته ستنيدل، سرتيري له نيغو نيزو سره خوريدل. د سوځول شوي پوتکي د مخ د ويښتو مردار بوی چې له خپه کوونکيو او تينګو زاريو سره ګډيدل، زما احساسونه يې دړي وړي کړل، تر دې حده چې له خوب نه يې محروم کړم او له سترګو نه يې راته ترخې اوښکې وبهولي. موږ نه پوهيږو چې د حاجب دغه کړه ددې لپاره وو، چې موږ وډار کړي يا د کوم بل مقصد لپاره؟ کيدلی شول چې هغه په کومې بلې خيمې کې شوي وای.

دغه ويروونکې او د بيخوبۀ شپه پای ته ورسيده، په سبا يې حاجب راښکاره شو چې ووايې "تولو اوږده شپه مې کار وکړ، چې د تاسو لپاره ددغه بڼ په تهکاوي کې يوه کوټه پيدا کړم. تاسې به هلته ښه ارام اوسئ، جك شئ چې ځو." دغه کوټه نمجنه وه او يو څو توتي ګلمونه پکې غوړيدلي وو. د پلار لپاره مې له بستري سره يو کټ او زما او زما د ورور لپاره دوه توشکي، دوه بالښتونه او دوه خيرنې کمپلې پرتې وي. د اوبو يو صراحي او يوه مسې کاسه هم زموږ لپاره هلته ليدل کيدل. په مثبته خوا کې يو څه کورنۀ غذا، ميوې او نور خه له کور نه استول کيدل.

کوم څيز چې زه يې وساتلم او د بندې توب کړاو يې راته کم کړ، هغه زموږ د تبعيد او د پلار لپاره د حج د ترتيب نيولو هيله وه. دا به په ما کې د سفر لپاره يوه ژوره علاقمنې وتخنوي او شې هيلې او خيالونه به مې روښانه کړي. حاجب به مې هره ورځ پوښته چې "دوی به څه وخت موږ حج ته واستوي؟" هغه به ويل چې "غم انديښنه مه کوه، هغه به زر وشي."

د امير سرتيرو دوه ورځې وروسته د هيلې پرخلاف زموږ ورونه ګل محمد او شير محمد ونيول او زموږ بندي خانې ته يې راوستل. پلار چې ورسره خپه و، په دې چې هغوی په ظاهر کې په يوې حساسې شيبې کې هغه پرې ايښې وو، ورسره په بې ميلې سره روغبړ وکړ. خالق او زه ډير خوښ شوو چې دلته به يې ولرو، که څه هم په بندې توب يې خپه وو. موږ يواځې سره ورونه نه وو، ښه ملګري هم وو.

که زه ټول هغه څه بيان کړم، چې هره ورځ پيښيدل، هغه به پای ونه لري. په لنډ ډول زموږ بندې توب درې مياشتې اوږد شو. موږ څلور ځلې حرکت وکړ او د حاجب بنديان مخ په ډيريدو وو. اوسنۀ بندې خانه يو رارو )کاريډور( و، چې په هرې خوا کې يې برنډه وه. پلار او موږ څلور ورونو يورارو په کډه لاره او نور يې د نورو سردارانو او خانانو لپاره وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په هغو کي د سردار شير علي ورونه او د هغو يو تربور )انور( هم و، چي تپي شوی و. درارو په غولي باندي يو عجب او نوم بدی شخص هم پروت و. عجب په دي چي شکل او ځان يي ډير ويروونکی و، اوږد قد يي لاره، له اوږدو غړيو سره، ږيره يي د ژړا ولي د ځانګو په شان په غير منظم ډول د هغه د سترګو له کونجونو نه لاندي ځړيدله او بيا د يوه بوتي په څير تر نامه يي رسيدله. سترګي يي چي نيمايي يي په وريځو سره پټي وي، د يوه وحشي ځناور د سترګو په څير ځليدلي. د پريړي خمتا يو لنډ کميس يي په ځان او دومره خيرن و، چي په سختۀ سره يي د توتي تميز کيده. خلاص او بي تنۀ کريوان يي د هغه د سيني او ږيري د ويښتانو يو مخلوط ښوده، چي له قد سره يي سيالي کوله او د لينکيو او ليچو ويښتانو يي د وزي ويښتان شرمول. له سر نه تر پوندو پوري يي ځان د پسه په خام اوږده پوستين پوښلی و. له غاړي نه يي دغسي زنځير راتاو و، چي ان تر بجلکو يي رسيده، چي شايد شپږ کيلوکرامه وزن يي درلوده. له موږ پنځو نه پرته ټول بنديان زنځير او غراب وو.

دغه سړی سدو نوميده، چي د يوه بل بدنامه داړه مار د دو ملګری و. دغو دواړو او د دوی په شان نورو د لته بند په هسکو او شاوخوا درو کي لاروي شکول، په کاروانونو باندي يي بريدونه کول او خاروي او پيسي يي ترينه خپلولي، سړي يي ترينه وژل او د هغو واړه او ښځی به يي خرڅولي. امير پخوا له دي چي کابل ته ستون شي، د کابل قوماندن [پروانه خان[ ته امر کړی و، چي دغه ياغيان له مينځه يوسي)[42]. د قوماندان عسکرو او سورو دغه سيمه احاطه کړه او د سدو او د دو په کډون يي ډير داړه ماران ونيول او امير ته يي د سوغات په توکه وليږل.

د تياري په خوريدلو سره به له خاص احتياط نه کار اخيستل کيده. بای محمد به بنديان د غولي دپاسه سره وتړل او قلف کړل او کلي به يي په خپل جيب کي واچوله او لاړ به. دغه کار بنديان په کړاو او بيخوبه کول. پلار چي په نسبي ډول يو څه امتياز لاره، د بنديانو په دفاع کي يي له حاجب سره په پرله پسي ډول دليل وايه. "دا چي هغوی په زنځيرونو کي دي او دلته يواځي يو ور دی، چي دولس سرتيري يي تر شا ولاړ دي، ته ولي هغوی له خوب او ارامتيا نه محروموي؟ په داسي حال کي چي د هغو پرار ناشونی دی." "دا زما کار دی او ته حق نه لري، چي زما په چارو کي ګوتي ووهي."

پلار په بيړه صراحي ته لاس کړ او د حاجب په لور يي په قوت سره ګوزار کړ. که يي ځان ګوښه کړی نه وای، نيغ به يي په سر لګيدلی او د سر کوپړۀ به يي ورماته کړي وای. د هغه په ځای يي په سينه ولګيد او ډير يي ودرداوه. هغه نيغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



امير ته د شکايت لپاره لاړ، امير څه ونه ويل، يواځې د احتياط او فکر خبري يې وکړې، خو کنداغونه ليري شول او بنديان يو څه ارام شول.

يو څو ورځې وروسته ژمى راغى او ساړه شول حتى ډنډ هم يخ ونيوه. ښاغلى سدو له خپلې ږيرې او وحشي قوارې سره په ځان فرض ګڼله، چې غسل وکړي. خپل د وړيو پوستين يې له خپلو اوږو نه ليرې واچوه او په داسې حال کې، چې خپله درنده او شرنګ او شرونګ لرونکې زولانه يې په ځان پسې خشوله، په بې پروايۍ سره د وره په لور روان شو. ساتونکي سرتيري ته يې يو څه وويل او هغه سمدلاسه د ډنډ غاړې ته وروست. سدو کالي وايستل او په داسې حال کې چې د زولانې په څوکه يې يخ مات کړ، پکې ننوت. د مذهبي رسومونو له مخې يې درې ځله په اوبو کې غوټه کړه، کالي يې بيرته په ځان کړه او په داسې حال کې چې يخ يې په ويښتو، ږيرې او ځان باندې اوبه کيده، بيرته بندي خانې ته راغى. نور بنديان مجبور شول په بخارۍ کې ډير لرګي واچوي، چې تود اور د هغه په انتظار کې وي. سدو بې له دې، چې د مننې يوه کلمه هم ادا کړي، د بخارۍ ترڅنګه کيناست او ځان يې تود او وچ کړ.

دلته د يادولو او اند کولو وړ ده، چې ملايانو او روحاني ښوونکيو ددغو ناايلو ا وقانون نه منونکيو خلکو په دماغونو کې څنګه سره متناقض تعصبونه ورننويستې دي. دى ويده کيږي، شهواني خوب ويني او خالي کيږي، چې په هغه سره هيڅ ګناه نه کوي، خو ملا صاحب بې د شرايطو له کتنې نه هغه واقعيت ګڼي او د غسل حکم ورته کوي او دغه حکم په دغسې عقيدې او اجبار سره اجرا کيږي، چې د سړو او کنګل پروا هيڅ نه کيږي. په عين حال کې هغه خلك کړوي، وژني، کورونه ورانوي او د مريو په نامحدودې سوداګرۍ بوخت کيږي. دغه ټول جرمونه په تينګه منع شوي دي، نه يواځې د اسلام په رښتيني دين کې، بلکې په نورو دينونو کې هم. سدو او د هغه په شان نور چې په ټول هيواد کې په زرګونو ميندل کيږي، په دې عقيده شوي چې د بد پر ضد حکمونه عين هغه دي، چې د ښو لپاره دي لکه په اصطلاح له شيطان غولولو نه وروسته، چې تلپاتې جنت يې انعام وي. که دا د مذهبي مکتبونو او روحاني مشرانو ملايانو له خوا نه وي، نو دغه جاهل او بې لارې شوي د بل چا له خوا او په څه ډول په ناسمه لار باندې رهي کړل شوي دي؟.

په پاى کې زما د معمولي پوښتنې په ځواب کې حاجب وويل چې "امير به په يوې اونۍ کې کابل ته ستون شي او تاسې به هندوستان ته وليږل شئ، خو باور وکړه چې تاسې به هلته هم بندي اوسئ. څه وخت چې باندنې جيل وانان ووينئ، بيا به په ما شکر وکړئ."

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته د انتظار هره ورځ د کال په شان وه، نوکرانو به هره ورځ مونږ ته له کور نه څيزونه راوړل، نن يې مونږ ته وويل چې سرتيرو بيبيانو ته خبر ورکړی چې "ځانونه اماده کړئ او څيزونه بار کړئ، ذاکر ته به لاړ شئ، چې هغه د هند په لور لومړی ګام دی." په دغه خبر سره خپګان او شورماشور جوړ شو، ما ويل چې "خپګان ولې؟" "عجبه پوښتنه! کورونه چور شوي دي او سردار او نور ټول په بندي خانه کې اچول شوي دي، تر هغو بده دا ده چې له خپل پلارني هيواد څخه شړل کيږي او د کاپرو له خوا بندي کيږي او ته بيا هم وايي چې ولې؟"

ما په ځواب کې وويل، چې "مونږ به بندي نه شو، حتی که بندي هم شو هغه به د هند په شان يو پراخ هيواد کې وي، چې د هغه ښارونه د کرکې وړ له دغې بندي خانې نه ښه دي. زه پوهيږم ځکه چې دا مې له لطيف او سوداګر نه دغسې اوريدلي دي."

"صاحبه! زه بايد درته ووايم چې کنيزې له خوښۀ نه په جامو کې نه ځاييږي." "هغوی ولې دومره خوښې دي؟" "وايي چې هندوستان د راج او ازاد ملک دی، همدا چې هلته ورسيدلو هغوی به د دوی ازادي اعلام کړي او دوی به ازادي شي."

مونږ يو ځل بيا په ظاهر کې له يوه تناقص سره مخ شو. د اسلام د ربښتيني دين له مخې همدا چې يو څوک په دغه دين له زړه نه مشرف شو، مريي توب لغو کيږي. "لا اله الا الله محمد رسول الله" مونږ دغسې وينـاوي هم مومو لکه "په اسلام کې مريي توب نه شته" او "د عدالت نوکر ښه چې ازاد اوسي." په اسلام کې برابری چې ټولو ته برابر حقونه منـي، تينګه ريښه لري. که ددغې اساسي اسلامي برابري رعايت په عام ډول شوی وای، د قانون له مخې به خاوند او مريي، شتمن او غريب نه وای او نړۀ به جنت وای، خو له بده مرغه په دي لاري کي کوښښونه بريالي شوي نه دي.

په واقع کې په اسلام کې دغه حقوقي فريضې [په افغانستان کې] تر شلو کالونو لږ دوام کړی او نن ورځ مونږ ددغسې يوه حال شاهدان يو، چې ځواني ښځينه مرياني ددي لپاره چې ازادي وي، غواړي بانـدني ملک ته په مهاجرت لاړي شي. دا چې مونږ د دوی ځېل کيده په نظر کې ولرو، د پوهاوي وړ ده. ه په خپل وار په زړه کې په يقين سره د دوی په خوښۀ کې ځان شريک ګڼم.

بل سهار د وختـه حاجب له يوه افسر سره راغی، هغه د يوه شپانه په شان چې خپل پسونه مشتري ته سپاري پخوا له دي چې مونږ يوه سپاره افسر ته وسپاري، وشميرلو. مونږ مننه وکړه او له سدو او نورو بنديانو سره مو خدای په اماني وکړه. مونږ چې له دغه ځايه وتلو، د خاصو سورو 16 سواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مورې سره يوځاى شول. په ذاكر كي دري ورځي پاتي شو، ددي لپاره چي نور هم د تللو لپاره هلته تول شي. په پاى كي مورې وخوځيدلو، خو څه يوه صحنه! دښځويوه شپيته كسيزه ډله، چي په هغو كي پينځلس بيبياني او نوري مرياني او نوري وي، له مورې سره يوځاى شوي. زه وګومارل شوم، چي د بي بي جان او ببوجان په نومونو د خپلو ميرو مسؤليت ولرم. دا لومړى ځل و، چي له ماشومتيا نه وروسته زه خپل دغه نږدي خپلوان وينم )د ورونو كورنۀ، حاضري او غايبي(. زه دوه كلن وم، چي كابل ته ولاړم او دوى په كندهار كي پاتي شول. كلونه كلونه مي هيله كوله او خوب مي ليده، چي كندهار ته او خپلي كورنۀ ته بيرته وګرځم، خو ما هيڅ فكر نه كاوه چي هغه به په دغسي ناوړي حالت كي وي. دا يو غم لړلى او زړه ماتوونكى پيوستون و، په خاص ډول زمورې ميندو ته ډيره ګرانه تماميده، چي له پينځلسو كلونو نه وروسته خپل ميړه د لوړ نسب يو سردار او د كورنۀ يو بچوړى او رسيدلى جوهر د بندي توب او درد په حال كي ويني. مورې ژړل، يو بل مو په غيږ كي نيول، لاسونه مو سره وركول او نرمي خوږي خبري مو سره كولي.

له دغو تودو احساساتو سره سره زر مي درك كړه، چي لويي كورنۀ په خاصه توګه هغوى، چي د سر سړى يي خو مايني لري، په خپلو كي خاص سياست او ديپلوماسي كوي. د بيلګي په ډول هره مايينه په مهارت او هوشيارۀ سره هڅه كوي، چي د ميړه په زړه كي ځاى ونيسي. زمورې په قضيه كي زه د پلار د منلي په توګه سمدلاسه د خاصي توجه مركز شوم. )دغه حقيقت چي زه ناروغ او له خپلي سكه مور نه محروم شوى وم، هم رول لاره.( هر هغه څه چي زړه مي غوښتل، لرلى مي شوه. ميرو مي ددي لپاره چي په خپلو سياليو سره د پلار زړه خپل كړي، په تودوشي او مهرباني كولو كي تر يوي بلي نه زياتى كاوه. زمورې په كاروان كي نوري كورنۀ هم وي لكه د سردار شير علي كورنۀ له پنځوسوښځواو بي شميرو ښځينه مريو او كنيزو او مريانو سره. هلته د تره زوى انور، د هغه كورنۀ او له ښځويا بي له ښځوسره ځيني خانان هم وو. اسلم چي د يوولسو كلونو او يو خپلوان و، يواځينى كس و چي زما نږدي ملګرى شو. د سيمي جګ او خواخوږى خو د انتقال يوه د ډاډ وړ وسيله وه. يواځي د اسلم نيا او يوي بلي ميرمني چي له اتيا كلونو نه اوښتي وه، يو اوښ لاره. د تره زوى انور هم يو اوښ او هم يو اس لاره او ددي لپاره، چي پلار خوښ كړي، ماته به يي په هغو باندي د سپريدلو اجازه راكوله. هر سهار مورې د سورو تر څارني لاندي خوځيدلو او دوى په تورو او نيزو سمبال وو. دا چي د هغوى وسلي د كار نه وي او اسونه يي هم پياوړي نه وو، د خالق ياغي طبيعت يي هڅاوه، هغه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل چې "که د پلار ډار نه وای ما به دغه خرکاران لاندې کړی او له اسونو او وسلو سره به تښتيدلی وای."

اوس به د سفر موضوع پريږدم او د کندهار له دوو نامتو ملايانو سره به د امير په چلند وغږيږم. سردار محمد ايوب دوی اړ کړی و، چې فتوا ورکړي چې له امير عبدالرحمن سره جنګيدل به داسې وي لکه د کاپرانو پر ضد جهاد وي. دغه قصه موږ په بندي خانه کې واوريدله.

د مبارکې خرقې په مخ کې د هغو وژنه د افغانستان په تاريخ کې يو بيساری عمل و. په دغه کار سره د هغه د پناه غوښتلو هغه رواج نقض کړ، چې خلکو په خرقه او نورو زيارتونو کې پناه موندله. د ګناه دغه بدعت په واقع کې د جزا په اړه د مذهبي او مدني قانونو د استعمال رسم له مينځه يووړ.

امير عبدالرحمن د جمعې له لمانځه نه وروسته په داسې حال کې چې د جومات نه دباندې ولاړ او توره يې په لاس کې وه، امر وکړ چې مولوی واسع چې يو تن من سړی و او نکريزي رېږه يې لرله، ورته راوړل شي[43]. عبدالرحمن په عربي کې کلمه ورته په لوړ اواز وويله. "ملا! ښه غوږ ونيسه." بيا يې خپلو ملګرو او سرتيرو ته کړه، چې دوی هم کلمه ووايي. غبږ يې په کبندې او ډيوډۀ کې هيبتناك انعاکس وکړ. په داسې حال کې چې روحانيانو او ديني پوهانو ته يې کتل، امير وويل چې "ستا ديني حکم څه دی؟ موږ خوك يو؟" "تاسې ټول مسلمانان يئ، سوچه مسلمانان!" "ښه بيا نو ستا حکم د هغه چا په اړه څه دی، چې په هغو معتقدانو باندې د کفر حکم کوي، چې نه يوازې په خپله مسلمانان دي، بلکې تير شوي يې هم مسلمانان دي؟" دغه نامتو مولوی په ځواب کې وويل، چې "د اليأس د تفسير له مخې هغه کس کاپر دی." هغه دا هم وويل، چې "ما دغسې فتوا ورکړې نه ده، چې په هغې کې مې د تا يا ستا د سرتيرو نوم اخيستی وي." "ټول هغه څه چې ما ويلې دي، دا دي چې له کفر سره مرسته کول، بيدينې ده. زه پوهيدم چې که مې دغومره نه وای ويلې، ايوب به زه په کړولو سره د هغه لاسليك کولو ته اړ کړی وای."

امير په غضب سره چيغې کړې، چې "څنګه مې له کاپرو سره مرسته کړې وه؟ په يقين سره نه د کندهار سردار شير علي په شان او نه د کابل محمد ولې يا د پيښوري سردار په شان، چې د کاپرانو پر خوا له مسلمانانو سره وجنګيدل. زه راغلم، چې هيواد د بانډنيو له اشغال نه ازاد کړم. اوه، ته لعنتې! ته، نه زه کاپر يم." بيا يې خپله ققفازي توره له تيکې نه وايستله، يو کام دمخه شو او د ملا په شي اوږه يې په دغسې قوت سره ګوزار وکړ، چې هغه له کمره نه دوه ځايه شو. بيا يې امر وکړ، چې هغه بل مولوی عبدالرحيم ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړاندي کړي. په يوه وار سره يي د هغه سر له ضعيف بدن نه بيل کړ او د فوتبال د توپ په شان يي وړاندي وغورځاوه.

دغو وژنو او د پلاربندي توب د کندهار د وړو او زړو په زړونو کي ويره واچوله. د وروستۀ پيښي اهميت ځکه غټ شو، چي پلار د کندهار په حاضرو سردارانو کي يو وتلى کس و. امير ته د هغه نږديوالى او د هغه احساسونو ته د هغه درناوى ټولو ته معلوم و. له امير سره کندهار ته د هغه ملګرتوب د هغو په زړونو کي هيلي غوړولي وي. په پاى کي د هغه، هغه تينګ کوښښونو ته د هغو په دفاع کي، چي د خپل رضايت پرخلاف په جنګ کي ښکيل شوي وو، د قدر په سترګه کتل کيدل. نو امير عبدالرحمن دغي پايلي ته ورسيد، چي که اول يي د سردار غلام محمد طرزي چاره کړي نه وي، د هغه لپاره به د اصلاحاتو عملي کول ناشوني وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرحد ته رسيدل

## (د 1882 کال اول)

دغه سفر چې په عادي ډول څلور ورځې نيسي، موږ په لسو ورځو کې پای ته ورساوه، ځکه چې زموږ کاروان د خرو او. موږ په پای کې عبدالله کلا ته ورسيدلو، چې زموږ د هيواد اخره برخه ده، چې زموږ د ځپل کيدلو له امله موږ ته له ليري نه د يوه هيبتناك اعراف يا د ګناه توييدلو ځای په شان ښکاره شو. زموږ ساتونکي خوښ شول، چې دوی وکولی شول موږ مقصد ځي ته ورسوي، بې له دي چې څوك تښتيدلي وي، خو د دوی غرور او خوښي پوره بيځايه او بې دليله ښکاره شوه. ښځينه مرياني او مريان خوښ وو، چې خپله خپلواکي به ترلاسه کړي، په داسي حال کې چې خاوندان او بيبياني خپه وي، ځکه چې هغوی خپله شتمني او ځمکي له لاسه ورکوي. حقيقت دا دی، چې په دغه کاروان کې هيڅ يو )زما په کډون( د هيواد لپاره احساسونه، نه لرل. د برتانيي د نفوذ او قدرت په هسکيدو او په افغانستان کې د هغو په خوريدلو سره د هيوادپالني، ازادۍ او خپلواکۍ ايډيالونه د خلکو له ذهنونو نه ورو ورو وتلي وو. دا ډير وروسته و، چې هغه بيرته ژوندي شول. ما له ښځينه مريو سره خواخوږي کوله، خو تر هغه زيات ما غوښتل هغه هيواد ترك کړم، چې بې له کوم څرګند دليل نه يي ځومره ډير دردولی وم.

زموږ کرنيل، چې خپل توند او غوڅ امرونه يي په زوره ورکول، اړ کړو چې سبا د وختته تيار اوسو. له دغي ويري نه چې هسي نه په دغي بيطرفي سيمي کې له موږ نه څوك وتښتي، له برتانويانو نه يي وغوښتل، چې د انتقال لپاره راشي. د هغه د غوښتني پروا ونه شوه، ځکه چې د افغان په خاوره کې د برتانويانو ننوتل غير قانوني وو. موږ چې له بيطرفي سيمي نه سرحد ته واوښتو، دري ملکي سواره چې اوږده لنکوتي يي په سر او عادي خاکي دريشي يي په ځان وي، راښکاره شول. يو يي زموږ خوا ته راغی او وويل چې "زه ددغو برخو د محصول ټولوونکی يم."

کرنيل:" زه د هژده نهر کرنيل ياور يم، ما بنديان راوستي دي او رسيد غواړم."

محصول ټولوونکی:" ماته هدايت دی چې هغوی تسليم کړم او د چمن تر نظامي هدي پوري اوبه او خواړه ورته ورسوم."

کرنيل چې په ناوړو او طعنه يي کلمو سره غړمبيده، وويل چې "د ماليانو مامور صاحبه! ستا په خبرو زموږ سر نه خلاصيږي، زه به دغه بنديان يو په يو درتسليم کړم، ته يي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شميره او رسيد راکړه. خبره نوره خلاصه ده."

مامور: "زه او ته پسونه، نه اخلو او نه خرڅوو، چې زه يې يو يو وشميرم، بنديان پرېږده او په خير سره ستون شه."

هغه د يوې توتي کاغذ له پاسه زموږ د رسيدلو يو څو کرښي وليکلي او ليک يې کرنيل ته ورکړ "صاحبه! دغه دی رسيد."

کرنيل پوهيده، چې د دوو بې وسلو مامورانو په وړاندي څه شی نه شي کولی، نو په دي ډول وغړمبيده"اوه! که د امير عبدالرحمن له ډار نه، نه وای ستا د ژوندانه قمچيني به مي درکړي وای."

هغه په خپلو سورو باندي غږ کړ، چې بنديان وشميري، چې باوري شي چې څوك تښتيدلي نه دي بيا يې نو خپل سړي قطار ودرول او د ستنيدو امر يې ورکړ.

په دغه ډول زموږ د خپلو خلکو له خوا او زموږ له خپل هيواد څخه باندنيو ته او په باندني ملك کي زموږ د انتقال ډرامه پای ته ورسيده.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يادښتونه

*د محمود طرزي ليکنه په فارسي ده، حميد طرزي هغه په انګريزي اړولې، چې ما په دغه ډول پښتو کړې ده. د حميد طرزي د يادښتونو په اخر کې د هغه نوم ليکم او خپل يادښتونه بې نومه پرېږدم.*
"محمد حسن کاکړ"

1. ددغې لومړنۍ فقرې اخري جمله په يقين سره په خپله د محمود طرزي نه ده، ځکه چې هغه په کال **1933** زېږديز کې مړ شوی و.
2. د افغان_انګليس په لومړي جنګ کې د انګريز پوځ د کابل_جلال اباد په پخوانۍ لار کې د **1942** کال په ډېر سخت ژمي کې د شاوخوا خلکو ياني د غلزيو له خوا د غازي محمد اکبر او محمد شاه بابکرخيل په سروالۍ له مينځه وړل شوي، يو شمير يې يرغمل شوي او يواځې جراح ويليم برايډن په نيم ژواندي حالت کې جلال اباد ته ورسيد او هلته يې بل انګريز پوځ، چې د جنګ په سر کې ديره شوي وو، په موضوع خبر کړه.
3. امير هغه د "منلي پوه" په لقب ياد کړ او د کال **120000** روپۍ يې ورته معاش وټاکه. )حميد طرزي(
4. امير دوست محمد د پيښور د بيرته نيولو لپاره ډېر کوښښونه وکړل، خو په خپلو کوښښونو کې پاتې راغی.

**4** )الف(: دغه پيښه چې د غلزي کلات په کج باز کې شوي ده، په کال **1863** کې نه، بلکې په کال **1865** کې شوي وه.

5. د امير شير علي په واکمنۍ کې په کابل، کوهدامن او نورو ځايونو کې الکولي خښني او واين )WINE( جوړيدل، خرڅيدل او څښل کيدل. د امير او نورو ډلو واين او نڅاکرې لرلې. (حميد طرزي)
6. نظامي څانګه له يو شمير سردارانو او مشرانو نه جوړه وه، چې هغو ته مواجب ورکول کيدل او هغوی له پنځوسو نه تر سلو پورې سواره ساتل. هغه نورې دوه څانګې د پليو، سورو عسکرو او توپخانې وې او خاص کنډکونه د ژاندارم وو. (حميد طرزي)
7. روسان وروسته له هغه، چې د کريميا په جنګ کې په )**1854_1856**( کې د نورو اروپايي هيوادونو له لاسه مات شول او مديترانه يې په مخ کې د ازاد تګ راتګ خنډ وګرځول شو، منځنۍ اسيا ته په تينګه مخه وکړه. په کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



1868 کې يې بخارا لاندې کړه او د امو غاړې ته ورسېدل او په دغه ډول د افغانستان ګاونډي شول.

8. د محمود طرزي دغه وينا صحيح نه ده، د شاه شجاع دويمه واکمني، چې له نظره وغورځوو ځکه چې افغانانو هغه زر له افغانستان نه د انګريزي پوځ په ايستلو سره پای ته ورسوله. افغانستان تر 1880 پورې له باندني او دننني خپلواکۍ نه برخمن و. دغه حقيقت له هغو تړونونو نه هم ځرګند دی، چې د امير دوست محمد او برتانوي هند حکومت ترمينځ په کال 1855 او 1857 کې وشول. طرزي هم په ضمني ډول د روسي جنرال ستالي توف په راتګ سره د امير شير علي په وخت کې د افغانستان په پوره خپلواکۍ اعتراف کوي. انګريزانو چې د 1878 کال په نومبر کې په افغانستان باندې په نظامي يرغل لاس پورې کړ، په اصل کې ددې لپاره و چې امير شير علي نه غوښتل خپله باندنۍ خپلواکي د هغو په غوښتنه محدوده کړي.

9. د امير شير علي په دويمې واکمنۍ کې په کال 1876 کې د هند برتانوي حکومت د قلات خان، چې د احمد شاه درانی له وخت راهيسې د افغانستان تابع و. د يوه توافق ليك له لارې تر خپل نفوذ لاندې ونيوه او له بولان او کوټې نه يې چې د افغانستان خاوره وه، د افغانستان د حکومت لاس لنډ کړ، خو خيبر د امير شير علي په واکمنۍ کې د افغانستان تر حاکميت لاندې او چترال ازاد و. خيبر وروسته د ګندمك په تړون سره د برتانوي هند حکومت لاس ته ورغی او دا کلونه وروسته په کال 1995 کې و، چې انګريزانو چترال لاندې کړ.

10. سردار محمد يعقوب له 1874 نه تر 1878 پورې د کابل په بالاحصار کې څلور کاله بندي و، نه شپږ کاله.

11. د ګندمك په تړون سره افغانستان له کرمې نه، چې يوه برخه يې وه، تير شوی نه و. داسې هم له پښين او سوي يا سبي څخه تير شوی نه و. په دغه تړون سره ددغو سيمو اداره د انګريزانو لاس ته ورغله او هغوی منلې وه، چې د افغانستان د امير په نامه به دغه سيمې اداره کوي او اضافي عوايد به يې افغانستان ته ورکوي. دغه سيمې انګريزانو وروسته له عبدالرحمن سره د لومړيو مذاکرو په وخت کې تصرف کړې.

12. له لويي کوکناري سره د هغه منشي، طبيب او نظامي اتاشه او 25 سواره او 50 پلي عسکر د امير محمد يعقوب د هستوګنځي تر څنګه د امير محمد اعظم په حويلۍ کې د 1879 کال د جولای په 24مه ميشته شوي وو.

13. د محمود طرزي ددغه پاڅون د لامل تشخيص سم نه دی، يا لږ تر لږه د هغه دغه تشخيص ساده دی. دا سمه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د معاش موضوع د عسکرو لپاره سملاسي محرك شو، خو دا په اصل کې په ډګر کې د ګندمك د تړون پلي کيدل، په حکومتي چارو کې د کوکناري لاس وهنه او له هغو سره د سردار محمد ايوب، ډيرو نظامي افسرانو او نورو مخالفت وو، چې د هغو افسران او د کابل خلك يې د پاڅون لپاره وهڅول. دغه موضوع ما د هغه وخت د رسمي او نورو رپوتونو پر بنسټ چې په لندن کې مې د انډيا افس )اوس د برتانيي کتابتون( نه راټول کړي وو، په خپل يوه اثر "جنګ دوم افغان_انګليس" کې په قانع کوونکي ډول بيان او شرح کړي ده. دغه اثر، چې په اصل کې مې د پوهاندۀ رتبې لپاره ليکلی و، په کال **1989** کې په پيښور کې د افغانستان د ملي اسلامي محاذ له خوا خپور شوی دی.

**14.** د محمود طرزي دغه وينا هم سمه نه ده، چې امير محمد يعقوب د پاڅون په وخت کې څه ونه کړل. هغه لومړی خپل د پوځ سپاه سالار داود شاه، بيا خپل خسر سردار يحيی، له خپل واړه زوی سردار موسی جان او بيا جنرال عبدالکريم د غلزيو او کوهستان له يو شمير مشرانو سره پاڅون کوونکيو ته واستول، خو پاڅون کوونکيو د هغو په خوله ونکړل. وروستيو لا هغوی وهڅول چې " خپل کار زر خلاص کړئ." پاڅون کوونکيو ته لا د شپږو مياشتو معاش ورکولو وعده هم ورکړل شوه، خو هغوی سره له دي هم خپل پاڅون ته دوام ورکړ. په دغه ډول د معاش موضوع د پاڅون اصلي انګيرنه، نه بلکې يوه پلمه وه. د تفصيل لپاره وکتل شي، زما کتاب "جنګ دوم افغان_انګليس" ياد شوی اثر، **59_60**مخونه.

**15.** د جنرال رابرتس په وينا **97** افغانان او د محقق فريدرك هري سن په وينا **122** کسه د کوکناري او د هغه د ملګرو په بدل کي غرغره شوي دي. پورتنی اثر، **82**.

**16.** د محمود طرزي د ليکنې پرخلاف د امير خسر سردار يحيی، چې د پاچا محمد نادر نيکه و، د انګريزانو مخالف و. په هغه وخت کې په محمدزي سردارانو کې دوه ډلې هسکي شوي وي، يوه يې د سردار ولي محمد، د امير محمد يعقوب د تره په مشرۀ انګريزي پلوه او بله يې د سردار يحيی په مشرۀ د انګريزانو مخالفه وه. لومړنۀ ډلې ته خلکو "کوکناري زي" او بلې ته "يعقوب زي" ويلې. کاکړ، پورتنی اثر، **52**مخ.

**17.** د محمود طرزي دغه خبري سطحي دي. يعقوب خان د همدغه کال په پای ياني دسمبر کې هند ته تبعيد شو او سردار محمد ايوب د بل کال په جون کي ياني شپږ مياشتي وروسته له هغه نه، له خپل پوځ سره له هرات نه د کندهار په لور روان شو او د جولای په مياشت کې يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميوند په دښته کې انګريزي پوځ ته ماتې ورکړه.

18. دا پخوا له هغه و، چې هغه به د انګليس د استخباراتو له خوا کنترول شوی وي.

19. محمد جان وردك دمخه د عسکرو له خوا غټ مشر يا جنرال غوره شوی و. په دې ډول محمد جان وردك د افغانستان لومړنی غوره شوی جنرال دی. ده له افغانستان نه د انګريزي پوځ تر وتلو پورې د پښتنو او تاجکو د يو موټي کولو لپاره د غزا په نامه بېخي ډېر کوښښونه وکړل، چې د هغو له امله خلکو ورته د يوه پير په شان درناوی کاوه.

20. جنرال رابرټس په اوله درجه "کوکناري زي" او نور انګريزي پلوه سرداران په واك کړل، له "يعقوب زي" سردارانو نه يې لرې هغه هم په اطراف کې په مقامونو وګومارل.

21. د ميوند په جګړه کې د مك لين په نامه يو انګليس بندي له افغانانو سره و، چې هغه هم وروسته ووژل شو، نور يې شايد په هماغه اول سر کې وژل شوي وي.

22. له انګريزانو سره د جنګ افغان اتلان د فارسي او پښتو په ولسي شعرونو کې هم ستايل شوي دي:

محمد جان خان مرد ميدان است
ايوب خان شير غران است
مير بچه خان رس رسان است
آزادي فخر افغان است
راپت کل لات کلان است
بيا بيا در انګور بخو

)غبار، مير غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ، موسسه چاپ کتب، کابل **1967**، **624**(.

يعقوب خان يې ونيوه زما وروره
نور يې زر کوز که له لاهوره
اوس د خاوند کارونه ګوره
شاباش په محمد جان ښه پور يې وګاته عالمه
پوځونه يې کړل جمعه

محمد جان وکړله توره
ده په هرځای کې مشهوره
که خپل خاوند ته شي مشهوره
راوي شکه پرنګي کړو له خيبره يې بهار
خاوند که تار په تار

محمد جان خان وکړ مطلب
راضي په ده باندي و رب
دی په هرځای کې يې دبدب
خپه پري پرنګيان شول سترګي يې ډکې دي له نمه
پوځونه يې کړل جمعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرنګيان راغله په ماتي
کولي به دوی زياتي
کابل ښه له دوی پاتي
شاباش په محمد جان ښه مدام به و خوشرنك
اختيار کوي د جنګ

)باغ و بهار، د پښتو چاربيتي، تاليف قاضي عبدالحليم اثر افغاني سالارزی، خپرونه د پښتو اکاډمي، پېښور يونيورستي، **2006**، **156**. په دغه اثر کې د پېښور د شاوخوا شاعرانو چاربيتي راټولي شوي دي. له محترم ډاکتر فضل رحيم مروت نه مننه کوم، چې د هغه يوه نسخه يې ماته ښېلی ده.(

**23.** لکه چې په دويم لمبر يادښت کې راغلي، د انګريزانو دغه پوځ د کابل او کندمك ترمينځ له مينځه يوړل شول. دغه پوځ له **4500** منظم انګريزي سرتيرو او **12000** هندي خدمتکارو نه جوړ و. دري سوه تنه يې يرغمل ونيول شول او يو څه نامعلوم شمير يې په کليو او بانډو کې خواره شول او يواځې يو تن جراح ويلیم برايډن ځان په نيم ژواندي حال کې جلال اباد ته ورساوه او هلته يې انګريز پوځ له دغه مصيبت نه خبر کړ.

**24.** د محمود طرزي د ليکنې پرخلاف سردار محمد ايوب د ميوند له بريالي جنګ نه وروسته د کندهار له پوځي قوماندان جنرال پرم اوزر سره د بې بې هوا له لاري، چې د سردار رحيم دل کونډه وه او دغه انګريزي جنرال يې خپل "زوی" بللی و، د خبرو ور پرانيست او هغه ته يې مهلت ورکړ، خو مهلت لا پای ته رسيدلی نه و، چې جنرال رابرتس له لسو زرو غوره شوي پوځ سره له کابل نه کندهار ته ورسيد او د سردار محمد ايوب پوځ ته يې ماتي ورکړه او هغه بيرته هرات ته په شا شو.

**25.** انګريزانو يا په دقيق ډول د هند برتانوي حکومت، د سردار عبدالرحمن په اړه د روسيي حکومت ته په دې اړه، چې افغانستان ته د هغه راتګ اسان کړي، ليك استولی نه دی، خو څه وخت چې امير محمد يعقوب له خپلو ځينو لوړ رتبه مامورانو سره هند ته واستول شو، سردار عبدالرحمن په خپل نوښت او د روسانو په هڅوني سره د کولاب له لاري د **1880** کال په جنوري کې بدخشان ته راغی او چې خان آّباد ته ورسيد او انګريزان يې په راتك خبر شول، په کابل کې د انګليس سياسي استازي "ليپل کريفن" د خپل حکومت په امر دري افغانان ورواستول او د امير کيدو لپاره يې ورسره خبري پيل کړي.

**26.** سردار عبدالرحمن د جولای په **20**مه د افغان مشرانو له خوا په چاريکارو کې نه، په بدخشان کې د امير په توګه غوره شو. تر هغه دمخه د سردار او انګريزانو ترمينځ د هغه د امير کيدو په اړه سره موافقه شوي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



27. د محمود طرزي دغه وينا هم سمه نه ده، امير عبدالرحمن په خبرو کې له انګريزانو نه په ټينګه وغوښتل، چې دی بايد د امير دوست محمد د وخت افغانستان امير وي، خو انګريزانو ورسره ونه منله. انګريزانو له امير سره حتی هغه افغانستان هم ونه مانه، چې د ګندمك په تړون سره يې منلی و. امير عبدالرحمن له انګريزانو سره له کندهار او هرات نه پرته يوازې د "شمالي افغانستان" په نامه امارت منلی و. وروسته دا د ميوند د جګړې زور او د انګريزي پوځ ماتې وه، چې انګريزانو کندهار چې د والي سردار شير علي په کورنۀ کې يې "خپلواك" اعلان کړی و، امير عبدالرحمن ته د 1881 کال په اپريل کې تسليم کړ. امير د همدغه کال په سپتمبر کې فاتح سردار محمد ايوب چې کندهار يې بيا نيولی و، په کندهار کې مات کړ او هرات يې هم له ملك سره يوځای کړ او ټول افغانستان يې سره يو موټی کړ او يو ټينك مرکزي حکومت يې پکې په پښو ودراوه.

28. دلته د محمود طرزي "د معمول په شان" افاده بيځايه ده. لکه چې دمخه ويل شوي، افغانستان د امير دوست محمد او د هغه د زامنو په واکمنۀ کې خپلواك و او يوازې د امير عبدالرحمن په وخت کې يې باندني روابط د انګريزانو له لارې ترسره کيدل.

29. د اد انګريزانو په مقابل کې د اپريديو پاڅون ته اشاره ده. پاچا محمد نادر له دينه ډېره وکړه، چې د هغو ملاتړ وکړي او په کابل کې يې د هغو جرګه د ميلمنو په شان د يو څه وخت لپاره وساتله.

30. سرنيوال چمبرلين هغه څوك دی، چې تر جنګ نه دمخه بايد کابل ته تللی وای. (حميد طرزي)

31. واقعيت دا دی، چې د ذمې په دوه ورځنۀ غونډه کې )31جولای_اکست1، 1880( د امير عبدالرحمن او د برتانوي سياسي استازي ليپل ګريفن ترمينځ کوم تړون شوی نه دی. په دغه وخت کې د هند برتانوي حکومت شك لاره، چې امير به د سردار محمد ايوب په مقابل کې بريالی شي. سردار محمد ايوب وروسته له هغه، چې د جولای په 27مه يې د ميوند جګړه کټلې وه، په کندهار ښار کې يې د انګريز پوځ محاصره کړی و. په دي ډول کندهار او هرات د هغه په کنترول کې و. امير عبدالرحمن سره له دي، چې له انګريزانو سره يې د تړون کولو لپاره ټينګار وکړ، ليپل ګريفن د تړون لپاره حاضر نه و. د تړون پرځای يې هغه هم په پټه امير ته يو ليك ورکړ، چې په هغه کې انګريزانو دغومره منلي و، چې که په افغانستان باندي له پارول کيدو نه پرته يرغل وشي، له امير سره به د يرغل په شا کولو کې مرسته وکړي، خو چې امير د خپلو باندنيو اړيکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجرا هغوی ته پرېږدي. ددغو دوو ورځو د خبرو ټول متن او جريان په لسو مخونو کې د ليکونکي په دغه اثر کې نيول شوی دی: کاکړ، افغانستان، د داخلي سياسي انکشافونو مطالعه، **1880_1896** لاهور، **1971**، **261_280**. د طرزي د ياد شوي تړون له مادو نه يواځې پېنځمه يې په ذمه کې د دوارو خواوو له خوا منل شوي وه. دا سمه ده، چې د دريمې مادې له مخې د افغانستان باندنۍ اړيکې امير ته په سپارل شوي ليک کې د برتانوي هند حکومت ته منحصر شوي وو، خو نه په هغه ډول چې د امير دوست محمد په وخت کې و. له دغه ليک او وروسته د ډيورنډ له توافق ليک نه پرته د امير عبدالرحمن او برتانوي هند حکومت ترمنځ د هغو د اړيکيو په اړه نه کومه بله موافقه او نه کوم بل تړون لاسليك شوی دی. ددغه ليك ټول متن د ليکونکي په يوه بل اثر کې، چې تازه چاپ شوی لوستل کيدلی شي: کاکړ، د افغانستان سياسي او ديپلوماتيك تاريخ **1863_1901**، د برل خپرونه، هاليند، لندن، **2006**، **167_168**.

**32.** لکه چې دمخه ويل شوي، افغانستان له اول افغان_انګليس جنګ نه تر دويم افغان_انګليس جنګ پورې خپلواک هيواد و. امير شير علي خپله واکمني په اصل کې له دي امله بايلله، چې د انګريزانو د غوښتني پرخلاف حاضر نه شو، چې افغانستان له باندني خپلواکۍ نه محروم وي.

**33.** دا يو ډير زيږ او په واقع کي يو ناسم حکم دی.

**34.** "تاج التواريخ" په اصل کې د منشي سلطان محمد په قلم د امير عبدالرحمن ژوند ( The life of Adbur Rahman( د انګريزي متن ترجمه ده. دا امير عبدالرحمن و، نه امير حبيب الله، چې سلطان محمد يې چې د هغه منشي و، په کال **1894** کې د هغه د ليکلو لپاره وګوماره. ددغه کتاب بله مهمه ځانګړتيا دا ده، چې د هغه وروستۍ برخه يا دويم توګ په لندن کې جعل شوی دی. ددغه ټول کتاب په اړه ما په خپل يوه بل اثر کې په تفصيل او مستند ډول بحث کړی دی: کاکړ، په افغانستان کې حکومت او ټولنه، د امير عبدالرحمن واکمني، په استين کې د تکساس پوهنتون خپرونه، **1979**. استين، لندن، **246_249**.

**35.** په دغه وخت کې انګريزانو فيصله کړي نه وه، چې کندهار به امير عبدالرحمن ته سپاري. کندهار دوی له اوږده بحث نه وروسته د **1881** کال په اپريل کې امير ته وسپاره.

**36.** امير عبدالرحمن په خان اباد کې د پوځ خاوند شوی و، په دغه ډول چې د مزار هغه پوځ، چې قطغن ته استول شوی و، هغه ته تسليم شو. د امير د بريالي توب غټ راز

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا و، چي دی د پوځ د تنظيمولو متخصص و او د خپلي واکمنۀ تر پايه پوري يي نږدي يو لك منظم پوځ تنظيم او په ډول ډول عصري وسلو سمبال کړی و.

37. محمد جان وردك، چي د انګريزانو په مقابل کي يي د ملي مقاومت په دوره کي بيساري فعاليتونه وکړل او د هغو له امله عامه خلکو د پير په شان د هغه لاسونه ښکلول د **1881** کال په پای کي په کوتل ابدو کي د عبدالغفور اخوندزاده او نورو په ګډون د امير په حکم ووژل شو.

**37** )الف(: د طرزي دغه وينا هم سمه نه ده. د امير دغه مايينه د روسي ترکستان د کوم مشر لور نه وه، هغه په اصل کي د بدخشان او د امير د هغي ښځی وينځه وه، چي د بدخشان د يوه نامتو مير، مير جهاندار شاه لور وه. ددغي ميرمني له مرګ نه وروسته امير د هغي وينځه، چي ګلريز نوميده، په نکاځ کړه. امير حبيب الله او سردار نصرالله ددغي بدخشانۀ ميرمني زامن وو.

38. څرخ د قوم نوم نه دی، په لوګر کي د يوي سيمي نوم دی. دغه غلام حيدر په قوم يوسف زی و.

39. هرات د کندهار له سقوط نه لس ورځي وروسته د اکتوبر په دويمه نيول شوی و.

40. دغه تاکونکي پيښه د **1881** کال د سپتمبر په **22**مه وشوه، چي ما په خپلو دوو اثرونو کي بيان کړي ده. د سردار محمد ايوب پوځ اوولس زره او د امير دا څوارلس زره و. د سردار پوځ د امير په پوځ يرغل وکړ او لومړی بری يي هم ترلاسه کړ. مخکي هم ويل کيده، چي د سردار پوځ به بريالی وي، خو په عين جنګ کي وضع اپوته شوه. د ښتي په تودوښي کي د سردار د شاليکو سرتيرو د خپلو مخکي ليکو پر سرتيرو ناڅاپه ډزي وکړي، چي د هغو له امله ټول پوځ په شا او تيت شو او د امير پوځ په دي ډول بريالی شو. دغه بري امير په دي بريالی کړ، چي له ميمني نه پرته ټول افغانستان سره يو موټی کړي. په کال **1884** کي يي ميمنه هم وکتله. سردار محمد ايوب غازي اول مشهد ته او بيا په **1887** کي له خپلو اتو سوو پلويانو سره د فارس او هند حکومت په موافقه د عراق او کراچۀ په لار لاهور ته لاړ او هلته هستوګن شو او په کال **1914** کي د زړه په يرغل مړ شو.

41. لوی طرزي په ښه ليکلو کي جوړه نه لرله. (حميد طرزي)

42. سدو، چي په اصل کي کړوخيل غلزی و، په رښتيا يو ويروونکی ياغي او داړه مار و. دی به يا له بندي خاني نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشـــي شـــوی يـــا تبـــتيدلی وي، چـــي څـــو کالـــه وروســـته لـــه ســـردار نـــور محمـــد او نـــورو ســـره د اميـــر پـــه مخالفـــت لـــه شـــنوارو ســـره ملګـــری شـــو. ســـردار نـــور محمـــد د ســـردار ولـــي محمـــد زوی و، چـــي د انګريزانـــو لـــه خـــوا د کابـــل والـــي ټاکـــل شوی و او خلکو "لاټي سردار" باله.

**43**. اميـــر عبـــدالرحمن د ســـردار محمـــد ايـــوب لـــه مـــاتولو نـــه وروســـته د کنـــدهار لـــه خرقـــي نـــه پـــه خپـــل امـــر يـــوائي يـــو مولـــوي وايســـت، چـــي هلتـــه يـــي د رواج لـــه مخـــي پنـــاه وړي وه. دغـــه مولـــوي عبـــدالرحيم )کـــاکړ( نوميـــده، چـــي د تـــاريخپوه عبـــدالحی حبيبـــي پـــلار و. ســـلطان محمـــد، د عبـــدالرحمن ژونـــد، لـــــومړی تـــــوك، **216**. کـــــاکړ، د افغانســـــتان سياســـــي او ډيپلوماتيکي تاريخ، **61**.

✵ ✵ ✵

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**